


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالی......

دا ناول دي ګران ملګري محمد داود رحماني او
خور زينب علي ته ډالی وي چي هر وخت يي زما
ملتيا کړيده او دا ناول د دوي سره زما د يو تړون
لمخې تاسو ته آنلاين د دوی لخوا ډالی سويدی.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب په اړه


کتاب.................................زمور نیمګړي مینه

لیکوال.......................................نیک محمد بارک

کمپوز او ډیزاین...................... نیک محمد بارک

کره کتنه................................محمد داود رحماني

د چاپ کال.......................................۲۰۲۱ع

د چاپ شمیر...................................۱۰۰۰ توکه

خپرندویه ټولنه..........................بارک خپرندویه ټولنه

د خپرونو لړ...................................پنځم

د لیکوال سره تماسونه..........................



موبایل او واټسف:................................ 0702110371

آیمل پته:.......................naikbarak786@gmail.com



**یادونه:** د کاپي رایت د قانون مطابق هیڅوک دا حق نلري چي د لیکوال د اجازې پرته د هغه کتاب په شخصي توګه استفاده، چاپ او په خپل نوم خپور کي.




Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظر

لومړی د هر څه مخکې ټولو لوســـتونکو ته السـلام علیکم ورحمـة الله وایم ځوان او تـاند لیکوال نیـک محمـد "بـارک" صـاحب راڅخه غوښـتنه کړي وه چي باید پر همدي ناول یي کره کتنه وکم او نظر ورکم ناول مي وکتی په ډیر ښـایسته او فصیح انداز جوړ سوی وو که څه هم بارک صاحب تل وایي چي زما په ناولونو کي د ناول قوانین چنداني نســـته خو چي کله مي ووایه نو په دومره ځوانۍ او کم عمر کي دا یو راته معجزه معلومه ســوه چي څوک دي داســـي ښـــکلي ناولونه ولیکي که څه هم ځني نیمګړتیاوي لري خو د وخت په تیریدو زه سل په سلو کي باوري یم چي بارک صاحب به یي مراعت کوي او تر موږ او مینوالو پوري بــه د مکملو قوانینو پــه مراعت کول ســره ناول وړاندي کوي د بارک صــاحب د لا بریاوو په هیله یم او د الله د درباره ورته د لا پرمختګ او ښو لیکنو د توان او توفیق غوښتونکی یم.

په درنښت

محمد داود رحماني/کالفرونیا



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبرې

د پاک او لایزال خدای په ستر نامه:

یو وار بیا د الله حمد وایم چي د یو بل ناول د لیکلو توان او توفیق یي راکی تر څو خپل مینوال یي په لوســـتلو خوښ وساتم،

که څه هم زما د ناول لیکلو او لوستلو سره هیڅ علاقه نه وه او نه هم ده خو بیا یي هم د دوو سـببو په خاطر لیکم، لومړی دا چي پوهان وايي نورو ته په غم، ســـتونزو او د ژوند د ناخوالو په ویلو ســـره غم کمیږي نو ځکه غواړم خپل د ژوند یو څه ناخوالي او سـتونزې پخپلو ناولونو کي شـریکې کم تر څو مي زړه له دردونو او غمونو څخه څه اندازه خالي ســـي، که څه هم الله ماته الحمدالله ښــه کورنۍ او ښـه ژوند راکړیدی نو د چا غمونه یوازې په کورنۍ او ژوند پورې اړه نه لري چي ګواکي څوک چي کورني او د ژوند مشـــکلات ولري نو هغه دي یوازې غمجن وي نه داســـي نه ده بلکي موږ په ژوند کي د ځینو پیښو او خبرو سره مخ کیږو د مثال په ډول لکه د کورنۍ د یو غړي د لاســــه ورکول، د یو ملګري د لاســـــه ورکول، د ځینو ملګرو ســـره اړیکي لمنځه تلل او داســـــي نور......زما په ژوند کي هم همداسي څه پیښ سویدي چي زه یي مجبوره کړم چي ناول لیکلو ته مخ کم او دوهم ســـبب زما د ناول لیکلو دا وو چي د زیاتو مینوالو لخوا زیات تشـویق او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی د بیا بیا غوښــتنو پر اســاس مجبوره ســوم چي ناول لیکلو ته مي ادامه ورکم،

را به ســم پر خپلو ناولونو به یو څه رڼا واچوم: زما د هر ناول تر شا همدي ناول ته ورته یو حقیقي کیسه وي خو داسي نه ده چي زما د ناول هر کیسه دي نو زما پر ژوند راڅرخي هو په ځینو ناولونو کي یو لږه لږه برخه مي د خپل ژوند هم را اخیســتي وي خو مکمل ناول د منظم جوړولو په خاطر یو څه نثرونه مي هم ور اضــــافه کړي وي چي په حقیقت کي هغسي نه وي پیښ سوي دوهم به راسم همدي زموږ نیمګړي میني ناول ته دا ناول هم یو کوچنی حقیقي کیســــه لري چي همداســي نیمګړي کیســه ده خو د ناول د یو قانون مطابق مي چي باید کیسه شروع او پای ولري نو ځکه مي کوښښ وکی چي دا قانون مراعت کم او ناول چي څنګه شــروع ســویدی همداســــي یي په څو جملو ختم هم کم که څه هم ددي ناول حقیقي کیســه پر نیمګړي حال ډیره شــاته پاته ســویده په دي ناول کي چي څه لیکل سـویدي حقیقي کیســي ته یي همداســي فکر مکوئ، په نوموړي ناول کي ځني نومان چي څنګه په حقیقي کیسه کي وه همداسي په دي ناول کي هم دي د ناول د مرکزي لوبغاړي نوم "بارک" نه په ما پوري اړه لري او نه هم ما د خپل تخلص یا قوم په خاطر ور اچولی دی بلکي دا نوم د ښــه طرز او د حقیقي کیســي د لوبغاړي د اصــل نوم په سـبب سـره ور اضــافه سـویدی، بله خبره دا چي ما په مخکي ناولونو کي خپل د تماس شمیري په دي سبب پري ایښــي وي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي زما د ناولونو اديب او باخبره لوســـتونکي زما د ناول په لوســتلو ســره زما نيمګړتياوي ماته را په ګوته کي تر څو زه يي پــه راتلونکو نــاولونو کي اصـــــلاح کم ځينو د پوهنتون استاذانو او مينوالو ميسجونه کړي وه چي په سبب سره يي ما پخپل ناول کي حقيقي غلطی اصـــــلاح کړي خو پوره نه نو ځکه ګرانو لوســـتونکو که مو زما په ناول کي کومه غلطي ليدل نو په اصـلاح کولو کي يي زما سـره په تماس کي کيږی په واقعيت سره چي زه زيات خوشحاله کيږم ستاسو د هر يوه ميســـجونه ماته د قدر وړ دي او د فارغه وخت ســـره ســم به جواب درکوم، بله خبره دا چي ځينو مينوالو ميســـجونه کړي وه چي تاسو بايد عامه پښتو استعمال کړي په خپل ناول کي د مثال په ډول "سو" په "شو" وليکم "وکي" بايد په وکړي وليکم ....... پــه دي اړه بــه ووايم چي کنـدهـاری پښـــتو چي ټول هيوادوال خبر دي چي خلاصـــه او فصـــيحه پښـــتو ده او په کندهار کي "شــو" په "ســو" ويل کيږي او "وکړي" په "وکي" ويل او ليکل کيږي نو ځکه يو خو زه په همدي ســبب شــو په سو ليکم.....او بل دا چي زما عادت هم همداسي جوړ سويدی چي شو په سو ليکم هيله ده مينوال د تعصب فکر پر ونکي ما ته ټول پښــتانه او هيوادوال ګران او د قدر وړ دي ســتاســو د روغتيا او سلامتيا په هيله.

په درنښت

نيک محمد بارک



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ نیمګړې مینه

د کال لومړی موسـم وو د ټول کال کاروبارونو خلک زیاتره خسته کړی وي زبیر خپل څلور ورونه سره راټول کړل هغو ورته وویل: څه خبره ده یاره چي موږ دي دلته سـره را ټول کړو؟

زبیر وویل: ملګرو خوښـه مو نه ده چي مور ته ووایو چي په پسرلنی رخصتی په سیاحت ولاړ سو؟

د زبیر د دوو مشـرانو ورونو کوچنیو زامنو وویل: هو کاکا هو کاکا خوښه مو ده،

زبیر ورونو ته وویل: تاسـو وګوری کوچنیان هم خسـته سویدي ولاړ به سو نو؟

د زبیر مشر ورور عادل وویل: خو مور به اجازه را نه کي،

زبیر وویل: موږ به ټول مور ته ورسو او ورته وبه وایو چي موږ ډیر خسـته سـوی یو تر هغه وخته کار ته نه ځو چي تر څو مو میله نه وی کړې،

عادل وویل: سـمده خو دا خبره به ته ورته کوي زه یی نسـم ورته کولای،

زبیر وویل: سمده لالا خو ټول یو ځای ورځو،

ټولو وویل: سمده،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا تول یو ځای د مور اطاق ته ورغلل په دي وخت کي يې سپين سري مور لمونځ کوی تول ورته انتظار سول، څو شيبي وروسته يې مور لمونځ خلاص کی تر دعا وروسته چي يې شاته وکتل نو توله کورنی يې ورته انتظار وه مور يې وويل: څه خبره ده چي تول سره را يو ځای سوی یاست؟

زبير خپله مور تر لاسو ونيول او تر کته يې ورسول او بيا تول پر کټ ور سره کښينستل زبير د مور پښي کښېکښلي او په خوږه لهجه يې ورته وويل: مور هغه موږ يو فيصله کړيده چي د رخصتی لپاره په سياحت ولاړ سو کوچنيان هم ډير خسته دي،

په دي وخت کي کوچنيانو هم په خوږه لهجه وويل: هو انا،

انا په دي وخت کي کوچنيانو ته په غوسه وکتل هغوی ژر شاته سول او څه يې ونه ويل او تولو سرونه کښته اچولي وه، بيا تر څو شيبو وروسته يې مور وويل: کوم ځای ته ځی؟

په دي سره تولو سرونه را پورته کړل او ډير خوشحاله سول او تولو مور په غيږ کي ونيول،

ماښام توله کورنی سره يو ځای ناست وه او د هيوادو عکسونه يې کتل زبير خپل مشر ورور عادل ته وويل: لالا سويډن ښه ځای نه دی؟

د زبير بل ورور سکون وويل: يا لالا هغه ډير ليری دی او چنداني منظری هم نلري،،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زبير بل ورور امجد وويل: لالا زه خو وايم چي سـينګاپور ته به ولاړ سو هغه ډير ښه ځای دی،

زبير وويل: يا ياره هغه خو ډير نيږدي دی چي ورسـو بيا به مور وايې چی هلي درځي نور، داسـي ځای چي يو څه ليری وی بيا مو مور ژر نه راولي،

عادل وويل: زه يو وار امريکا ته تللي يم هلته ډيري ښـه ښـه منظري سته هلته به ولاړ سو؟

ټولو پر امريکا هوکړه وکړه او بيا يې د سـفر لپاره چمتوالی شـروع کی تر ويزو او ټکيټانو وروسـته ټول اماده سـول او د هوايي ميدان پر خوا روان سـول ټول طياري ته وختل، زبير او سـکون چي ودونه يي نه وه کړي په طياره کي د مور تر څنګ کښـينسـتل، امجد او عادل د ميرمنو او کوچنيانو سـره کښينستل،

زبير او سـکون خپل مور په غيږ کي ونيول زبير وويل: مور ته پر موږ ډيره ګرانه يې،

مور يي د غيږ څخه ليری کی او ورته يي وويل: چاپلوسـي مکوی زه در پوهيږم،

زبير او سـکون دواړه موسـکي سـول بيا يی وويل: نه مور د زړه راباندي ګرانه يي پر بابا به هم دومره نه وي ګرانه لکه پر موږ،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بابا د نوم په ویلو سـره د زبیر د مور تر سـترګو اوښـکي راغلي، سکون و زبیر ته اشاره وکړه چي چپ سه!

بیا زبیر وویل: زه بخښنه غواړم مور،

د زبیر مور دواړه زامن په غیږ کي ونیول او ښـکول یې کړل،

تر څو سـاعتو وروسـته تول امریکا ته را ورسـیدل او د اوسیدلو لپاره یې په یو هوټل کي اطاقونه ونیول،

کله چي یې ستړیا لیری سول نو دوی پخپلو منظرو پیل وکی او هره ورځ به د سیاحت لپاره یو سیمي ته وتل او ماښـام به بیرته خپل هوټل ته راتلل، یو ورځ زبیر او وورونه چي یې د سـیاحت څخه خپل هوټل ته راغلل نو ماښـام وو زبیر خپلو وورونو ته وویل: نن لږ وختي بیده سی سبا سهار وختي د قدم وهلو لپاره وځو خبر یاسـت دلته د قدم وهلو لپاره ډیری ښایسته جادي جوړ سویدي پیاد ولړی سبا سهار وختي،

تولو د هوکړي سر وښوروی او بیا خپلو اطاقو ته ننوتل،

څو ساعته وروسته د سهار د مرغانو اوازونه خپاره سول او د سـهار یخ شـمال زبیر او وورونه یې د خوبه راکښـینول تر لمانځه ادا کولو وروسـته تول د قدم وهلو لپاره اماده سـول زبیر خپل مور تر لاس ونیول او تول د هوټل څخه دباندي راووتل او د قدم وهلو سړک ته یې ځان برابر کی، تولو کرار کرار قدم وهی او روان وه، زبیر خپل مور او وورونو ته چي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ځنګ یې روان وه وویل: چي دلته مو اســـتوګنه شــــروع کړی وای ځومره آرام او خوږ ځای دی که ځنګه مور؟

د زبیر مور هغه ته په غوســـه وکتل او ویویل: ســـتا د پلار د وطن یو موټ خاوره هم ماته تر دي ټولي امریکا ګرانه ده هلته ستا د پلار یادونه دي چي په سبب یي زه ژوندۍ یم ستا د پلار وطن زما روح دی،

زبیر وویل: زه بخښــنه غواړم مور او نه پوهیږم مور چي پر بابا به هم ته دومره ګرانه وی لکه ځومره چي هغه پر تا ګران دی؟

د زبیر مور وویل: ستا پلار الماس وو زه ډیره بختوره یم چي هغه زما په نصیب سوی وو هغه بیل سړی وو،

تر زیات قدم وهلو او خبرو وروسته د زبیر مور ستړې سوه نو ځکه ټول د جادې بغلته پر یو چوکی کښینستل،

امجد وویل: هي هغه وګوري ځومره غټ ستور دی،

ټولو ورته وکتل چي ډیر غټ ســـتور وو بیا عادل وویل: فکر کوم چي د یو ډیر غټ او سرمایه داره سړي به وی،

امجد وویل: زه به ورسـم ځو بوتله اوبه به ځني را واخلم دننه به یي هم ووینم،

وروسته امجد د هغه ستور پر خوا روان سو او ستور ته دننه ورغلی، امجد چي کله ســـتور ته ور دننه ســـو نو ویلیدل چي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډير غټ او ښايسته ځای وو، امجد هلته ګرځيدی تر څو اوبه پيدا کړي چي په دي وخت کي د ستور عمومي دفتر ته نيږدي سو امجد د ځان سره وويل: دا يي لکه چي د مشر ځای دی واه څومره ښايسته،

د امجد سترګي په هغه دفتر کي پر ديوال ولګيدي چي د يو ځوان غټ عکس وو وربانديږ په دي سره امجد ډير حيران سو او په ځغاسته د ستور څخه دباندي راووتی، امجد د مور او ورونو پر طرف راځغستل ورونه او کورنی يي حيرانه سول چي امجد ولي راځغلي کله چي امجد را ورسيدی نو ورونو يي پوښتنه ځنی وکړه چي څه خبره ده؟ امجد چي ډير حيران وو او ساوي يي کښلي وويل: مور هغه هلته په ستور کی..،

امجد نوري خبري نسوای کولای ورونو يي ورته وويل: څه په ستور کی څه وسول راته ووايه،

امجد وويل: مور هغه هلته په ستور کي بابا... ،

ټول ډير حيران سول او بيا يی وويل: بابا؟

ټول د ستور پر خوا ور روان سول امجد هغوی د هغه دفتر و خواته ور وستل نو ټولو پر ديوال هغه عکس ته وکتل او بيا د زبير مور په حيرانی وويل: بارک؟!



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د دفتر ســره ولاړ وه چې په دې وخت کې د ســتور يو امريکايي ســاتونکی راغلی او په انګليســي يې دوی ته وويل: څه خبره ده؟

عادل وويل: پر دا ديوال عکس د چا دی؟

د ستور ساتونکي وويل: ستاسو يې ددې عکس سره څه؟

عادل وويل: دا زما د پلار عکس دی،

ساتونکي وويل: څه؟!

بيا سکون ورمخته سو او ساتونکي ته يې وويل: هو دا زما د پلار د ځوانی عکس دی دلته څه کوې؟

ساتونکي وويل: دا زموږ د مشرې دفتر دی عکس هم د هغې دی،

عادل وويل: ستاسو مشره؟

ساتونکي وويل: هو دا زموږ د مشرې عاليې دفتر دی،

د عاليې د نوم په ويلو سره د زبير مور حيرانه سول او عادل ته يې وويل: ده د چا نوم ياد کی ويل عاليه څه؟

عادل وويل: مور دی وای دا ځای د عاليې دی،

په دې ســره د زبير مور حيرانه ســول پښــې او بدن يې په رېږديدو سول او تر سترګو يې اوښکې رواني سوې او بغلته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر یو چوکۍ کښېنستل تولو مور ته را وځغستل او ورته یې وویل: مور څه خبره ده دا عالیه څوک ده؟

په دې وخت کې یو بل ساتونکي زنګ ووهلو او ویویل: سلام مشري! مشري دلته څو کسان راغلي دي او ستاسو په دفتر کې هغه عکس ولا ځوان یادوی وایي چې دا زموږ پلار دی....،

عادل وویل: مور څه خبره ده دا ښځه څوک ده؟

د مور تر ســــترګو اوښــــکي جاري وی او ویویل: هغه دلته اوسیږي؟ دومره لیرې راغلي وه زه غواړم د هغې سره ووینم او ستاسو د پلار اخیري غوښتنه پر ځای کم،

سکون، عادل او امجد وویل: اخیري غوښتنه؟!

کله چې دوی دا وویل په دې وخت کې د ستور مخته موټران ودریدل او د یو موټر څخه په بیړه یو ســپین ســري ښــځه راکښته سول او په ځغاسته ستور ته را دننه سوه کله چې ساتونکو ته را ورسیدل نو هغو د زبیر او د ورونو خواته یې اشاره ورته وکړه چې هلته ناست دي،

کله چې هغې سپین سري د زبیر مور ولیدل نو د هغو خواته ور رهي سول د زبیر د مور سر کښته وو زبیر خپل مور د هغې خواته متوجې کړه کله چې د زبیر مور هغې ته وکتل نو بدن یې په ریږدیدو سو او په رپانده بدن ولاړه سوه او په دې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کي هغه سپين سرې هم را ورسيدل د زبير مور په ژړا وويل: عاليې ته؟

په دې سره عاليه هم په ژړا سول او ويويل: فاطمې ته دلته؟

دواړو په ژړا په غيږ کې سره ونيول تر څه شيبو وروسته چې کله آرامې سوې نو عاليې وويل: بارک ستاسو سره نه دى راغلى؟

ټولو يو وبل ته سره وکتل او بيا فاطمې وويل: بارک دا څو کلونه کيږي چې مړ سويدى،

عاليه ډير حيرانه سوه او بيا يې وويل: څه بارک مړ سويدى؟!

ددې خبرې وروسته د عاليې پښو حرکت پريښوى او پر مځکه ولويدل او تر سترګو يې اوښکې رواني سوې عاليې ډير وژړل بيا يې فاطمه تر څنګه کښينستل او د عاليې سر يې خپل پر اوږه کښيښوى او بيا يې وويل: بارک تر اخيرې سلګيه يادولې واده خو هغه زما سره وکى خو تر مرګه پورې يې مينه يوازې او يوازې ستا سره کول پر هغه ته ډيره ګرانه وې،

عاليې ډير وژړل فاطمې هغې ته دلسايې ورکول تر ډيرې ژړا وروسته عاليه څه آرامه سول بيا يې د فاطمې زامنو ته وکتل او فاطمې ته يې وويل: دا ستا و د بارک اولادونه دي؟

فاطمې وويل: هو،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالیې په ژړغوني اواز او په موسکا وویل: بارک ته په شکل کي ډیر سویدي کټ مټ د بارک پخیر مخان یې دي،

په دي سـره تول په موسـکا سـول بیا عالیې وویل: فاطمي په امریکا کي څه کوی؟

فاطمي وویل: د سـیاحت لپاره راغلي یو دلته مو په هوټل کي اطاقونه نیولي دي،،

عالیې وویل: زما کور دلته نیږدې دی نور هوټل ته حجت نسته،

فاطمي وویل: نه نه تاسو ته تکلیف نه در کوو موږ هوټل کي اوسیږو،

عالیې وویل: فاطمي زما کور ستاسو کور دی او په هوټل کي خو پردې اوسیږی خپل نه،

وروسته عالیې خپلو ساتونکو ته وویل: ورسی د دوی سامان زموږ کورته راوړئ،

عالیه او فاطمه سـره روان سـول او زامن یې د شـا په پسـي سول زبیر خپلو ورونو ته وویل: دا اوس څه کیسه ده زما خو په هیڅ هم سر نسو خلاص؟

عادل وویل: نه پوهیږم چي څه خبره ده او جالبه خبره لا دا چي بابا او ددې ښځي تر منځ کومه خبره سته چي موږ نه یو په خبر،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکون وویل: نو دا به ځنګه معلوموو چي د بابا او ددې عالیې تر منځ څه خبره وه او بابا ولې پر دې ښځې دومره ګران دی چي د هغه د شلو کالنی عکس تر اوسه ور سره دی،

د عادل میرمني وویل: د تلواریه کار مه اخلی که مور ته ووایو شاید هغه کیسه نیمګړې راته وکړي ځکه چي هغه په زیاتو خبرو نه ده خبره داسي وکی چي دا عالیه خاله راضي کی چي کیسه درته وکي،

امجد وویل: دا ښه خبره ده اوس خو د هغې کور ته هم ځو هلته به یې راضي کو،

ټولو وویل: سمده،

ټول موټرانو ته وختل عالیه او فاطمه جلا موټر ته وختل او د عالیې د کور پر طرف روان سول،

په لاره کي عالیې د کلکین ځخه دباندې کتل او تر سترګو یې اوښکې رواني وی فاطمې ورته وویل: عالیې ته پوهیږي چي ته په دې اوښکو سره د بارک روح نا آرامه کوی،

عالیې په ژړا وویل: د بارک ږغونه مي په غوږو کي آزانګي کوي دا شل کاله ما په آرامه خوب نه دی کړی د هغه انتظار مي کړیدی اوس هم هغومره مینه ور سره کوم لکه ځنګه چي مي مخکې ور سره کول خو بس د الله لیکل سوی نه په بله کیږی چي هغه یې زما په نصیب کي نه وو لیکلی،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمي وويل: ته پوهيږې عاليي بارک هم ستا سره تر اخيري سـلګيه مينه کول او ته يي يادولي هغه ماته وويل چي زما روح به هله پر کراره سي چي هغه زما قبر ته راسي،

عاليه حيرانه سـوه او د فاطمي خواته يي وکتل بيا فاطمي وويل: هو عاليي د هغه اخيري غوښـتنه همدا وه چي ته به د هغه قبر ته ورځې،

عاليي په سرو او د اوښکو په ډکو سترګو سر وښوروى چي سمده،

څو شـيبي وروسـته د عاليي کور را ورسـيدى ټول د موټرانو څخه راکښته سول او عاليي خپل کور ته دعوت کړل کله چي کور ته ننوتل نو عاليي خپل خدمتګار ته وويل: دوى ته خپل اطاقونه ور وښيه،

وروسـته عاليي فاطمي او د هغي کورنۍ ته مخ را واړوى او ورته يي وويل: تاسو خپل اطاقونه وګورى زه به مخ پريولم،

ټولو وويل: صحى دى،

وروسـته عاليه د خپل اطاق خواته ولاړل او خدمتګار فاطمي او د هغي کورنۍ ته د هغوى اطاقونه ور وښـول کله چي ټول پر ځاى سـول اوخپلو اطاقو ته ولاړل نو زبير او ورونه يي سـره راټول سـول زبير وويل: نه پوهيږم چي دا څه خبره ده بابا ددي ښځي سره مينه کول مور هم په دي هر څه خبره ده،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادل وویل: زه هم نه پوهیږم چي څه خبره ده دا ښـځه خو ما هیڅکله نه ده لیدلي نه بابا او نه هم مور په دې اړه مخکې څه ویلي دي،

امجد وویل: ښــه خبره دا ده چي همدا اوس مور ته ورسـو او دا کیسه ځني وپوښتو،

تول وویل: همدا صحي خبره ده راځئ چي ورسو،

کله چي تول د مور اطاق ته را ورســـیدل نو ټولو د دروازې څخه دننه اطاق ته وکتل نو ویلیدل چي مور یې ژړل امجد غوښـــتل چي د مور اطاق ته دننه ســـي خو نورو ورونو راوګرځوی،

وروســـته یې په مور پســـي دروازه وتړل او تول دباندې را ووتل،

عالیې خپل مخ پریولی کله چي یې خان ته په هنداره کي وکتل نو یو وار بیا یې تر سـترګو اوښـکې راغلي او ډیر یې وژړل تر ډیرې ژړا وروســـته د تشـــناب څخه راووتل آتوال یې واخیسـتی او مخ وچول یې شـروع کړل د عالیې په دې وخت کي د کلکین څخه دباندې عادل، امجد، ســکون او زبیر ته پام سو چي په پارک کي ډیر پریشـانه ناست دي او په فکرو کي غرق دي، تر څه شــیبو وروســـته عالیې پارک ته د زبیر او ورونو لپاره چای راوړی، زبیر او ورونه یې د هغې په لیدو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ځای ودریدل او عادل وویل: خاله تاســو ولي تکلیف وکی مور به راوړې وای،

عالیه موســکی ســوه او ویویل: نه نه زویه دا ماته ښــه خوند راکوي چي ستاسو خدمت کوم زه په دې ډیر د ارامی احساس کوم،

عادل وویل: خاله فکر کوم ســتاســو په امریکا کي ډیر وخت کیږي چي اوسیږی خو بیا مو هم پښتو ډیره ښه زده ده،

عالیه موســکی ســوه او ویویل: ســتاســو د مور او پلار د واده څخه څه وخت وروسته زه دلته راغلم،

ســکون وویل: خاله ولي ســتاســو مجبوریت څه وو چي خپل هیواد مو پریښوی او دلته راغلاست،

د عالیې تر سترګو اوښــکي رواني سوی او بیا یي وویل: کله چي یو ځای د ژوند کولو سبب ختم سي نو هلته اوسیدل ډیر ګران سي.

زبیر د عالیې تر څنګ کښیــنســتی او هغې ته یي وویل: خاله مور غواړو ستاسو د ژوند په کیسه پوه سو هیله کوم مور ته حقیقت ووایست مور پوهیږو چي زمور پلار ستاسو سره بې وفایي کړیده،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالیې وویل: نه نه زویه ستاسو پلار زما سره بې وفایي نه ده کړې بلکې ما ستاسو د پلاره سره بې وفایي کړیده بارک خو ډیر یو ساده او ربنتینی ځوان وو،

بیا عالیې وویل: زه هغه وخت د ۱۹ کالو وم او بارک د ۲۰ کالو وو چې ما هغه په لومړی ځل ولیدی زموږ په کلی کې نوی مکتب فعاله ســـو زموږ د کلي ټول کوچنیان هلکوان او انجونې هغه مکتب ته ورتلل شروع کړل لکه څنګه چې ټولنه کې رواج وو چې باید هلکوان ته نارینه ا ستاذ درس ووایي او انجونو ته ښـځینه اسـتاذه زموږ په کلي کې ما او زما خور او ســتاســو مور فاطمې ســیواد درلودی نو ځکه یې د انجونو د درس لپاره موږ په مکتب کې د استاذانو په هیس مقرري کړو زه په دې نه وم خبره چې همدا مکتب به زما په ژوند کې یو لوی بدلون راوړي، د هلکوانو او انجونو د درس ځایونه سره جلا وه نو ځکه ځو ورځې ما بارک نه وو لیدلی چې همدې مکتب ته به راتلی بارک د اســتاذی تر څنګ د همدې مکتب ځنې نور مسـؤلیتونه هم سـرته رسـول هغه پر ټولو ډیر ګران وو زه تر دې دمه نه وم خبره چې په مکتب کې د هلکوانو اســـتاذان څوک وه ځکه زموږ ځای د هلکوانو د ځای څخه جلا وو ځو ورځې تیرې ســـوی موږ به هره ورځ راتلو او کوچنیانو ته به مو درسونه ویل یو ورځ چې زه کله صنف ته راغلم او ډیر وخت مې د شـاګردانو سـره تیر کی نو د ډیرې ولاړې څخه مې پښــو درد شـــروع کی ما خپل یو کوچنی شـاګردې ته وویل: جمیلې هلته د هلکوانو صـنفو ته ورسـه او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدير صـــاحب ته ووايه چي عاليه اســتاذه وايي يوه چوكۍ د ښځينستو لپاره راكه،

زما شــاګرده ولاړل او څو شــيبې وروســته بيرته راغلل او ويويل: اسـتاذې مدير صـاحب نه وو پر ځای يې بارک اسـتاذ ناست وو او ويل يې چي هله ورسه چوکۍ نشته،

ما خپلي شاګردې ته بيا وويل: ورسه هغه استاذ ته ووايه چي زموږ استاذه يې غواړي،

کله چي هغه ولاړه او څو شــيبې وروســته راغله نو ويويل: استاذې هغه استاذ وايي چي ستاسو استاذې ته ووايه چي په صنف کي بايد استاذ نه کښيني بايد شاګردانو ته درس ووايي او ماته يې غوسه هم وکړه،

زه حيرانه ســوم او په عيني حال کي په غوســه هم ســوم او د خان ســره مي وويل چي ته څوک يې چي ماته نصـيحت کوې ددې مکتب مدير خو نه يې، بيا زما تلوســه ســوه چي بايد دا اســتاذ ووينم نو څو شــيبې وروســته د هغې دروازې خواته ورغلم چي زموږ او د هلكوانو د صـــنفو تر منځ وه ما هغه دروازه كرار خلاصــه كړه او د هلكوانو د صــنفو خواته مي وكتل هغه لومړی ځل وو چي ما بـارک هلتـه وليدی زموږ کيسه د همدې ځايه شروع سوه، بارک د صنفو مخته يو ميز ته ناسـت وو په کوم څه ليکلو مصـروف وو د هغه وريښـتيان لږ وه او لوړې خواته يې اړول ما هغه ته څو شـــيبې کتل د هغه ساده ستايل او موډ زه جذبه کړم خو څو شيبې وروسته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صنف کي د شاګردانو غالمغال سو زه بیرته خپل صنف ته راغلم خو څو شیبې وروسته صنف ته یو کوچني هلک چوکۍ راوړل ما هغه ته ژر وویل چي دا چا درکړه هغه وویل: بارک استاذ راکړه،

زه ډیره خوشـــحاله ســـوم او هغه شـــاګرد ته مي وویل: بارک استاذ ته ووایه چي ډیره مننه،

بارک په خوئ او کردار کي ډیر غوســـه ناک وو خو زړه یې ډیر نرم او پاک وو نو ځکه د غوســـه ناکي ځیهرۍ او کردار ســـره ســـره پر ټولو ګران وو د مکتب مدیر د مکتب ټول صـــلاحیت بارک ته ورکړی وو ځکه هغه پر بارک ډیر باور درلودی،

مورن به هره ورځ مکتب ته تلو ما به کله کله چي به مي وخت پیدا کی نو تر دروازې به مي پټ بارک ته وکتل خو هغه به د خپل مصـــروفیت څخه هیڅ لوړ نه کتل نو ځکه به یې زه نه لیدلم ما و ســـتاســـو مور فاطمه د صـــنفو د نشـــتون لکبله په یوه صـــنف کي وو کله به شـــاګردانو ته ما درس وایه او چي زه به ستړې سوم نو ستاسو مور به درس ورته وایه او زما د خور صـــــنف زمورن څخه څه اندازه لیري وو، ســـتاســـو مور په ما پوهیدل چي زما په زړه کي بارک ته ځای پیدا سویدی،

لکه څنګه چي زمورن په کلي کي دا لومړی مکتب وو چي د هلکوانو تر څنګ یې انجونو ته هم د درســـــو زمینه برابره کړی وه نو ځکه په مکتب کي د انجونو داخله او شمولیت وار



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وار زیاتیدل نو څکه موږ مجبوره ســـوو چي د هلکوانو صنفو ته واوړو او هلکوان زموږ صنفو ته راسي ځکه چي د هلکوانو د صنفو ساحه غټه هم وه او صنفونه يي هم زيات وه نو د مکتب مدير فيصـــله وکړه چي بايد د هلکوانو او انجونو صـنفونه سـره تبديل کي، څو ورځي وروسـته موږ د هلکوانو او هلکوان زموږ صـــنفو تـه راغلـه لکـه څنګـه چي زموږ مخکيني د صنفو ځای ډير تنګ او کوچنی وو نو ځکه به چي کله بارک مکتب ته راتلی نو موټرسيکل به يي زموږ د صنفو سره دروی او بيابه خپل صنف ته تلی، بارک د ځان سره يو بسته هم راوړل هغه به خپل بسته د ځانه نه ليري کول د ځان سره به يي ګرځول زموږ به هره ورځ پکښـي فکر وو او تر کلکين به مو ورته کتل موږ پوهيدو چي د بارک په بسـته کي به حتماً د هغه کوم مهم څه وي نو ځکه يي د ځانه نه ليری کوی خو موږ دا هدف د ځان لپاره وګرځوی چي حتماً به يو ورځ د بارک بســـته ګورو چي څه دي پکښـــي موږ به هره ورځ کوښښ کوي او پسـي کتل به مو چي کله د بارک بسـته لاســـته راوړو، يو ورځ زه خپل دې هدف ته د نورو څخه مخکي ورسـيدم لکه څنګه چي د مکتب مدير يو سـپين ږيری په عمر پوخ سړی وو نو هغه به زموږ د صنفو په ساحه کي کښـينسـتی او مکتب به يي اداره کاوه کله چي يو ورځ بارک راغلی نو مدير ورته وويل: بارک تاسو راسـی زما سره دا د نوو شاګردانو ليستونه ترتيب کی،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک هم د لیسـتونو په ترتیبولو ور سـره مصـروف سـو تر ډیره ور سره مصروف وو او زیات سټړی سو تر یو یا یونیم ساعت وروسته د لیستونو کار خلاص سو نو بارک مدیر ته وویل: مدیر صاحب زه به نور خپل صنف ته ولاړ سم،

مدیر هم هغه ته د تلو اجازه ورکړه د الله مهرباني وه د بارک څخه د سټړیا په وجه د هغه بسته پاته سول ما په دې وخت کي د کلکین څخه ورته کتل کله چي بارک ووتی نو زه په څغاسته ورغلم هغه ځای ته چیرې چي بارک ناست وو کله چي ورسیدم نو د بارک بسته د مدیر تر څنګ پرته وه زه نه پوهیدم چي څه ډول د بارک بسته را واخلم خو څو شیبې وروسته مي دماغ ته یو فکر راغلی هغه دا چي ما مدیر ته وویل: مدیر صاحب زما مارکر قلم خراب سو تاسو مارکر قلم نه لرئ؟

زه پوهیدم چي د مدیر سره مارکر قلم نه وو دا صرف زما یو بهانه وه نو ځکه هغه راته وویل: نه لورکی نسته را سره،

زه ډیره خوشحاله سوم بیا مي ورته وویل: دا ستاسو بغلته بسته د چا ده په دې کي به نه وي؟

مدیر راته وویل: دا د بارک استاذ بسته ده نه پوهیږم چي مارکر به پکښي وي او که نه زه مصروفه یم تاسو یې در واخلی او پکښي وګورئ،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له خدايه همدا خبره غوښتل چي مدير ماته ووايي چي بسته در واخله،

زه په بیړه ورغلم او بسته مي د مدير له څنګه را واخيستل او د مدير څخه په څه فاصله کي کښينستم او بسته مي خلاصه کړل لومړی مي يو سپينه د ډاکترانو چپنه وليدل تر هغه لاندې مي څه اندازه کتابونه وليدل خو کله چي مي هغه کتابونه پورته کړل نو هلته مي يو د يادداشت کتابچه او يو د شعرو کتاب وليدی پر کتاب ليکلی وه چي ليکوال بارک ما هغه ژر را پورته کړل او مدير ته مي وويل: مدير صاحب مارکر مي نکی پيدا خو ايا دا کتاب او کتابچه د تفريح تر وخته کتلای سم؟

مدير موسکی سو او ويويل: زه پوهيدم چي ستا مقصد مارکر نه وو بلکي په دا بسته کي ځيرنه کول وه،

زه موسکی سوم او څه مي ونه ويل ځکه زه نه وم خبره چي مدير به دومره چلاکه وی زما په هر حرکت به پوهيږی بيا يي راته وويل: سمده وايخله خو تر تفريح پوری يي بايد خلاص کي ځکه چي د بارک دا نه خوښيږی چي د هغه په بسته کي دي څوک وګوري يا هم د هغه د يادداشت کتابچه دي څوک ووايي نو بايد ژر يي ووايي،

ما مدير ته وويل: صحی دی تفريح ته به يي بيرته راوړسوم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د بارک کتابچه او کتاب یوړل بارک په خپله کتابچه کې ډېرې خوږې او ځنې ډېرې غمګینې خبرې لیکلې وې لکه څنګه چې مدیر راته ویلي وه چې باید تفریح ته یې وګورم نو ځکه مې د بارک د یاداشـــت کتابچه ژر ژر وویل بیا مې د بارک د شعرو کتاب خلاص کې بارک ډېر ښایسته شعرونه لیکې وه خو ځنې نیمګړتیاوې یې درلودې ما پینســـل را واخیســـتې او هغه نیمګړتیاوې مې نښـــانې کړې او لاندې مې صـــحې ورته ولیکلې کتابچه او کتاب مې بند کړل او ولاړم بیرته مې د بارک په بسته کې کښېښول تفریح ته لا څه وخت پاته وو زه د مدیر ســره کښـینســتم او هغه ته مې وویل: مدیر صاحب فکر کوم دا بارک استاذ شاعر دی؟

مدیر وویل: هو شـــاعر او لیکوال دواړه دی هغه په ژوند کې د ډېرو ستونزو سره مخ سویدی چې هغه یې چاته نسې ویلای نو ځکه یې د شـــعر او نثر په ډول لیکلي دي او خپل د زړه غمونه یې څه پرې کم کړیدي،

ما ورته وویل: مدیر صـــاحب بارک تاســـو د څه وخت څخه پیژنی؟

مدیر وویل: تقریباً دا دریم کال دی چې زما سره استاذ دی او همکاري را سره کوي ډېر دیندوسته او پرهیزګاره ځوان دی نو ځکه زما سره دا دري کاله کیږي چې را سره دی،

د مدیر په خبرو بارک زما په زړه کې نور ځای هم ونیوی او زما د بارک ســره مینه پیدا ســول نو ځکه مې غوښـتل د مدیر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه نوري پوښتني هم وکم خو په دي وخت کي تفريح سـول او کوچنيان دباندي را ووتل زه هم ولاړم او د نورو اســتاذانو سره مو چای وچيښلي،

همدا ورځ تيره سوه سبا سـهار چي کله مور. مکتب ته راغلو زه دي ته انتظار وم چي بارک به نن کوم عکس العمل وښيي ځکه ما د هغه په کتاب کي لاسوهنه کړی وه، بارک به زمور. څخه نيم يا يو ساعت وروسته راتلی ځکه د هغه کور د مکتب څخه ډير ليری وو، زه په کلکين کي ناســته وم او د دروازي خواته مي کتل او بارک ته په انتظار وم څو شــيبي وروســته بارک راغلی ما ژر د هغه خواته وکتل ومي ليدل چي د بارک پر مخ کومه د غوسـي نښـي نه وی او خوشـحاله معلوميدی نو ځکه زما زړه هم ډير خوشــحاله ســو، بارک د مدير خواته راغلی تر ســلام او روغبړ وروســته يي مدير ته وويل: مدير صاحب تيره ورځ زما بسته دلته پاته سوی وه او چا لاسوهنه پکښي کړی وه،

مدير وويل: هو هغه عالي استاذي مارکر غوښـتی زما سـره نه وو نو ځکه يي ستاسـو په بسـته کي وکتل ويل شـايد په دي بسته کي وی،

بارک وويل: ښه ښه نور څه خو به يي نه وی کتلي؟

مدير کښــــته وکتل او ويويل: نه زما ومخته يي په مارکر قلم پسي وکتل او وروسته يي بيرته بنده کړل،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک موسکی سو او ویویل: مدیر صاحب تاسو چي کله کومه خبره پټوی نو بیا کښته ګوری زه پوهیږم هغي زما کتاب او کتابچه هم کتلي وه او په دي هم پوهیږم چي د کتلو اجازه تاسو ورکړی وه،

مدیر موسکی سو او بیا یی وویل: ښه نو تاسو څنګه پوه سواست چي هغي ستاسو کتاب او کتابچه کتلي دي؟

بارک وویل: هغي زما په کتاب کي زما نیمګړتیاوي نښاني کړي وي او لیکلي یي وه چي باید دا داسي ولیکم،

مدیر ډیر حیران سو او ویویل: دا یي نو ښه کار نه دی کړی ځکه دي ویل چي صرف یي ګورم،

بارک وویل: نه مدیر صاحب زه په دي ډیر خوشحاله سوم چي هغي ماته زما نیمګړتیاوی را په ګوته کړی وی ورته ووایه چي بارک وای ډیره مننه،

تر څه خبرو وروسته بارک خپل صنف ته ولاړی او زه ژر د صنف څخه راووتم او مدیر ته مي وویل: مدیر صاحب بارک څه ویل؟

مدیر ماته په غوسه وکتل او بیا یی وویل: تا خو ویل چي زه یي صرف ګورم خو تا د هغه په کتاب کي لاسوهنه کړی وه،

د مدیر په دي خبرو زه ډیره شرمینده سوم او سر مي کښته وځړوی ما فکر وکی چي بارک به د هغه په کتاب کي د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاســـوهني په خاطر ډیر خپه ســـوی وي نو ځکه زه هم ډیره پریشـانه سـوم خو مدیر بیا په موسـکا راته وویل: بارک ویل مننه چي زما نیمګړتیاوي دي را په نښه کړي وي،

په دي سر ما سر راپورته کی او ډیره خوشحاله سوم او مدیر ته مي ژر وویل: په ربښتیا هغه خوشحاله سوی وو؟

مدیر وویل: هو نو ځکه یي مننه هم در ښخه کول،

زه مدیر ته نیږدي کښـینسـتم او هغه ته مي وویل: بارک نور ښه ویل زما په اړه؟

مدیر وویل: ســـتا په اړه یي ښه نه دي ویلي خو ویل یي چي زه په دي ډیر خوشحاله کیږم چي ماته زما نیمګړتیاوي ښوک را په نښه کي،

ما ورته وویل: نه نه هغه خو ډیري ښـایسـته لیکني کړی وي خو انسان عاجزه دی کوم کوچنی کوچنی نیمګړتیاوي چي یي درلودي هغه ما ورته په نښـه کړي که نه نور ډیري ښـایسـته لیکني وي،

مدیر وویل: پوهیږم د بارک لیکني ډیر مینوال لري او په دي نیږدي وخت کي ډیر مشـــهوره ســـوی دی خو هغه ددي هیڅ پروا نلري هغه ډیر ساده ځوان دی،

ما وویل: پوهیږم مدیر صـــاحب بارک ډیر عاجزه او ســـاده ځوان دی ښومره چي په ظاهره غوســـه ناکه او تریخ دی خو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په باطن کي تر هغه ځو چنده زيات مهربانه نرم خويه او خوږ دی،

مدير وخندل او بيا يي وويل: فکر کوم ليکنو يي پر تا هم تاثير وکی؟

زه موسـکی سـوم او بيا مي وويل: نه دا يوازې زه نه بلکي ټول وايي چي بارک مخامخ توند مزاجه دی خو په زړه کي ډير مينه ناکه دی،

مدير وويل: هو هغه خو دی،

ما غوښتل د بارک سره په ځه ډول شناخت او روابط پيدا کم نو ځکه مي يو خط وليکی او مدير ته مي وويل: مدير صاحب دا خط بيا بارک استاذ ته ورکی ما د هغه ځخه په دې خط کي يو کوچني غوښـتنه کړيده هيله ده تر هغه پوری يی ور ورسوی،

مدير زما ځخه خط واخيسـتی او بارک ته يي ور وړی مدير بارک ته وويل: بارک دا خط سـتاسـو لپاره عاليي اسـتاذي راکی ويل دا بارک استاذ ته ورکه،

بارک حيران سو او ويويل: زما لپاره؟

کله چي مدير ولاړی نو بارک خط خلاص کی نو ليکلي وه: السلام عليکم هيله لرم چي روغ او جوړ به ياست لومړی در ځخه ددې بخښنه غواړم چي ستاسو بسته مي بيله ستاسو د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازې پرته خلاصه کړه زه ډیره بخښنه غواړم هیله لرم چي تاسـو به بخښـلي یم په دوهم قدم کي به ووایم چي ماشـاءالله ستاسو لیکني ډیرې ښایستي وی خو غمګیني ډیرې وی او زه د غم خبرې او لیکني نسم زغملای نو ځکه مي تولـه نه وویل لږ مي وویل دریم به ووایم چي زه سـتاسـو همکاری ته ضـرورت لرم زما یو د یاداشـت کتابچه ده غواړم کتاب ځني جوړ کم که تاسـو وخت لری نو زه به یي درکم تاسـو یي کمپیوټري کی او بیا یي را چاپ کی دا به مو پر ما یو لوی احسان وی ستاسو د جواب په هیله عالیه،

بارک چي کله خط ووایه نو موسـکی سو او بیا یی د عالیي د خط په جواب کي خط ولیکی او مدیر ته یي ور وړی او ورته یي وویل: مدیر صـاحب دا د هغه خط جواب دی چي اغلي عالیي راستولی وو دا بیا هغي ته ورکی،

مدیر د بارک څخه خط واخیستی او عالیي ته یي ورکی،

عالیه د خط په لیدو ډیره خوشحاله سوه او ژر یي خلاص کی بارک لیکلي وه: وعلیکم السـلام مننه زه ښـه یم الله دی وکي چي تاسو به هم روغه او جوړه یاست ستاسو د لومړې لیکني په جواب کي به ووایم چي پروا نکوی کومه خبره نه ده او د دوهمي خبرې پـه جواب کي بـه ووایم چي زمـا لیکني هغـه څوک نسـي زغملای چي د زړه تکلیف لري هاهاها نو ځکه دي ونه سـوای کولای چي ټول ووایي او د دریمي خبرې په جواب کي به مو ووایم باور وکی چي زیات مصــروف یم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو کتابچه را واستوی ان شاءالله چي فارغه سوم بیابه یي درته کمپیوټري کم هیله ده چي خپه نسی په درنښت بارک،

عالیه د بارک په خط زیاته خوشحاله سوه ژر یي قلم او کتابچه را واخیستل تر څو بیا بارک ته خط ولیکی خو په دې وخت کي د صنف دباندې د موټرسیکل ږغ سو کله چي عالیې په کلکین کي دباندې وکتل نو ویلیدل چي بارک د مکتب څخه ووتی عالیه په دې سره زیاته خپه سوه چي بارک ولی زما د خط ورکولو مخکي ولاړی،

سبا ته بیا عالیه د بارک په انتظار وه او په کلکین کي یي د مکتب دروازې ته کتل چي کله به بارک راسي څه وخت وروسته بارک راغلی موټرسیکل یي ودروی او خپل صنف ته روان سو عالیه نوره هم په غوسه سول او بارک ته لیکلی خط یي نه ور واستوی همدا ورځ همداسی تیره سوه عالیې فکر کوی چي بارک به پوه سي چي زه د هغه څخه خپه یم نو ځکه به خط را واستوی خو بارک دې ته هیڅ خط نه ور واستوی دا ورځ پر عالیې ډیره سخته تیره سوه کله چي سبا ته بارک مکتب ته راغلی نو عالیې فکر وکی چي بارک بیا نن همداسی ځی نو ځکه کله چي بارک موټرسیکل ودروی عالیې خپلې شاګردې ته وویل: ثناء! هله ورسه بارک استاذ ته وو ایه چي عالیه استاذه وایي زه ستا څخه خپه یم،

کله چي بارک د انجونو د صنفو د دروازې څخه وتی په دې وخت کي ثناء ور ناره کړه: استاذه! استاذه!،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک تر شا ورته وکتل او ورته یي وویل: څه وایې؟

ثناء چي کله بارک ته نیږدې سول نو ورته یي وویل: استاذه هغه زموږ استاذه عالیه وایي چي زه ستا څخه خپه یم،

بارک په دې خبره سره وخندل او ویویل: ولې څه پیښه ده؟

ثناء وویل: نه پوهیږم خو زموږ استاذه ډیره غوسه وه،

بارک موسکی سو او بیا یي قلم او کتابچه واخیستل او عالیې ته یي خط ولیکی او ثناء ته یي په لاس ورکی او ورته یی وویل: دا ستاسو استاذې ته ورکه،

ثناء خط عالیې ته راوړی او عالیې ژر خط خلاص کی بارک ورته لیکلي وه: هاهاها ولې په څه خاطر خپه یاست ما کومه غلطي کړیده؟

عالیې خط ولیکی او ثناء ته یي ورکی او ورته ویویل: ثناء دا خط بارک استاذ ته ور وړه،

ثناء خط بارک ته ور وړی کله چي بارک خط خلاص کی نو عالیې لیکی وه: بس زه نور ستا سره خبرې نکوم ته ولې هغه تیره ورځ زما د خط د درکولو مخکې ولاړی ما تاسو ته خط ولیکی خو چي ومی کتل تاسو نه واست مکتب کې ماته ډیره غوسه راغله بس زه نور ستا سره خبرې نکوم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک لا خط ویل نه وه خلاص کړی چي په دې وخت کي ثناء راغله او بارک ته یي وویل: اســتاذه زموږ اســتاذه وایي چي د خط جواب راکه،

بارک د خط په ویلو موســکی ســو او بیا یي ثناء ته وویل: ته دلته انتظار ســـه اوس یي درکوم، بارک عالیي ته خط ولیکی او ثناء تـه یي ورکی ثنـاء خط عـالیي تـه راوړی او عـالیي خلاص کی بارک لیکلی وه: زه ډیره بخښـــنه غواړم په هغه ورځ یو څه مریض وم ولاړم ډاکټر ته نو په دې خاطر ستاسو خط ته نسـوم انتظار زه بخښـنه غواړم خیر د هغه خط جواب اوس راکی،

عالیي بارک ته خط ولیکی او ثناء ته یي وویل: ثناء! دا بارک استاذ ته ورورړه،

ثناء خط بارک ته راوړی او ورته یي وویل: اســـتاذه دا خط زموږ استاذې راکی،

بارک د ثناء څخه خط واخیســـتی او خلاص یي کی عالیي لیکلې وه: زه ډیره بخښـــنه غواړم زه نه وم خبره چي تاســـو مریض واســـت الله دی خیر کی څه مریضـــي مو وه ما فکر وکی چي تاســـو ته زه ارزښـــت نه لرم نو ځکه زما د جواب مخکي ولاړاست خیر بارک صاحب اوس مو صیحت څنګه دی او ګوره بارک صاحب زه د زړه مریضي نلرم بنه،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک د عاليي د خط جواب وليکی او په جيب کي يی واچوی څه وخت وروسته ثناء راغله او ويويل: استاذه زموږ استاذه وايي چي د خط جواب راکه،

بارک د خط جواب ورکی او ثناء و عاليي ته يوړی کله چي عاليي خط خلاص کی نو بارک ليکلی وه: نه کومه خبره نه ده يو لږ سر دردی مي وو اوس سم سوم تيره ورځ ما فکر کوی چي تاسو نه ياست راغلي نو ځکه می څه ونه ويل او ولاړم او هاهاها هغه د زړه خبره خو ما بس داغسی وکړه خدای دي داسي نکوي،

عاليه د بارک په خط ويلو سره موسکۍ سوه او بيا يي بارک ته خط وليکی خو په دې وخت کي يي د صنف دروازه خلاصه سول عاليي چي وکتل نو خور يي وه عاليي بارک ته ليکلی خط په کتابچه کي پټ کی چي خور يی ونه ويني،

د عاليي خور وويل: عاليي په څه اخته يي ته نه ويني چي تفريح سويده؟

عاليي وويل: شاګردانو ته مي درسونه ويل وروسته در وتلم،

د عاليي خور پر هغي باندي څه شکمنه سوه چي کله عاليي د خور په ليدو کتابچه پټه کړل خو څه يي ونه ويل او د صنف څخه ووتل،

تفريح د ۱۵ دقيقو وروسته خلاصه سول عاليه ډيره خوشحاله سول ځکه د هغي خط پاته وو تر څو بارک ته يي واستوی د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفریح تر خلاصیدو وروسته عالیي ثناء ته وویل: ثناء هله ژر راســه او دا خط بارک اســتاذ ته یوســه او گوره که زما خور درته وویل چي چیرې ځی ورته ووایه چي د کور څخه اوبه راوړم سمده؟

ثناء وویل: سمده استاذي همداسي ورته وایم،

عالیي وویل: شــاباس زما زمرۍ هله ورســه نو چي وخت لږ پاته دی رخصتۍ ته،

ثناء خط بارک ته راوړی او بارک خط خلاص کی عالیي لیکي وه: ښــه ښــه بس الله دی روغ صــیحت درکړی نه تیره ورځ زه راغلي وم خو تاســو ته ډیره غوســه وم نو ځکه مي خط نه در ولیږی خو چي ومي لیدل چي تاسو زما پوښتنه نه وکړه نو ما فکر وکی چی زما غوســـه کومه گټه نه کوي نو ځکه بیرته پخلاء سوم او هو زه د زړه تکلیف نه لرم،

بارک د عالیي د خط په ویلو موسکی سو او د عالیي خط یي په جیب کي واچوی،

څو شــیبي وروســته رخصــتي ســوه عالیه د بارک خط ته په انتظار وه ټول شـــاگردان ووتل خو عالیه لا هم په مکتب کی وه تر ډیر ځنډ وروســـته یي خور ورناره کړه: عالیي! عالیي چیرې یي ژر راووځه چي ناوخته دی،

عالیه په مات زړه راووتل او د کور پر طرف روان سول،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليې ټوله شـــپه د بارک په اړه فکر کوی او پر کټ به یو اړخ او بل اړخ ته اوښتل په همدې فکرو کې تر سهاره ویښه وه کله چې د ســـهار رناګانې خپرې ســـوې نو عاليه ډیره خوشحاله سوه او د مکتب شروع کیدو ته یې ډیره تلوسه وه د سـهار تر چایو وروسـته یې د مکتب ته تلو تیاری شـروع کی او تر څو شیبو وروسته مکتب ته دا او خور روانې سوې کله چې صــنف ته ورســیدل نو ســاعت ته یې وکتل خو د بارک راتلو ته نیم سـاعت وخت پاته وو عاليه ډیره په غوسـه سـول او د غوسې یې خپل ښپې د مځکې ووهلې او ویویل: اوف یو خو دا بارک دومره ناوخته راځي،

ثناء په خپله کوچنې او خوږه ژبه وویل: استاذې! بارک استاذ خو د هلکوانو استاذ دی نو تاسو ولې هغه ته انتظار باست او هره ورځ دا خطونه ولې ور اسـتوې ایا هغه سـتاســو قریب دی؟

عاليه په دې خبره موســکی ســوه او ویویل: زما ګرانې ته نه پوهیږې کله چې غټه ســـوې بیا پوهیږی بـارک خو زموږ قریب نه دی خو قریب به مو سې که د الله خوښه وه،

د عاليې د خبرو په وخت کی د موټرسیکل ږغ سو عاليه ژر د کلکین خوا تــه ولاړل ویلیــدل چې بــارک دی نو ډیره خوشحاله سوه،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي بارک موټرســـيکل ودروی د مدير ســـره تر روغبړ وروسته مدير ورته وويل: بارک! زه ډير سترې سوی يم زه به يو پيشنهاد در ولیکم تاسو يي د پوهني رياست ته یوسی،

بارک وويل: سمده مدير صاحب تاسو يي وليکی،

مدير پشـــنهاد وليکی او بارک ته يي ورکی هلته عاليه په دي انتظار وه چي کله به بارک صـنف ته ولاړ ســي او دي ته به خط را واستوي خو څو شيبي وروسته يي وليدل چي بارک موټرســـيکل چالانده کی او ولاړی په دي ســـره عاليه ډير مايوسه او خپه سوه،

بارک رياسـت ته ورسـيدی يونيم سـاعت په جريان کي يی د رياست کارونه خلاص کړل بارک خپل موټرسيکل د رياست په پارکينګ کي درولی وو کله چي يي کارونه خلاص کړل نو پارکينګ ته راغلی غوښتل يي چي موټرسيکل چالاند کي چي په دي وخت کي يي موبايل تـه زنـګ راغلی کلـه چي بارک موبايل د جيب څخه را وايســـتی نو ويليدل چي د مدير تليفون وو کله چي يي جواب ورکی نو مدير وويل: الســـلام عليکم بارک،

بارک وويل: وعليکم السـلام مدير صـاحب جوړ ياسـت پخير ياست؟

مدير وويل: هو الحمدالله ښنګه ســو د هغه پيشـــنهادو کار مو وکی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک وویل: هو مدیر صــاحب هغه کار مي خلاص کی اوس نو ناوخته دی زه به ولاړ سم کور ته،

مدیر وویل: صــــحی دی خو ما د یو بل څه په اړه تاســـو ته زنګ در ووهلی،

بارک وویل: کومه خبره مهرباني مدیر صاحب ووایست،

مدیر وویل: بارک! فکر کوم دا عالیه استاذه ستاسو سره مینه کوي،

بارک ډیر حیران سو او بیا يي وویل: څه؟ تاسو څه وویل زه پوه نسوم مدیر صاحب،

مدیر وویل: هو بارک عالیه ستا سره مینه کوي،

بارک بیا په حیرانی وویل: مدیر صـــاحب دا اوس تاســـو څه وایست زه خو په هیڅ نسوم پوه عالیه او زما سره مینه؟

مدیر وویل: بارک! ستا تر تلو وروسته عالیه راغلل او ستا په اړه یي زما څخه ډیري پوښتني وکړي د هغي د خبرو څخه دا معلومیدل چي هغه ستا سره مینه کوي،

بارک وویل: څه ډول پوښتني مدیر صاحب؟

مدیر وویل: اول یي ویل چي بارک تاسـو د کومه وخته پیژنی ما ورته وویل چي دا دري کاله کیږی زما اندیوال او اســـتاذ دی را ســـره بیا یي وویل چي دوی څو ورونه دي ما ورته وویل چي بارک د شـــخصـــي ژوند په اړه چاته معلومات نه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي او په اخیره کي یي وویل چي ایا بارک واده کړیدی ما ورته وویل چي نه نه یي دی کړی په دې خبره ســـره هغه ډیره خوشحاله سول،

بارک په دې خبرو ډیر غوســه ســو کله چي ســبا ته مکتب ته راغلی نو عـالیې تـه یي خط ولیکلی او ثنـاء تـه یي پـه لاس ورکی ثنـاء هم هغـه خط عـالیې تـه راوړی او عـالیې خلاص کی بارک لیکي وه: لومړی در ته ســــلام وایم هیله لرم چي روغه او جوړه به یاست تیره ورځ غرمه مهال مدیر صـاحب زنګ راووهلی او ډیرې جالبې خبرې یې کولې ستاسو په اړه غواړم ستاسو د خولې یي واورم،

کله چي عالیې د بارک خط ووایه نو پوه ســـوه چي مدیر تولـه کیسه بارک ته کړیده نو موسکۍ سوه او بیا یی بارک ته خط ولیکی او ثناء ته یي وویل چي دا بارک ته ورووړه،

ثناء خط بارک ته را ورســوی بارک چي کله خط خلاص کی نو عالیې لیکلې وه: وعلیکم الســـلام مننه کوم خدای دی وکي چي تاســـو به هم روغ او جوړ یاســـت ما ســتاســو په اړه څه معلومات څنې وپوښتل نو په دې کي غلط څه دي؟

بارک چي کله د عالیې خط ووایه نو د هغې په جواب کي یي خط ورته ولیکی او ور وایســتوی کله چي عالیې خط خلاص کی نو بارک لیکلې وه: ته ګوره اغلې تاســـو به ماته په ښــه نیت خط را اسـتوی او په ښــه نیت به مو زما په اړه پوښــتنې کړی وی خو که ســبا خلک په خبر ســول هغوی بیا ډول ډول



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاپې راباندې وهی هسې به مو رنګ بد سوی وی بیا که تاسو ماته په ورور خطاب هم وکی خو خلک به یې ونه مني زه خو به پر خپله لاره ولاړ سم خو تاســو د همدې کلي یاسـت تاســو به بیا د خلکو خبرې ونســی زغملای نو هیله کوم نور مه خط را استوه او مه هم زما په اړه د چا ښخه پوښتني کوه،

عالیه ددې خط په ویلو ســـره ډیره خپه ســـوه او بیا یې خط ولیکی او بارک ته یې ور واســـتوی بارک چي خط خلاص کی نو عالیې لیکلې وه: بارک زه د هیچا پروا نه لرم د خلکو خولې خو موږ نســـو ور بندولای او بل هغه متل دی نه دی اوریدلی چي وای د ښــار دروازې بندیدای ســـي خو د خلکو خولې نه بندیږې هو مدیر صاحب چي څه ویلې دي رښتیا یې درته ویلي دي او ورور خو زه تاته هیڅکله نه وایم ما مدیر ته وویل چي زه هم اســـتاذه یم او بارک هم اســـتاذ دی ما هم واده نه دی کړی بارک هم واده نه دی کړی نو په دې کي بد څه دي مدیر صاحب ستاسو په اړه ماته هر څه ویلي دي،

بارک ددې خط په لیدو ډیر په غوسه سو بیا یې قلم او کتابچه واخیستل او عالیې ته یې خط ولیکی او ور وایستوی کله چي عـالیې خط خلاص کی نو بـارک لیکې وه: ګوره اغلې فکر کوم ستاسو عصـاب له فعالیته لویدلي دي ما هیڅکله تاسو ته په دې نظر نه دي کتلي او نه هم غواړم وګورم ځکه دا مکتب دی زموږ مسـؤلیت دا دی چي باید کوچنیانو ته درس ور زده



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کو دا بې معنا کارونه نه نو څکه زه د هم اوس څخه دې بې معنا کار ته د پای ټکی ایږدم بنه وخت ولري،

کله چې عاليې د بارک خط ووایه نو تر ســترگو یې اوښــکې رواني ســوي څو شــيبې وروســته د مکتب دروازه وټکيدل عالیې د کلکین دباندې وکتل کله چې کوچنې دروازه خلاصــه کړل نو ویلیدل چې بـارک وو عـالیـه ډیره وارخطـاء ســـول بارک د مدیر خواته ورغلی او تر څه خبرو وروســـته بیرته خپل صـنف ته ولاړی کله چې بارک ووتی نو عالیه د صـنف څخه په بیړه د مدیر خواته ورغلل او په ژړغونې اواز یې مدیر ته وویل: مدیر صاحب بارک څه ویل؟

مدیر اوږده ساه و ایستل او بیا یې عالیې ته یو خط ورکی او ورته یې وویل: دا یې ویل تاسو یې خپله وګوری،

کله چې عالیې خط خلاص کی نو بارک مدیر ته لیکلې وه: محترم مدیر صـــاحب د وظیفوې غفلت له وجې او په مکتب کی د خپل مســـؤلیت د نه ادا کولو له وجې نور نســـم کولای خپل وظیفې ته ادامه ورکم نو څکه غواړم تاســـو ته د خپلې وظیفې اسـتعفاء درکم هیله ده زما اسـتعفاء ومنی په درنښـت: بارک،

عالیه ددې خط په لیدو په ریږدیدو ســـوه مدیر پوه ســـو چې عالیه د بارک سره ډیره مینه کوی نو څکه یې ورته وویل: ته مه خپه کیږه لورې زه هغه ته په هیڅ ډول اجازه نه ورکوم چې ولاړ سې،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليه ددې خبرې په اوريدو خوشـــحاله ســـوه او بيره يې څه ناڅه ليرې ســـوه خو بيا يې هم زړه نه مطمئن کيدی بيا مدير وويـل: خو لورې زه بـارک پيژنم هغـه ددې مينې او محبت څخه ډير نفرط کوي هغه و نورو ته لا نصـــيحتونه کوي چې اوس ربنتينې مينه نسته....... ) ورځ تياره سول زبير، عادل، سکون او امجد د خپل پلار او عاليې د مينې کيسې ته غوږ وه د عاليې تر ســـترګو اوښـــکې رواني وی او ويويل: د بارک مفکوره ربنتيا وه چې ربنتينې مينه لمنځه تللې ده،

عاليه په فکرو کې ډوبه وه چې په دې وخت کې خدمتګار راغلی او ويويل: اغلې د ډوډۍ وخت دی ډوډۍ تياره ده،

عاليې زبير، عادل، ســـکون او امجد ته وويل: درځې زامنو د ډوډۍ وخت دی ډوډۍ به وخورو،

زبير، عادل، ســکون او امجد د خپل پلار کيســـې ته په فکرو کې ډوب وه او په دې فکر کې وه چې مخته به څه پيښ سوي وي په همدې فکرو کې ولاړ ســـول او د ډوډۍ خوړلو لپاره روان ســـول لکه څنګه چې ټول د خپل پلار او د عاليې په کيسه کې پاته سوي وه او هغه کيسه يې په دماغ کې ګرځيدل راګرځيدل نو ځکه د ټولو ډوډۍ ته زړه نه کيدی د عاليې د خوښـــې خواړه برګر وو کله چې خدمتګار د هغې مخته برګر کښيښوی نو عاليې ته بارک ور پياد سو چې دې به په تليفون کې ورته ويل: اې بارک زه برګر غواړم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک ورته وویل: په دا ســهار وختي زه برګر چیرې پیدا کم ټول خوړنځایونه تړلي دي بل شی به دروړم؟

عالیې ورته وویل: یا یا زه برګر غواړم،

بارک وویل: افف سمده لیونی،

عالیه د بارک دا خبرو ژړول خو چي ویکتل چي مخکي لا زبیر، عادل، ســکون او امجد خپه دي او ډوډی نه خورې نو ځکه یې اوښکي کنټرول کړې،

تر ډوډی خوړلو وروسته ټولو د عالیې خواته وکتل عالیه پوه ســوه چي دوی د پاته کیســې په امید دي نو یې ورته وویل: زامنو اوس بیده سی پاته کیسه به سبا ته در ته وکم،

ټولو وویل: سمده خاله،

وروســـته ټول خپلو اطاقو ته ولاړ او عالیه خپل اطاق ته راغلل او بیده سول کله چي شپه نیمایي سول نو عالیې ته په خوب کي بارک راغلی چي ســپین کالي یې اغوســتي وه او ددې پر خوا را روان دی او خاندي کله چي دې ته را ورسیدی د عالیې تر ســترګو اوښــکي بهیدلي بارک په خپل لســتوني د عالیې اوښـکي ور پاکي کړی او ورته یې وویل: لیونی ته خو پوهیږی چي زه ســتا اوښـــکي نســم زغملای نو ولي په هر واري اوښکو تیولو ما زهیروې؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليې ورته وويل: بارک زه په تا پسې ډيره خپه سوې يم بيله تا مي ډير ژوند سـخت دی زه ژمنه کوم بيابه سـتا زړه نه در ماتوم هيله کوم بارک ما د ځان سره بوځه هيله کوم،

بارک وويل: زه نسم کولای عاليې چي تا له ځانه سره بوځم،

بارک دا وويل او د عاليې څخه روان سـو عاليې ناري ور پسـې وهلی: بـارک! بـارک! مـا يوازې مـه پرېږده بـارک! بارک!،

د عاليې په نارو سره فاطمه له خوبه راکښېنستل او د عاليې د اطـاق خواتـه ورغلـل او د هغې د اطـاق دروازه يې نيمـايي خلاصـه کړل او عاليې ته يې وکتل، فاطمې وليدل چي عاليه پريشـانه پر کټ ناسـته ده او د بارک عکس ته ژاړي، فاطمې دروازه بنده کړه او په پريشـانی خپل د اطاق پر خوا روانه سول، عاليه د بارک د عکس سره خپل د کور پارک ته ووتل او تر سـهاره نسـوه بيده د بارک عکس ته يې کتل، څه وخت وروسته ټول د خوبه راکښېنستل کله چي زبير، عادل، سکون او امجد د خپلو اطاقو څخه راووتل نو ټول سره يو ځای سول او د پارک خواته عاليې ته ورغلل عاليه د بارک عکس ته په فکرو کي ډوبه وه چي په دې وخت کي زبير وويل: سـلام خاله!

عاليې خپل اوښـکې پاکې کړی او بيا يې په موسـکا وويل: اوه زويه تاسو راکښېنستلاست شپه پخير تيره سول درباندې؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادل وويل: هو الحمدالله پر تاسـو باندي هم پخير سـول فكر كوم خاله چي تاسو نه ياست بيده سوي؟

عاليې اوږده ساه و ايستل او ويويل: هو زويه ځنې يادونه مي آرام او خوب ته نه پريږدي،

امجد وويل: خاله چي تاسـو زما د پلار سـره دومره مينه كول نو بيا زما پلار زما د مور سره ولي واده وكی او تاسو ولي د هغه څخه جلا سـولاسـت او زما پلار بيرته څنګه پاته سـو مكتب كي هغه خو مدير ته استعفاء خط وركړی وو؟

عاليې وويل: (..... د مدير صـاحب تر خبرو وروسـته ما بارک ته خط ور واسـتوی كله چي هغه خلاص كي نو ليكلي وه: بارک هيله كوم مه خه او مكتب مه پريږده زه غواړم تاته د خپل زړه خبره وكم هيله كوم مه خه،

بارک د عاليې تر خط ويلو وروسـته هغي ته خط وليكی او ور وايسـتوی كله چي عاليې ته خط را ورسـيدی نو بارک ورته ليكلي وه:د زړه خبره؟ تاسـو څه ويل غواړي مهرباني ووايست،

څو شـيبې وروسـته بارک ته خط راغلی كله چي بارک خط خلاص كی نو عـاليې ليكلي وه: بـارک هيلـه ده زمـا د زړه خبره په غور واوره زه غواړم تاته د زړه خبره وكم خو افف څه وكم نه يی سـم كولای خير زړه به وكم او درته وبه وايم بارک زه سـتا سـره مينه كوم هو بارک ما چي ته په اول وار



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليدلي لا دربانديِ مينه سوم ګوره د ميني اظهار بايد هلكوان وکي خو دا دی ما و تاســـو ته اظهار وکی نو اوس هيله کوم بارک زما ښځه مه څه زه ستا سره رښتيني مينه کوم،

بارک د عالیي خط ووایه او ښو شیبې یي فکر کوی او بیا یي خط ولیکی او عالیي ته یي ور واســـتوی عالیي چې کله خط وکتی نو بارک لیکي وه: ګوره اغلي ما مخکي هم درته وویل چي زموږ مسؤلیت دلته کوچنیانو ته درس ویل دي د مینې او عاشقی خبري نه دي او بل زه نه غواړم چي د چا سره کومه خپلوي جوړه کم ځکه ماته د هري خپلوی ښځه صــــرف او صــــرف غم او تکلیف رســـیدلی دی نور نه غواړم چي ځان غمګین کم،

عالیي چي کله د بارک خط ووایه نو د هغه په جواب کي دي هم خط ولیکی او بارک ته یي ور واستوی کله چي بارک خط خلاص کی نو عـالیي لیکي وه: بـارک زه پوهیږم چي زموږ مسؤلیت کوچنیانو ته درس ویل دي خو د ژوند یو ښه او پاک نفســه ملګری پیدا کول هم یو ضـــرورت دی چي ما الحمدالله ښــه والی او پاک نفســي په تاسـو کي پيدا کړه نو ځکه غواړم تاســـو د ژوند ملګری جوړ کم او بله خبره بارک د زرو په قدر زرګر پوهیږي هغه کسـان چي سـتاسـو زړه یي در مات کړیدی هغوی ســـتا په قدر نه پوهیدل او هغو ســـتا وړتیا نه درلوده خو زه سـتا سـره وعده کوم چي زما په مینه کي به ته هیڅکله غمجن نسـي زه به هیڅکله تاته د شـکایت موقع در نه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کم زه به تل ستا سره همداسي رښتيني مينه کوم ته وګوره بارک تاسو چيرې اوسيږی او موږ چيرې اوسيږو خو الله پاک ته تر دې ځايه څکه را وستلي چي زما و ستا د يو ځای کيدو نصيب او تقدير يي ليکلی وو نو هيله کوم ما يوازې مه پريږده او مه را څخه ځه هيله کوم،

بارک چي کله د عاليي خط ووايه نو زړه يي څه نرم سو او عاليي ته يي خط وليکی او ور وايستوی کله چي عاليي خط خلاص کی نو بارک ليکلي وه: زه ستا د مينې جواب اوس نسم درکولای زه وخت ته اړتيا لرم د دوو ورځو وروسته به زه تاته جواب درکم،

عاليه په دې سره څه ناڅه خوشحاله سوه او بيا يي بارک ته خط وليکی کله چي بارک ته خط ورسيدی نو عاليي ورته ليکلي وه: صحي دی خو بارک که ستاسو جواب منفي وو نو هيله کوم مکتب مه پريږده موږ به تل ښه ملګري يو خو بس ته مه ځه زه به تل ستا مينې ته په انتظار يم،

بارک يي په جواب کي وليکل: صحي دی نه ځم خو ته يو خبره راته وکه زه خو نه ستايلي يم نه ډيرې پيسي لرم نو بيا ته پر ما څنګه مينه سوې؟

د بارک د خط په جواب کي عاليي ورته وليکل: ستاسو ساده والی او پاک نفسي مي خوښه سوه هره انجلۍ دا غواړی چي د ژوند لپاره يو داسي څوک انتخاب کي چي يوازې او يوازې ددې سره مينه وکي دا د يو انجلۍ لپاره هر څه دي،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليه د بارک جواب ته په بې صــبرۍ انتظار وه او په فکرو کې ډوبـه وه چې بـارک بـه هغې تـه څـه جواب ورکي دوې ورځې وربانديې دوه کاله ســول خو تيرې ســوې او د دريمې ورځې په سهار عاليه وختې را کښېنستل تر لمانځه وروسته يې ډيرې دعاوې وکړې د ســـهار تر چايو وروســـته وختې مکتب ته ولاړل خپلو څو شاګردانو ته يې وويل: هلی ورسی د بارک استاذ صنف صفاء او جارو کی،

يو کوچنی پخپله معصــومانه لهجه وويل: اســتاذې بارک شــتا ورور دی؟

عاليه او فاطمه موسکی سوې عاليې ويويل: چپ سه بی عقلې هغه زما راتلونکی خاوند دی،

بل کوچني وويل: استاذې دا خاوند څه شي ته وايي؟

عاليې وويل: اف زما ګراني تاســو نه پوهيږی چي کله غټاني سی نو بيا پوهيږی چي خاوند څه شي ته وايي،

هغه کوچني وويل: يا يا اســتاذې راته ووايه که نه مورږ سـبقان نه وايو،

عاليې وويل: اف سمده درته وايم خاوند دي ته وايي چي مورږ د هغه ســره ټول عمر تيره وو هغه زمورږ د ســر ســايوان وی هغه زمورږ د ســــر تاج وی مورږ ته مينه راکوي خوشـــحالي راکوی د غمو او مثبتو څخه مو ليرې ساتي،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنۍ وویل: زه یی هم غواړم استاذې،

عالیه او فاطمه موسکۍ سوې او بیا عالیې وویل: سمده خو چي غټه سي زه به ستا مور ته ووایم چي د بارک استاذ پخیر خاوند تاته در پیدا کي،

کوچنۍ وویل: یا یا استاذې زه بارک استاذ غواړم،

عالیې وویل:بي عقلې بارک یوازې زما دی،

عالیه د کوچنیانو سره په خبرو مصروفه وه چي په دې وخت کي د بارک د موټرسیکل ږغ سو عالیه ډیره خوشحاله سوه خو کله چي یي بارک ته په کلکین کي وکتل نو بارک ډیر پریشانه وو عالیه د هغه په پریشانه لیدو ډیره خپه سول او پوه سوه چي بارک هغې ته منفي جواب ورکوي عالیه پر هغه ځای پریشانه ناسته وه چي څو شیبې وروسته یو کوچنۍ هلک یي صنف ته راغلی او عالیې ته یي وویل: تاسو عالیه استاذه یاست؟

عالیې په ترخه خوله ورته وویل: هو زه یم وایه څه وایي؟

هغه کوچني د جیب څخه یو د خط پاکټ را وایستی او عالیې ته یي ورکی او ورته یي وویل: دا بارک استاذ راکی ستاسو لپاره،

پاکټ غټ معلوم سو عالیه حیران سول چي په دې کي به نو څه وی خو کله چي یي خلاص کی نو د حیرانتیا او خوشحالیه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي لويه چغه وکړه ځکه بارک ورته ســـور د ګلابو ګل را استولی وو عاليه د خوشـحاليه په صـنف کي په ګرځيدو سوه او ټول کوچنيان يي ښـګل کړل لږ وروسـته يي فاطمه صـنف ته راغله او په ريږديدلی اواز يي عاليي ته وويل: څه پيښــــه سوه ولي دې دومره غټه ناره وکړه؟

عاليي فاطمه په غيږ کي ونيول او ورته يي وويل: بارک ماته ګل را استولی دی هغه زما مينه قبوله کړه،

فاطمه خوشــحاله ســوه او ويويل: نور يي څه ويلي دي که يی صرف ګل درته را استولی دی؟

عاليي وويل: اوه نور خط خو مي هير ســو راســه راســه چي دواړې يي وګورو چي نور يي څه راته ليکلي دي،

کله چي عاليي د بارک خط خلاص کی نو بارک ورته ليکلي وه: ســلام هيله لرم چي روغه او جوړ به ياســت چي دا دوی ورځې مي انتظار کړي ډيره بخښـــنه غواړم ما تر څه فکر وروسـته فيصـله وکړه چي زه بايد ستا مينه رد نه کم نو ځکه درته وايم چي اغلي ليونی ســتا مينه زما قبوله ده زه هم ســتا سره مينه کوم او تل به يي کوم،

عاليي بيا د خوشـــحاليه ناره کړه فاطمي ورته وويل: ته خو رښــتيا هم ليونی يي خو کرار ســه اوس به دې خور دا ســتا ناري واورې،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا عالیې بارک ته خط ولیکی او ور وایستوی کله چې بارک خط خلاص کی نو عالیې ورته لیکلې وه: وعلیکم السلام زه ښه یم ستاسو د روغتیا په هیله یم او ډیره ډیره مننه بارک چې زما د مینې جواب دې راکی او زما مینه دې قبوله کړه خو بارک زما ذهن ته یو پوښتنه راغله هغه دا چې تا خو زه نه یم لیدلې دا که زه بدرنګه او بدشکله وم نو ایا ته به بیا هم زما سره مینه وکې ایا زما ارزښت به تاته همدومره وی لکه څنګه چې اوس دی هیله ده بارک چې ددې پوښتنې جواب راکې بیا هم مننه بارک پر ما ګران یې،

بارک د عالیې د خط په ویلو موسکی سو او بیا یې ددې د خط په جواب کې خط ور واستوی کله چې عالیې خلاص کی نو بارک لیکلې وه: لیونۍ! مینه په زړه کې کیږي مینه له زړونو سرچینه اخلې او زما زړه ته ستا نوم داخل سویدی اوس به تر مرګه زه او زما زړه ستا وي او ته او ستا زړه به زما وي،

عالیه د بارک ددې خط په ویلو ډیره خوشحاله سوه او هغه یې ښکُل کی او بیا یې بارک ته خط ولیکی او ور وایستوی کله چې بارک خط خلاص کی نو عالیې لیکې وه: زه دې له تا قربان سم بارک زه ډیره بختوره یم چې ستا په رکم د ژوند ملګری مې پیدا کی اوس بس د الله څخه دا خواست کوم چې ژر تر ژره مو واده سره را وکې او زه ستا تر څنګ ستا پر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګون په ارامۍ خوب وکم اې بارک مور جانه دې کله را استوي زه ډیر انتظار نسم کولای،

بارک د عالیې د خط په ویلو موسکی سو او بیا یي په جواب کي خط ورته ولیکی او عالیې ته یي ور واستوی عالیې چي خط خلاص کی نو بارک لیکلې وه: اول دا چي بیا داسي خبره ونکي چي تر تا دي قربان سم زما داسي خبرې نه خوښیږی چي ته تر ما قربان سي نو زه بیا دا دنیا څه کوم او دوهم دا چي اغلې د مور راضي کیدل پاته دي چي مور مي راضي سوه نو بیا به زما واده کیږي نو یو څه وخت به صبر کوي زما خو دا زړه غواړي چي همدا نن واده در سره وکم خو څه وکم کلتور او رواج مو اجازه نه راکوي چي د مور د اجازې پرته واده وکو،

کله چي عالیې د بارک خط ووایه نو بارک ته یي په جواب کي خط ولیکی او ور وایستوی کله چي بارک ته خط ورسیدی نو عالیې ورته لیکلې وه: بلکل بارک د مور رضایت دې باید وي خو زه بیریږم داسي نه ستا مور درته ووایي چي زه یی پخپله خوښه در کوم اې بارک که مور جانې دي داسي درته وویل نو ورته ووایه چي ته زما سره ډیره مینه کوې او زه هم ستا سره ډیره مینه کوم،

بارک د عالیې د خط په جواب کي خط ور واستوی کله چي عالیې خط خلاص کی نو بارک لیکلې وه: زه به نن ماښام د مور سره دا موضوع شریکه کم زه مطمئن یم چي زما د مور



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ته خوښــه ســي زه نن ماښــام دا خبره ورته کوم خو اوس ماته اجازه راکه زه څم یو ځای مي څه کار دی زه وختې تلم خو بیا مي فکر وکی چی ســتا څخه اجازه واخلم که نه نو بیا به خدای خبر چي څو ورځي خپه یې نو اغلي زه تلای سم؟

کله چي عالیې خط ووایه نو موســکی سوه او بیا یې بارک ته ولیکل: هو نن دا خبره ور ســره شــریکه که باید چي راضــې یي کي بارک او هو درته اجازه ده خو په یوه شــرط ســبا چي راځې نو ماته به یو برګر هم در سره راوړې،

بارک د عالیې د خط په ویلو سره موسکی سو او بیا یې ورته ولیکل: سمده بابا درته راوړم یې،

کله چي زموږ کلیوالو د شاګردانو سره زموږ کوښښ او زیار ولیدی نو شــاګردان وار په وار زیاتیدل تر دې پوری چي زما په نظر ورکولو مدیر صــاحب اړ ســو چی یو بل صــنف جوړ کي خو زه نه وم خبره چي دا صــنف به زما لپاره یو مصیبت او سرخوږی جوړیږی کله چي صنف جوړ سو نو مدیر ورته د اســتاذې په لټه کي ســو زموږ د کلي یو ســپین ږیری مدیر صاحب ته راغلی او د خپلې لور د استاذې په حیث د مقرریدو پیشنهاد یي ورته وکی مدیر صاحب ورته وویل: بلکل ولي نه چي د بل ځای څخه یې راولم تر دې خو دا ښــــه دی چي د همدې کلي استاذه مقرره کم،

نو هغه وو چي مدیر صــاحب زموږ د کلي یو بله د کاینات په نوم اســتاذه مقرره کړه د هغې صــنف زما د صــنف تر څنګ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو کله چي به ما بارک ته او بارک ماته خطونه را استول نو دا به په کلکین کي ولاړه وه او ثناء ته به يي کتل د هغي به تولـه ورځ همدا کار وو چي زما و د بارک په خطو پسي به يي ځارنه کول کله چي به بارک ماته کومه تحفه راوړل نو ما به خپل خور ته ويل چي دا زما د شاګردانو والدينو ماته را استولي ده هغي به نور څه نه ويل خو کله چي کاينات راغلل او ماته به بارک کومه تحفه راوړل نو هغي به قصداً په تفريح چي مونږ يو ځای کښينستلو زما د خور ومخته ماته وويل: عاليي دا تحفه چا درته راوړل؟

ما به ورته وويل: دا مي د يوې شاګردې والدينو را استولي ده،

بيا به يي وويل: د کومي شاګردې والدينو؟

چي ما به زما يوه شاګرده ور ياده کړه نو دې به بيا وويل: هغه خو زه پيژنم ډير غريبان دي د ماښام د ډوډۍ وس نه لري نو تاته يي تحفه څنګه را واستول،

کله چي به هغې دا وويل نو زما خور به ماته وکتل او پر ما به يي شک پيدا سو چي ماته دا تحفي څوک راوړې بارک په دې موضوع نه وو خبر چي کاينات ماته ستونزې جوړوی او زما لپاره يو سرخوږی جوړه سويده نو څکه ما بارک ته وويل: بارک نور ماته تحفي مه را استوه،

بارک ماته وويل: ولي څه خبره ده خيريت خو به وی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک ډیر غوسه ناکه وو په دې خاطر چي هغه په غوسه کي کوم داسـي اقدام ونه کي چی زما و دده مینه رسـوا سـي نو ځکه مي د کاینات خبره ځنې پټه کړه او ورته ومي نه ویل یو بله بهانه مي ورته وکړل بارک زما سـره دا خبره ومنل خو زه هغه خبرې ډیره وژړولم په هغه ورځ چي کله ما بارک ته وویل چي ماته نور دا تحفې مه راوړه نو هغه ډیر مایوسه سو او ماته یي وویل: عالیې زه پوهیږم چي زما تحفې ډیرې کوچنی دي او د کمو پیسو شیان پکښي کي وی خو زه وعده در سره کوم چي پیسې پیدا کم نو د ډیرو پیسو تحفې به درکم،

د بارک دې خبرې زه ډیره وژړولم او څو ورځې مي خوب ونه کی خو کاینات ته ډیره په غوسـه وم خو په وس کي مي نه وه چي سـزا مي ورکړې وای خو خیر دا ورځې پر ما تیرې سوې یو ورځ بارک راته وویل: عالیې مور مي راضي کړیده او هغه وایي چي سبا ورځو،

ددي خبرې په اوریدو زه ډیره خوشـحاله سـوم او د سـبا لپاره مي تیاری ونیوی او مور ته مي وویل: مور سـبا ته خو به ته کوم ځای ته نه ځې؟

مور مي وویل: ولي څه خبره ده؟

ما اصـلي خبره نسـوای ورته کولای نو ځکه مي ورته وویل: کالي مي درته تیارول،

مور مي وویل: یا نه ځم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سره زه ډېره خوشحاله سوم او اوس د سبا سهار د راتلو انتظاره مې کړم ډېر زره کړم زه ولاړم چې کله الله دا ورځ هم راباندې تیره کړه کله چې سبا سو نو زه وختي مکتب ته ولاړم مدیر چې کله راغلی نو ما د لیونی پخیر ورته وویل: مدیر صــــاحب زه نن ډېره وختي راغلم مکتب ته خو هو نن وختي بیرته ځم،

مدیر چې زما دا د لیونیانو خبرې واوریدې نو موسکی سو او ویویل: سمده لورکۍ ولاړه سه چې هر وخت دي خوښه وی،

خو شــیبې وروســته بارک راغلی عالیې ژر هغه ته خط ور واســتوی او ورته لیکلي یی وه: ســلام بارک! هیله لرم چې پخیر به را رسیدلی یې څنګه سو مور راځې زموږ کور ته؟

بارک عالیې ته خط واســتوی او ورته لیکي یي وه: وعلیکم السلام زه ډېره بخښنه غواړم عالیې د مور فیصله مې بیرته واوښــتل او ماته یې ویل چې ما تاته په کوچنیوالي کوزده درکړیده ویل هغه انجلۍ د لوی خاندانه څخه ده چې زه دوستي نسم ور سره ماتولای نو ما ته بخښه وکه زه ستا نسم کیدای،

عالیه ددې خط په ویلو ډېره خپه سوه او خط یې څیرې کی او ویغورځوی څه وخت همداسې په غمو او فکرو کې غرقه وه چې یو هلک پر اوږه وټکول او ورته یي وویل: اســـتاذې! استاذې!



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي عاليي ورته وکتل نو تر ســترګو يي اوښــکي رواني وې او هغه هلک ته يي په ژړغوني اواز وويل: څه دي؟

هغه هلک ورته وويل: استاذي زموږ استاذ وايي چي زه نور ځم،

عاليي په ژړا ورته وويل: ورته ووايه چي ولاړ سه زه دي په کيسه کي نه يم،

هغه هلک هم تري روان ســــو او بارک ته راغلی او ويويل: استاذه عاليي استاذي ژړل او ويل يي چي ولاړ سه زه دي په کيسه کي نه يم،

بارک ډير پريشــانه ســو او بيا يي عاليي ته خط وليکی او ور وايســتوی کله چي عاليي خط خلاص کی نو بارک ليکلي وه: هي! هي! هي! ليونۍ ما مســخرې کولي ته رښــتيا ســوې؟ او ژاړې؟ سمده بخښنه غواړم بيا داسي نکوم مور مي را روانه ده څو شيبي وروسته به را ورسيږي اوس نو مه ژاړه،

عــاليي د بــارک خط ليرې وغورځوی او بيــا يي وژړل څــه وخت وروسته هلک راغلی او ورته يي وويل: استاذي زموږ استاذ وايي چي خط راکه،

عاليي په درد ورته وويل: څه ولاړ ســه نسته خط ورته ووايه چي زه نور خط نه در استوم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلک ولاړی او څو شیبې وروسته بیرته راغلی او عالیې ته یې خط راوړی کله چې عالیې خط خلاص کی نو بارک ورته لیکلي وه: سمده نو چې ته زما څخه خپه سوې یې زه به اوس مور ته تلیفون وکم چې بیرته کور ته وګرځي،

عالیې ددې خط په ویلو د بارک لخوا را استول سوی هلک ته وویل: هله ورسه استاذ ته مو ووایه چې عالیه استاذه وایي چې زه بیرته پخلاء او خوشحاله سوم هله ژر ورسه،

هغه هلک بارک ته راغلی او ورته یې وویل: استاذ! عالیه استاذه وایي چې زه بیرته پخلاء او خوشحاله سوم،

بارک ددې خبرې په اوریدو موسکی سو او بیا یې د جیب څخه تلیفون را وکښی او مور ته یې زنګ ووهلی او ځای یې ور وښوی څه وخت وروسته د بارک مور او دوې خویندې را ورسیدې او بارک د عالیې کور ور وښوی او هغوی ورغلې، عالیه په صنف کې ډیره پریشانه وه بیا بارک خط ور ولیږی او ورته لیکلي یې وه: مور او خویندې مې ستاسو کور ته ور ولیږلې،

عالیې ورته ولیکل: ایا زموږ کور ته دې ور وستلې داسې نه کوم بل ځای دې استولې وې،

بارک په خط کې ورته ولیکل: نه ستاسو کور وو،

خو د عالیې زړه نه صبریدی نو خپلې شاګردې ته یې وویل: ثناء هله ته ورسه زموږ کور ته وګوره چې څوک راغلي دي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

که نه؟ او ګوره زما مور ته ووایه چي د عالیې کتاب پاته سویدی دلته هغه ورم،

ثناء ولاړل او د هغې خوا بیرته راغلل او عالیې ته یې وویل: هو استاذې ستا د مور سره نورې ښځې هم ناستې وی،

د عالیې زړه څه ارام سو څو شیبې وروسته تفریح سوه بارک د شاګردانو سره د مکتب مخته راووتی عالیې مدیر ته وویل: مدیر صاحب زه نوره ځم،

مدیر هغې ته اجازه ورکړه او عالیه د مکتب څخه ووتل کله چي یې د مکتب مخته بارک ولیدی نو د هغه ورته شـاه وه او عالیه یې نه لیدل کله چي عالیه بارک ته ور نیږدې ســـوه نو بارک یې پر شـــا تیڼګ ووهی کله چي بارک مخ ورته را اړوی نو دا د کور پر خوا روانه سول بارک هغې ته وکتل او موســـکی ســـو پوه ســـو چي عالیې د نن د هغه اول خط ســـزا ورکړه کله چي عالیه کور ته ورســـیدل د بارک د مور او خویندو یې ډیر زیات خیال وســـاتی او ډیر زیات خدمت یې وکی د بارک د مور او خویندو عالیه ډیره خوښه سوه،

بارک په صنف کي ډیر په فکرو کي غرق ناست وو او فکر یې کوی چي د عالیې مور به دده مور او خویندو ته څه جواب ورکي ایا دده د مور به عالیه خوښـــه ســـي او که نه په همدې فکرو کي وو چي یو ســـاعت وروســـته ورته د تلیفون زنګ راغلی چي بارک وکتی نو مور یې وه کله چي بارک تلیفون



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب کی نو مور يي ورته وويل: زويه موږ نور څو کور ته ته زموږ سره ځي او که وروسته بيا راپسي راځي؟

بارک ورته وويل: نه زه بيا وروســـته پســـي در ځم او مور څنګه سو انجلی دي خوښه سول او د هغي مور څه ويل؟

مور يي ورته وويل: چي کور ته راغلي بيا به درته ووايم،

بارک ورته وويل: سمده مورکی،

کله چي مکتب رخصـــت ســو نو بارک په ډيري تلواری کور ته ولاړی او د مور تر څنګ کښينستی او ورته يي وويل: ښه مور کيسه وکه چي څه پيښ سول،

د بارک مور وويل: هو ښه کورنی وه او انجلی مو هم خوښه ســـوه خو مور يي ويل چي زه مي لوڼي خپلو دوســـتانو ته ورکوم،

بارک په دي خبره ډير خفه سو او ټوله ورځ پريشانه وو سبا ته چي کله مکتب ته ولاړی نو مدير ورته وويل: بارک! تاسو راســـی دا د شـــاګردانو ليســـتونه را ســـره ترتيب کی چي په رياست کي يي را څخه غواړي،

بارک هم د مدير تر څنګ کښينستی او د ليستونو پر ترتيبولو کي ور ســره مصــروفه ســو څو شــيبي وروســته مدير وويل: بارک! زه به ورســم لويان او کوچنيان به په صــنفو کي ســره بيل کم او تاسو دا ليستونه ورسوی،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک وویل: سمده مدیر صاحب ولي نه،

مدیر ولاړی او بارک د لیستونو په ترتیبولو مصروفه سو څو شـــیبي وروســـته د بارک تر څنګ کلکین وټکیدی کله چي بـارک ورتـه وکتل نو عـالیـه پـه تور حجـاب کي ولاړه وه او بارک ته یي وویل: سلام زما بارکه،

بارک چي عالیه یي دا لومړي ځل وو چي لیدل یي نو ځکه یي څو شـــیبي د هغي خواته کتل عالیي بیا ورته وویل: تاته وایم اي ښاغلي سلام مي درته ووایه،

بارک موسکی سو بیا یي وویل: وعلیکم السلام،

عالیي وویل: ښه ته څنګه یي زما ګران خاونده،

بارک اوږده د غم ساه و ایستل او څیهره یي خفه معلومه سوه عالیي وویل: څه پیښـه ده بارک خیریت خو به وی مور جانـي زما په اړه څه ویل؟

بارک وویل: ســـتا مور ورته ویلي وه چي زه مي لوني خپلو دوستانو ته ورکوم په دي خپه یم،

عالیه موسـکی سـوه او ویویل: اوه زما سـاده خاونده نو څوک خو په اول ځل چاته لوڼي نه ورکوي دا خو زموږ و ســتاســو کلتور دی چي اول انجلی ګوري بیا دوهم ځل ورته وایي چي تاسو مشوره وکی او دریم ځل د اخیري جواب دی چي یا یي در کوو یا یي نه درکو نو ته مه خپه کیږه چي ستا مور زموږ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ته دوه واري لا راســـي نو ان شـــاءالله زما مور به حتماً ورته ووايه چي صحي دی در کوو يي،

بارک وويل: عاليي زه به خپل مور ته ووايم چي دوه واري نور ستاسو کور ته درسي خو ته دي هم مور ته ووايه چي زه ددي استاذ سره مينه کوم او غواړم واده ور سره وکم،

عاليي وويل: اې بارک موږ انجونو ته که څه هم اسلام دا حق را کړيدی چي په خپله خوښــــه واده وکو خو کلتور مو دا حق را څخه اخيستی دی او څه نه سو ويلای زه مي مور ته نسم ويلای هو چي ستا مور جانه لا يو واري راسي بيا ورته وايم وعده ده،

بارک وويل: سمده خو زما مور ډيره غوسه ناکه ده بيا به يي څنګه راضي کوم چي ستاسو کور ته درسي،

عاليي وويل: الله مهربانه دی او هو رښتيا ستا مور زما په اړه څه ويل ايا زه يي خوښه سوې وم؟

بارک بيا سر کښته کی عاليه په فکر کی سوه او په غمګينه لهجه يي وويل: ولي لکه چي زه يي نه وم خوښه سوي څه يي ويل چي څه عيب يي درلودی؟

بارک وويل: مور مي ويل چي پزه يي ډيره غټه وه،

عاليي په غمګينه لهجه وويل: نور يي څه ويل؟

بارک وويل: ويل عمر يي ډير وو خو په تنه ډيره کوچني وه،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليي وويل: نور يي څه ويل؟

بارک وويل: ويل ورښتيان يي داسي وه لکه د ليونی دا،

عاليي وويل: ښه نور يي څه ويل؟

بارک عاليي ته وکتل چي ډيره پريشـــانه ســـول بيا يي په خندا وويل: ويل ددې هر څه سره سره مو خوښه سول،

کله چي عاليي دا واوريدل نو پوه ســـوه چي بارک ور ســـره مسخري کولي نو ځکه هلته ورته پروت د اوبو په پلاستيکي ګلاس يي بارک وويشتی ګلاس تر بارک واوښتی او پر و نه لګيدی خو بارک پر خپل تندي لاس ونيوی او د اف اف ناري يي کړي عاليه په دي ســره وارخطاء ســول او ژر دباندي ور ووتل او بارک ته يي وويل: بارک! بارک کم ځای دي ژوبل سو ما خو قصداً نه ويشتلې زه بخښنه غواړم بارک،

بارک چي عاليه بيا وارخطا وليدل نو ويخندل او د خپل صنف پر طرف يي وځغستل عاليه پوه سوه چي بارک بيا مسخري کولي نو ګيلاس يي بيا د بارک پر طرف ور وغورځوی،

کاينات بارک او عاليه د خپل صنف د ټولګي ټولګين څخه ځارل او د دوی په دي ســاعتيري ډيره خپه ســوه خو څه يي ونه ويل خو ورځي تيري ســـوي يو ورځ چي کله د مکتب د تفريح وخت ســـو څو شـــيبي مخکي بارک د خپل صـــنف څخه مدير ته ورغلی او ورته وويل: مدير صـــاحب يو ملګري مي تليفون راته کړی وو سخت يي پکار يم زه به ورسم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدير وويل: بارک! دا مکتب زما و ستا په دواړو دی چي هر وخت او هر کله ځي زما اجازې ته اړتیا نسته،

بارک وویل: نه مدیر صـــاحب تاســـو ددي مکتب تأســـيس کوونکي یاست او بیا تاسو زما د پلار په درجه کي یاست او د پلار څخه د کوم څه اجازه اخیستل پر اولادو لازم دي،

وروســـته بارک د مدیر څخه رخصـــت واخیســـتی او د خپل موټرسیکل پر خوا روان سو کله چي موټرسیکل ته ورسیدی نو د کاینات د صـــنف څخه کاینات ور ناره کړه او ورته ویویل: مینه در سره لرم،

بارک په دې خبره سـره تر شـا وکتل خو کاینات ژر د ټولګین څخه لیرې سـوه بارک په دي سـره ډیر وشـرمیدی او د مدير پر خوا يي وکتل خو هغه په خپل کار اخته وو بارک مدیر ته ورغلی او ورته يي وويل: مدير صـاحب هغه د پای صـنف د چا دی؟

مدير وويل: د کاینات استاذې دی ولي څه خبره ده؟

بارک وویل: تاسو دا ناره نه واوریده؟

مدير وويل: نه ولا نه ده مي اوریدلې څه خبره وه؟

بارک وویل: زه پر موټرســـیکله روانیدم چي د هغه پای د صنف څخه یو چا راناره کړه بده خبره يي وکړه تاسو ورسی وګوری چي دا څوک وه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدير د هغه صـــنف پر خوا ورغلی، بارک پر موټرســيکل کښينستی او ولاړی سبا ته چي کله بارک راغلی تر روغبړ وروسته يي مدير ته وويل: مدير صاحب تيره ورځ څه خبره وه هغه تاسو چي بيا ورغلاست؟

مدير وويل: هغه نوي اســتاذ کاينات وه چي ږغ يي درکړی وو،

بارک په دي خبره حيران سـو او ويويل: نو هغي ولي داسـي وکړه نـه خو زه هغه پيژنم نـه هغه ما پيژني نو بيا يي ولي داسي کار وکی؟

مدير وويل: نه پوهيږم خو زه چي کله صـــنف ته ورغلم نو ډيره مي تهديد کړه او په غوســـه مي اخطار ورکی چي بيا داسي ونه کي،

کله چي مدير کاينات تهديد کړه نو په دې سره د هغي په زړه کي بارک او عاليي ته سخته دوښمني او بغض پيدا سو او د بدل اخيستو قصد يي وکی، څو ورځي وروسته کاينات خپل د پلار سـره د بارک او عاليي څخه د بدل اخيســتلو پلان جوړ کی د عاليي پلار يو ساده سړی وو چي د هر چا په خبرو به يي باور کوی نو ځکه د دوی پلان د عاليي و پلار ته وو، د کاينات پلار يو ورځ د عاليي د پلار سره پر ځنګ سو او هغه ته يي د مکتب بحث شـــروع کی او بيا يي ورته وويل: زه غواړم نور مي لور د مکتب د استاذی څخه منعه کم ولي چي اوس وخت ددي نه دی حالات خراب دي هسـي نه سبا مو په



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي کي نوم را بد کي بيا به چاته هيڅ ســـترګي ونه لرو که زما په قول کوي ته دي هم خپلي لونبي د مکتب څخه راوباسه،

د عاليې پلار د کاينات د پلار په خبرو باور وکی او عاليې او د هغې خور ته يی وويل چي نور به مکتب ته نه ځی، په دي ســـره عاليه ډيره پريشـــانه ســـول کله چي بارک ته دا خبر ورسيدی نو هغه هم ډير پريشانه سو او ټوله ورځ به د عاليې په فکر کي وو چي څه به پيښ سي او بيا به کله د عاليې سره ووينم او که نه پر بارک څو ورځي ډيري سختي تيري سوي چي نه يي عاليه ليدل او نه د هغې خط، څو ورځي وروســـته چي کله بارک مکتب ته راغلی په صـــنف کي ډير غمګين ناســـت وو چي يو کوچنی انجلی راغلل او بارک ته يي خط ورکی بارک د خط په ليدو ډير خوشـــحاله ســـو او خط يي ژر خلاص کی ويليدل چي د عـاليې خط دی عـاليې ليکلي وه: سلام زما بارکه هيله لرم چي روغ او جوړ به يي کله کله دي زما شـاګرداني کيســي راته کوي وايي بارک اسـتاذ چي اوس کله مکتب ته راځي نو ډير غمګين وي پوهيږي بارک زه تر تا لس چنده ســتا په ليدو او خطو پســـي خپه ســـوي يم خو څه وکم هيڅ نســـم کولای زما پلار ته د کاينات پلار ويلي وه چي لونبي دي د مکتب څخه راوباســـه زما پلار ډير ســـاده دی د هغې د پلار پـه دوکـه او چمبـازی يي بـاور وکی او موږ يي مکتب ته د درتلو څخه منعه کړو بارک ته هيڅ فکر او غم مکوه زه ستا يم ستا سره مينه کوم او ستا سره واده کوم او د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ تر ساعته به پر همدې خبره ولاړه یم نور دي پر خدای سپارم پر ځان پام کوه ستا عالیه،

بارک د عالیې د خط په ویلو ډیر خوشحاله سو او بیا مدیر ته ورغلی او د کاینات د پلار او د عالیې د پلار په اړه ور سره وږغیدی مدیر پلان ونیوی چې باید د عالیې د پلار سره ووینې، څو ورځې وروسته مدیر د عالیې د پلار سره ولیدل او هغه یې د ټول حقیقت څخه خبر کی کله چې د عالیې پلار پوه سو چې د کاینات د پلار مقصد صرف زما د لوڼو د مکتب څخه را ایستل وه نو ځکه یې پریکړه وکړه چې یو ځل بیا خپلې لوڼې مکتب ته واستوې کله چې بارک او عالیې ته دا خبر ورسیدی نو دواړه ډیر خوشحاله سول سبا ته بارک مکتب ته د معمول خلاف وختې راغلی عالیه هم وختې راغلې وه کله چې عالیې د بارک د موټرسیکل ږغ واوریدی نو ژر د بارک د لیدو لپاره په موسکا د صنف دباندې را ووتل، بارک چې کله د مدیر سره روغبړ وکی نو پر مخامخ کلکین یې پر عالیې سترګې ولګیدې د هغې په لیدو ډیر خوشحاله سو خو د مدیر مخته یې هیڅ نسوای ورته ویلای نو ځکه پټه خوله دواړو سره خندل عالیې بارک ته په کلکین کې کتل چې څو شیبې وروسته یې خور د صنف څخه نابېره پر راووتل لومړی یې عالیې ته وکتل چې خندل یې او بیا یې بارک ته وکتل چې هغه هم خندل د عالیې خور ته پام نه وو خو چې کله یې د هغې خواته فکر سو او هغه ورته ډیره په غوسه وه نو ډیره وبیریدل او صنف ته ولاړه د عالیې خور



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم څه ونه ویل او خپل صنف ته ولاړه کله چي ماښام سو نو د عالیې خور د هغې په پټه خپل مور ته تړوله کیســـه وکړه، د عالیې مور په دې سره ډیره پریشانه سوه خو عالیې ته یې څه ونه ویل او د عالیې خور ته یې وویل: شـــاید هغه خطایســـتلې وي خو ته پســـې ګوره که یې بل وار داســـي وکړه نو بیا زه مدیر ته خپله ورځم او ورته وایم چي دا اســـتاذ نور په مکتب کي مه پرېږده که نه نو زه خپل لوڼې بیا نه را استوم،

د عالیې د مور په زړه کي بارک ته ډیر نفرط پیدا ســـو او د هغه په اړه به یې ډول ډول غلط فکرونه کول، عالیې بارک ته ځو ورځې خط نه ور ولیږی ځکه چي خور یې پســـې کتل او څارل یې خو د بارک زړه نه صـــبریدی نو ځکه یې عالیې ته خط ولیکی او ور وایستوی کله چي عالیې ته خط ورسیدی نو بارک ورته لیکلې وه: ســـلام! اغلې لکه چي مینه دي نوره ختمه سویده را سره که څنګه اوس دي هیڅ خط نه معلومیږي او نه هم ته معلومیږې څه خبره ده خیریت خو به وي؟

عالیې لومړی د صـــــنف دباندې وکتل چي خور خو به یې نه وي او بیا یې بارک ته خط ولیکی او ور وایســـتوی کله چي بارک خط خلاص کی نو عالیې لیکلې وه: وعلیکم الســـلام! هیڅکله نه زما بارکه زه به تل ســـتا ســـره مینه کوم تر مرګه هغه ورځ چي ما او تا په کلکین کي ســـره ولیدل په هغه ورځ زما خور زه ولیدلم او ته یې هم ولیدلې هغه بیا ولاړه او زما مور ته یې تړوله کیســـه وکړه زما مور اوس دا پر ما مقرره



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړیده پر ما څارنه کوي نو ځکه زه تاته اوس خط نســـم در استولای زما بارکه هیڅکله دا فکر ونه کي چي زما مینه ستا ســـره کمه ســـویده زه اوس هم ســـتا ســـره هغومره مینه کوم څومره چي مي اول کول یو څو ورځي به صـــبر وکو چي حالات ســم ســول بیابه خبرې وکو اوس دي پر خدای ســپارم زما بارکه،

بارک په دې خبر سره ډیر پریشانه سو چي یو بل غم راباندې راغلی هره ورځ پر بارک او عالیې ډیره ســـخته تیریده یو ورځ عالیې بارک ته خط واستوی کله چي بارک خط خلاص کی نو عالیې تر سـلام وروسـته ورته لیکلې وه: بارکه بس ده نور زه دا حالت نسم زغملای نور دي مور را واستوه زموږ کور ته،

بارک د عالیې د خط په جواب کي هغې ته خط ور واســـتوی بارک ورته لیکلې وه: عالیې ســـتا مور چي زموږ په کیســـه خبره ســـوه نو د هغې په زړه کي به زما لپاره ډیر نفرط پیدا سوی وي اوس که زما مور ستاسو کور ته درسي نو ستا مور به حتماً بیا منفي جواب ورکي نو ښـــه حل لاره یي دا ده چي ته خپل مور ته خپله ووایې چي زه د بارک ســـره مینه کوم او غواړم واده ور سره وکم کله چي ستا مور پوه سي چي ته هم زما سره مینه کوې نو بیا به زما او ستا په واده راضـــي ســـي اوس ستا مور دا فکر کوي چي ما ته خطایستلې یې یا هم زه غواړم په زور سره ستا سره مینه وکم او تا خپله کم او که ته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ووايي چي نه داسي نه ده چي ته هم زما سره مينه کوي
نو بيا به ستا د مور باور وسي چي ما ته نه يي خطايستلي،

عاليه د خپلي کورنۍ څخه بيريدل نو ځکه يي د بارک دا
خبره نه منل خو بارک دوهم وار خپل مور نسواي ور
استولای هغه پوهيدی که مي مور ورسي نو کيسه به خرابه
سي خو سمه به نسي همداسي د ژوند شپي او ورځي تيريدي
يو ورځ بارک عاليي ته وويل: عاليي نور مه ماته خطونه را
استوه او مه هم زما سره وينه که ستا نيت نه وي چي زما
سره واده وکي نو دا زموږ خطونه او ليدل بي معنا او بي
فايدي دي،

عاليي ورته وويل: بارک زه په رښتيا ستا سره مينه کوم او تا
غواړم خو څه وکم زړه نسم کولای چي مور ته مي ووايم،

بارک وويل: خو اخير ولي ايا ته دي د مور څخه بيريږي
هره مور دا غواړي چي د هغي لور دي تل خوشحاله اوسي
او مور د لور هر څه او هر درد ډير ژر درک کولای سي
لور مور ته ډيره ور نيږدې وي که غواړي چي زما سره واده
وکي نو مور ته به دې وايي چي ته هم زما سره مينه کوي
کله دي مور ته وويل نو بيابه زه مور ته ووايم چي ستاسو
کور ته درسي،

عاليي وويل: صحي دی خو زه يو څه وخت ته اړتيا لرم هيله
ده بارک چي درک مي کي،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک وويل: ســمده چي هر وخت ورته وايي ورته ووايه خو چي هر څومره ژر وي،

عاليي د بارک ســـره وعده وکړه چي مور ته به وايي چي دا هم د بارک سره مينه کوي او غواړي واده ور سره وکي هره ورځ به يي مور ته د ويلو کوښـــښ کوی خو ويلای به يي نســـوای ورځې شـــپي تيريدې يو ورځ چي عاليه مکتب ته وختې راغلل نو يي مدير ته وويل: مدير صاحب تاسو يو ځل ستاسو موبايل راکي زه مي پلار ته تليفون کوم چي ماښـام ته څه څه راوړه،

کله چي مدير عاليي ته تليفون ورکی نو عاليه خپل صــنف ته ولاړل او بارک ته يي تليفون وکی تر څو شـــيبو وروســـته بارک تليفون ته جواب ورکی عاليي د مدير په اواز کي بارک ته وويل: بارکه نور مکتب ته مه راځه ته ولي د عاليي ســره واده نکوې؟

بارک وخندل او پوه ســـو چي عاليه ده نو يي وويل: مدير صــاحب هغه ډيره بې عقله ده بد شــکل يي هم دی زه مينه هم نه ور سره کوم،

عاليه په دي سره غوسه سوه او بيا يي بارک ته وويل: ښه ښه ته زما په غياب او پټه په ما پسې داسي خبرې کوې؟

بارک په خندا وويل: ليونی زه پوه ســـوم چي ته يي او زما سره ساعتيری کوې نو ځکه مي داسي درته وويل،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالیي وويل: نه زه يي نه منم ته زما ســـره رښـــتيا هم مينه نکوې او زه تاته بدشکله معلوميږم،

بارک وويل: ليونی وايم ما مســـخرې کولي ته ماته د نړۍ تر ټولو ښـکلي معلوميږې او زه ستا سـره تر حد زياته مينه کوم او تل به يي کوم که يي ته کوې او که يي نکوې،

عـاليي وويـل: هو بس بس اوس مي پـه دې خبرو بيرتـه مـه راضي کوه زه ستا څخه خپه سوم،

بارک وويل: اخه سـمده بابا بخښـنه غواړم بيا په مسـخرو او سـاعتيرې کي لا داسـي نه وايم اوس خو نو پخلاء سـه هيله کوم،

عاليي وويل: سمده په يوه شرط نن زه دوه داني برګره غواړم د خاله لور مي هم راســره راغلي ده يوه دانه د هغې لپاره او يوه دانه زما لپاره،

بارک موسکی سو او بيا يي وويل: نه يي دروړم،

عاليي وويل: اې بارک زه برګر غواړم،

بارک ورته وويل: په دا سـهار وختي زه برګر چيرې پيدا کم ټول خوړنخايونه تړلي دي بل شی به دروړم،

عاليي ورته وويل: يا يا زه برګر غواړم،

بارک وويل: افف سمده ليونی،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالیې خپل د خاله لور ته د بارک کیســـې کولې عالیې د خاله لور ته وویل: بارک زما ســـره ډیره زیاته مینه کوي نو ځکه به تر واده وروسته زموږ ژوند ډیر خوشحاله وي،

د عالیې د خاله لور موسکۍ سوه او بیا یې وویل: د نن زیاتره هلکوان صـــرف پر ژبه خواږه وي مینې ته هیڅ اهمیت نه ورکوي مینه یې تر محدوده وخته وي،

عالیې وویل: زما بارک داسې نه دی هغه زما سره ډیره مینه کوي،

د عالیې د خالـه لور وویل: د زیاترو هلکوانو کیســـې مې اوریدلې دي چې نن د یوې انجلۍ سره سبا د بلې انجلۍ سره وي،

عالیې په غوســـه د خاله لور ته وویل: ما درته وویل چې زما بارک داسې نه دی،

د عالیې د خاله لور وویل: صـحي دی راسـه امتحان به یې کو چې څنګه ستا بارک بلې انجلۍ ته ګوري که نه،

څو شیبې وروسته د بارک د موټرسیکل ږغ سو عالیې وویل: بارک راغلی!

د عالیې د خاله لور وویل: ښــه ته د بارک د موټرســیکل ږغ پیژنې؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليه موسـکی سـوه سـر يي وښـوروی چي هو، څو شـيبې وروسـته يو کوچنی شـاګرد راغلی چي کڅوړه يي هم په لاس کي وه او عاليي ته يي وويل: اسـتاذې دا بارک اسـتاذ راکړل چي عاليي استاذې ته يي ورکه، عاليي د شـاګرد څخه کڅوړه واخيسـته ويکتل چي برګر وو نو ډيره خوشـحاله سوه، په دې وخت کي د عاليي د صـــنف مخته کاينات هم تيريدل چي د عاليي په لاس کي يي برګر وليدل پوه سوه چي دا بارک ورته راوړيدې نو ډيره غوسه سوه او د ځان سره يي وويل: عاليي فقيرې ته يي بيا برګر راوړيدی،

د عاليي د خاله لور وويل: عاليي ته برګر اوس پريږده بيابه يي وروســـته وخورو اوس به زه بارک معلوم کم چي ايا هغه هم د نورو هلکوانو پخير چمبازه دی او که رښتيا هم ستا سره رښتيني مينه کوي،

عاليي ورته وويل: صحي دی خو که هغه رښتيا هم زما سره رښـتيني مينه کول نو تر غوږ دې نيسـم او ښـه تينګ يي در پيچم چي ښه درد وکي،

د عاليي د خاله لور وويل: صحي دی خوښه مي ده،

عاليه او د خاله لور يي دواړې تر صنف راووتلې ويليدل چي بارک د مدير سره پر څه موضوع ليکنه کوي د عاليي د خاله لور عاليي ته وويل: عاليي ته همدلته د صـــنف ترڅنګ راته ګوره زه د کلکين خواته ورځم او بـارک ځـانته متوجې کوم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشـــارې ورته کوم که هغه هم ماته څه اشـــاره وکړه یا یې وخندل نو پوه سه چې سم نه دی،

د عالیې د خاله لور د کلکین خواته ورغله هلته ودریدل بارک سـر کښـته ځړولی وو او کښـته یې کتل د عالیې د خاله لور بارک ته اشـــارې کولې خو د هغه پام نه وو ورته څو شـــیبې وروسـته بارک د سـترپا احسـاس وکی او چوکی ته یې ځنګ ووهی چې په دې وخت کې یې د عالیې د خاله لور ته پام سو چې اشارې یې ورته کولې او خندل یې، بارک ډیر حیران سو فکر یې کوی چې شاته یې بل څوک دی شاید هغه ته یې کوي نو ځکه یې شاته وکتل خو هلته څوک نه وو بیا یې د عالیې د خاله د لور خواته وکتل هغې همهغســـې اشـــارې ورته کولې بارک ډیر وشـــرمیدی او ســـر یې لاندې وځړوی څو شـــیبې وروســـته چې یې ســـر راپورته کی نو د عالیې د خاله لور بیا ورته اشارې کولې، بارک مدیر ته وویل: مدیر صاحب زه به نور صنف ته ولاړ سم چې مکتب رخصت سو بیا به راسم،

مدیر وویل: نه لږ پاته دي دا به سرته ورسوو بیابه ولاړ سي،

کله چې مدیر و بارک ته د نه تلو وویل نو بارک بیا د کلکین خواته وکتل خو د عالیې د خاله لور لا هم هلته ولاړه وه خو بارک په خپل کار اخته ســو او د هغې خواته یې ونه کتل څو شیبې تیرې سوې بارک په کار کولو ستړی سو خو کله چې یې ســر راپورته کی نو د عالیې د خاله لور بیا اشــارې ورته شــروع کړې بارک د ځایه ولاړ ســو مدیر ته یې وویل: مدیر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب زه څم په خپل صنف کي به يي ورسوم دا کاغذان، بارک دا وويل او ولاړی عاليي خپل د خاله د لور غوږ ټينګ ونيوی او صنف ته يي بوتله او ورته يي وويل: ما نه درته وويل چي بارک يوازې زما سره مينه کوي خو تا نه منل اوس دي وليدی؟

د عاليي د خاله لور وويل: هو هو ومي منل چي بارک يوازې ستا سره مينه کوي خو اوس مي نو غوږ ايله که،

عاليي د خاله د لور غوږ ايله کی او د خاله لور يي وويل: رښتيا هم بارک ډير ښه ځوان دی ته ډيره بختوره يي چي بارک دي پيدا کړيدی بس اوس چي مو د خيره واده وسي نو نوره به هم بختوره سي زه پوهيږم چي بارک به تاته ډيره مينه درکي،

د عاليي او د خاله د لور مجلس سره روان وو وروسته يي د بارک د راوړل سوو برګرانو په خوړولو شروع وکړه کاينات خپل يو کوچنی شاګردي ته وويل: زوها! هله ورسه د عاليي استاذي د خور صنف ته ورسه او هغي ته ووايه چي بارک استاذ عاليي ته برګر راوړل،

زوها هم ورغلل او د عاليي خور ته يي وويل چي بارک استاذ عاليي ته برګر راوړل، ددي خبري په اوريدو د عاليي د خور مخ له دردة تک سور سو او بيا د موضوع د رښتيا معلومولو لپاره د عاليي صنف ته ورغله نو هلته په رسيدو يي وليدل چي رښتيا هم بارک عاليي ته برګر راوړي دي، د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاليي هم خپل خور ته پام ســـو چي ډيره ورته په غوســـه وه عاليه ډيره وارخطاء ســوه د ځان ســره يي وويل چي اوس نو بيا مور ته وايي دا ورخ ورباندي ډيره په سختئ تيره سوه کله چي کور تـه ولاړل نو خور يي تر دي مخکي راغلي وه د عاليي زړه ډير غورځيدی چي خور به مي مور ته ټول حال ويلی وي خو مور يي ورته څه ونه ويل په دي ســـره عاليه ډيره خوشــحاله ســوه چي ګواکي خور مي مور ته هيڅ نه دي ويلي،

د ماښــام تياري خپري ســوي بارک پر بيســتر پروت د عاليي ســره په ويښــه د واده خوبونه ويني د ځان ســره يي وويل چي سبا به عاليي ته وايم چي زما او ستا د اطاق او خوني ډيزاين به څه ډول وي زه به ورته ووايم چي زما خوښه خو داسي ده چي زما او ستا د خوني ديوالونه به په تور رنګه ديوالي کاغذ کي وي په خونه کي به مو ســپينه او ســره رنګه غالی هواره وي د پلنګ تر څنګ به ښـــايســـته کوچونه وي پر ديوال به عصري ډوله ساعت وي...... ،

عاليه هم په داغه فکر کي وه هغي هم د ځان ســـره وويل چي زه بـارک تـه وايم چي د خوني رنـګ بـه مو تور وي او پر ديوال به درختي ته ورته د کتابو الماری وي......، کله چي ســهار سو او د عاليي د مکتب ته د تلو وخت سو نو عاليي د مکتب بسته واخيستل او د مکتب پر خوا روانه سول خو کله چي د کور دروازي ته رســـيدل نو ويليدل چي ورور يي د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې مخته ولاړ دی عالیه ډېره وارخطاء سـوه خو څه یي ونه ویل او د دروازې خواته ور نیږدې کیدل کله چي دروازې ته ورسیدل نو ورور یي ورته وویل: چیرې ځي؟

عالیې وویل: مکتب ته ځم،

ورور یي وویل: بیرته کورته وګرځه نور مکتب ته مه ځه ددي وروسته دې ونه وینم چي بیا ولاړه سي،

عالیې ورته وویل: خو ولي څه خبره ده؟

ورور یي په غوســـــه وویل: بس مه ځه وګرځه بیرته کورته هله!

په دې سـره عالیه ډېر پریشـانه سـوه نیږدې وه چي ددي لویه غمه یي لویه چغه او ناره کړې وای خو که یي داســـي کړي وای نو د ورور د سـخت غبرګون سـره به مخ سـوې وای کله چي یي د کور خواته مخ واړوی نو تر ســـترګو یي اوښـــکي رواني سـوې او ډېره مایوسـه سـوه، څو شـیبې وروسـته بارک مکتب ته را ورسیدی اوضاع داسي معلومیده چي عالیه نه ده راغلي نو ځکـه بـارک د مـدیر خواتـه ورغلی او تر روغبړ وروسـته یي په زړه نا زړه مدیر ته وویل: مدیر صـاحب فکر کوم عالیه نه ده راغلي؟

مدیر وویل: هو عالیه او خور یي دواړې نه دي راغلي شـــاید کوم ځای تللي وي،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي به عاليه مکتب ته نه وه راغلي نو بارک به ډېر پريشـــانه وو او ټوله ورځ به وربانديې په پريشـــانۍ تيريدل د بارک زړه څه خوشـحاله وو چي خير يو ورځ ده تيره به سـي خو کله چي ســـبا ته راغلی نو بيا هم عاليه نه وه د بارک پريشـاني دوه چنده سـوه خو اميد يي سبا ته وو خو سبا ته بيا هم عاليه نه راغله د عاليي د هرې ورځي په نه راتلو د بارک پريشـــاني وار په وار زياتيدل په همدې کي څو ورځي تيرې ســـوې بارک د عاليي او د هغي د کورنۍ د عزت په خاطر د عاليې پوښـتنه هم د چا څخه نسـوای کولای د عاليي د جدايی غم به يي پر زړه تيروی ........ ) عادل او ورونه يي ټول د عاليي کيسي ته غوږ وه بيا عاليي وويل: د بارک حال به ماته زما شاګردانو راوړی بارک په ما پسي ډير خپه سوی وو کله چي به زه د هغه څخه يوه ورځ هم ليرې سوم او مکتب ته به نه وم ورغلي نو پر هغه به دا ورځ ډيره ســـخته تيريدل ولي چي هغه زما سـره رښـتيني مينه کول سـتاسـو د پلار زړه ډير صـفاء او رښــتينی وو هغه به په ډير لږ وخت کي د خلکو په زړو کي ځای پيدا کوی،

امجد وپوښـــتل: بنـــه خاله جاني بيا څه وســـول ايا بيا تر هغه وروسته تاسو زما د پلار سره وليدل؟

عاليي وويل:(....... بارک به هره ورځ زما د ليدو په اميد راتلی خو زه به ورونو نه پريښـوولم چي مکتب ته ولاړه سـم تر داســـي حده چي ما نســـوای کولای چي بارک ته خط هم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

واستوم ډیر وخت تیر سو چي نه ما د بارک سره ولیدل او نه هم بارک زه ولیدلم، یو ورځ بارک په صــنف کي ناســت وو چي یو کوچنۍ د دباندې ښځه بارک ته ور ږغ کړه: اســتاذه! استاذه!،

بــارک لکــه د خوبــه چي ځوک نــاره پر وکي همــداســـي وغورځیدی او هغې کوچنۍ ته یي وویل: ها وایه څه خبره ده؟

هغې وویل: تاسو راسی زما څه پکار یاست،

کله چي بارک ورغلی نو هغې تر پوړني لاندې په لاس کي خط پټ کړی وو او بارک ته یي ورکی بارک د خط په لیدو ډیر خوشحاله سو کوچنۍ انجلۍ بارک ته وویل: استاذه زه یي ځو شیبې وروسته په جواب پسي راځم،

بارک په بیړه خط خلاص کی نو ویلیدل چي د عالیې خط دی بارک هغه خط ښکُل کی او بیا یي په ویلو شروع وکړه عالیې بارک ته لیکلې وه: سلام زما بارکه الله دی وکي چي روغ او جوړ به یي زه بیله تا د مرګ په امید ناســـته یم په ژوند تر مرګ خوشــحاله یم ته به نو پوښــتنه کوې چي ولي هغه اوله ورځ چي زه نه درلم مکتب ته وجه یي دا وه چي خور مي بیا زما مور ته زما شـکایت کړیدی کله چي ما غوښـتل مکتب ته درســـم نو ورور مي د کور په دروازه کي ولاړ وو ویل یي چي نوره مکتب ته مه ځه زه یي اوس په کور کي د لیونی



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخير بنده کړي يم زما ډيره نفستنګي کيږي بارک نور ما ددې زندانه خلاصه که ما يو ليرې ځای بوځه هيله کوم بارک،

بارک ددي خط په ويلو اوږده ساه و ايستل او بيا يي عاليي ته خط وليکی او ور وايستوی کله چي عاليي خط خلاص کی نو بارک ورته ليکلي وه: ســـلام ته دې وعليکم الســـلام وايم د ژوندي حيوانه چي کله غوښـــه پريکوې نو پر هغه به څومره زيـات تکليف تيريږي خو هغـه رکم تکليف مي قبول دی نـه ستا جدايي نو ته فکر کوې چي زه به خوشحاله يم خو خير دا هر څه زغمم په دې هيله چي يو ورځ به ته زما کيږي او بيا به د مينې په بدل کي دا هر څه هير کم او عاليي د بې عقلانو خبرې مکوه چي ما ليرې ځای بوځه تښـتي خو څوک د پردو ښځه د خپلو ښځه نه که دا کار ما کولای نو د وخته به مي درته ويلي وای چي راځه خو نه زه داســـي کار هيڅکله نکوم ولي چي زه نه غواړم ســـتا د پلار او ورونو عزت د خاورو ســـره ور خاورې کم زه الله ته اميد لرم چي يو ورځ به ســـتا ورونه خپله دا هيله ولري چي تا و ماته راکي ما ســـتا د غوښـــتلو ډيرې دعاوي کړيدي او الله زما هره دعا راقبوله کړيده اميد لرم چي دا بـه هم راقبولوې نو بيـا داســـي د بې عقلانو خبرې مکوه،

څنګه چي بارک ويلي وه هم هغســي وسـوه داسـي ورځ راله چي زما ورونو او کورنۍ دا هيله درلودل چي ما بارک ته ور په نکاح کي خو هغه وخت ډير ناوخته سوی وو ما او زما



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنی د بارک په پیژندلو او خپلولو کي ډیر ناوخته کړی وو مورږ د بارک د خپلولو موقع د لاسه ورکړي وه څه چي مورږ د بارک سره وکړه شاید په تاریخ کي چا داسي نه وي کړي کله چي بارک دا خط ماته ولیکی چي هغه به هیڅکله داسي کار ونکي چي په سبب یي زما او زما کورنی بې عزته سي نو ما هغه ته خط ولیکی او ور ومی لیږی، کله چي بارک خط خلاص کی نو لیکلي وه: نو بارک ته راته ووایه چي باید څه وکو چي زما و ستا واده وسي،

بارک د عالیي د خط په جواب کي خط ولیکی او ور وایستوی کله چي عالیي خط خلاص کی نو بارک ورته لیکلي وه: عالیي مورږ بله لار نلرو بیله دي چي ته خپل کورنی ته ووایي چي ته هم زما سره مینه کوي او غواړي یوازې زما سره واده وکي دا خبره زمورږ د مذهب خلاف هم نه ده زمورږ مذهب مورږ ته دا اجازه راکړیده چي پخپله خوښه د ژوند ملګري انتخاب کړو خو ته جرأت وکه او کورنی ته دي دا خبره وکه،

عالیي دا جرأت نسواى کولاى چي کورنی ته ووایي په دي خاطر نه چي هغه د خپلي کورنی څخه بیریدل هغي د بارک څخه یو راز پټ کړی وو که یي هغه راز بارک ته ویلاى واى نو بارک به هیڅکله د هغي سره مینه نه واى کړي خو د وخت په تیریدو بارک د هغي په دي راز پوه سو هغه داسي چي د بارک او عالیي خط یو ځل بیا دوام مندلی وو او هره



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ به یې خطونه سره استول چې کورنۍ یې یو ځل بیا په خبره سول او عالیه یې ډیره وترټل د عالیې ددې کړنو څخه یې کورنۍ ډیره ستړې سوې وه نو ځکه یې د هغې د واده کولو فیصله کړې وه د عالیې مور چې څنګه د بارک مور ته ویلې وه چې مور یې خپلو دوستانو ته ورکوو نو هم هغسې د عالیې کورنۍ د خپلو دوستانو په یو کور کې د هغې د ورکولو فیصله وکړه لکه څنګه چې د عالیې کورنۍ پوهیدل چې عالیه د بارک سره مینه کوي خو د ضد او غوسې لکبله یې داسې فیصله وکړه چې پخپلو خپلوانو کې د هغې واده د ماهر نامې هلک سره ور وکې عالیې ددې څخه انکار کوی خو یو ورځ یې خور ورته وویل: عالیې ته بې عقله یې ته پوهیږې چې ماهر ډیر یو پیسه داره هلک دی هغه ته د پلار ډیره شتمنې ور پاته سویده هغه به تا ډیره خوشحاله وساتې په پیسو کې به بازۍ کوې بازۍ بارک نو څه لرې پر زوړ موټرسیکل ګرځې خو ماهر ته یو نه بلکې څو څو موټران ولاړ دي بارک د یو غریبې کورنۍ دی ته به د هغه سره سم ژوند ونکې....) د عالیې کیسه تر دې ځایه راورسیدل بیا عالیې وویل: زه مې د خور په خبرو وغولیدم او زړه مې د بارک پر ځای ماهر ته میلان پیدا کی دا زما په ژوند کې یو لویه غلطي وه چې زه تر اوسه پورې ددې غلطۍ سزا ګالم ما د الماس پر ځای سکور انتخاب کی د یو حیاء ناک او پرهیزګاره شخص پر ځای مې یو بې حیاء او عیاش شخص



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاب کی الله ماته د بارک سره د چم کولو لویه سزا راکړه چي ما د ماهر سره د واده کولو فیصله وکړه... ،

د عالیي خبرو جریان درلودی چي په دې وخت کي د هغي خدمتګار راغلی او ویویل: اغلي ډاکتر صــــاحب راغلی دی تاسو یي غوښتي یاست،

عالیي د بارک زامنو ته وویل: وبخښی زه به د ډاکتر صاحب سره ووینم،

عادل وویل: څه خبره ده خاله خیریت دی؟

عالیي وویل: هو زویه خیریت دی د تشویش وړ خبره نه ده،

عالیه د ډاکتر خواته ورغلل او تر روغبړ وروســـته ډاکتر د عالیي فشار وکتی او تر څه معایناتو وروسته یي ورته وویل: اغلي عالیي ما مخکي هم تاســو ته ویلي دي چي د تشـــویش څخه ځان وساتی که نه دا به ستاسو لپاره ډیره خطرناکه وي،

عالیي وویل: ډاکتر صـــاحب په واک کي مي نه ده تیر یادونه مي زوروي خوب او آرام ته مي نه پریږدي،

ډاکتر وویل: اغلي عالیي زه ستاسو غم درک کولای سم خو پر تیر وخت افســـوس او تشـــویش کول ډیر خطرناک وي د روغتیا لپاره تاسو باید د خپل روغتیا خیال وساتی،

تر څه نورو سپارښتنو وروسته ډاکتر د عالیي څخه رخصت واخیســـتی او ولاړی عالیه د شـــپي د خوب لپاره خپل د خوب



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطاق ته ولاړه په نیمه شـــپه کي فاطمه بیا د عالیي په لویو لویو چغو او نارو د خوبه راکښینستل کله چي د عالیي د اطاق خواته ورغلل نو ویلیدل چي عالیه پر کټ پریشانه ناسته ده او پـه فکرو کي غرقـه ده، فـاطمـه د هغي خواتـه ورغلـل او تر څنګ یي کښینستل او ورته یي وویل: عالیي ما د ډاکټر خبري واوریدي تاسـو باید پر خپل ځان پام وکی او تشـویش ونه کی څه چي پیښ سول په نصیب کي مو لیکلي وه،

د عالیي تر سـترګو اوښـکي رواني سـوې او ویویل: فاطمي! څه وکم دا هر څه زما په واک کي نه دي د کمه وخته چي د بارک څخه جدا سـوي یم هره ورځ او هره شـیبه زوریږم د هغه یـادونـه مي خوب او آرام تـه نـه پریږدي هره ورځ چي بیده سم بارک په خوب کي راته راسي سپین کالي یي اغوستي وي او په خندا زما و خواته را روان وي زما اوښکي په خپل لســـتوني را پاکي کړي او راته وایي: لیونۍ ته خو پوهیږې چي زه ستا اوښکي نسم زغملای نو ولي په هر واري اوښکو تیولو ما زهیروی؟

زه بارک ته ووایم چي ما د ځان ســـره بوځه خو بارک راته وایي چي زه نســم کولای تا له ځان ســره بوځم، دا ووایي او راڅخه ولاړ ســي زه په هغه پســي ډیري ناري ووهم خو هغه راڅخه ورک ســي فاطمي! دا خوب د هغه وخت راهیســي زه وینم چي کله ما د بارک رښـتیني مینه درک کړل ما هغه ډیر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهير کی ډير تکليفونـه او غمونـه مي ورکړل هغه بـه مـاتـه ډيري ښيراوي کړي وي،

فاطمي وويل: نه داسـي نه ده عاليې بارک تر اخيري سـلګيو پوري سـتا د ښـه ژوند دعاوي کولي او تر اخيري سلګيو يي يادولي او ويل به يي چي زه د عاليې څخه هيڅ ګيله نه کوم هغه بي عقله وه ناپوه وه نو ځکه يي داسـي وکړل خو زه پوهيږم چي يو ورځ به حتماً هغه د خپلي ناپوهی احسـاس وکي، او بيا يي راته په اخيرو شـپو کي وويل: فاطمي تا زما ټول حقوق پر ځای کړيدي زه به دي دا احسـانات هيڅکله نه کم هير خو يوه اخيري غوښـتنه درڅخه کوم زما تر مرګ وروسـته عاليه پيدا که او ورته ووايه چي يو ځل بس يو ځل زما قبر ته راسه زما روح به پر آرامه سي،

د فاطمي تر سـترګو اوښـکي رواني سـوي او بيا يي وويل: د بارک تر مرګ وروسـته ما ډير کوښـښـونه وکړل چي تا پيدا کم او د بارک اخيري وصـيت او غوښـتنه پر ځای کم خو کله چي سـتاسـو پخواني کور ته ورغلم همسـايه ګانو مو ويل چي هغوی دا څو کلونه کيږي چي ددي ځای څخه تللي دي ما ډير ځايونه په تا پسـي وکتل خو پيدا مي نکړي زه ډيره مايوسـه سـوم الله ته مي ډيري دعاوي وکړي چي تا پيدا کم او د بارک قبر ته دي ور ولم او د هغه روح پر آرامه کم کله چي مي ستا په سـتور کي د بارک عکس وليدی او سـتا د سـتور د کارکونکي څخه مي سـتا نوم واوريدی نو د ډيري خوشـحاليه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي بدن په ریږدیدو ســـو هو عالیې د بارک اخیرې غوښـــتنه همدا وه چې باید ته یې قبر ته ورسي،

عالیې وویل: فاطمې زه د هغه لپاره ځان قربانولای ســـم خو زه به په کم مخ د هغه سـره مخ کیږم ما هغه ته دومره غمونه ورکړل چې په ژوندوني څه چې زه د هغه د قبر سـره لا نسـم مخامخ کیدلای که نه ما به د هغه سره په ژوندوني لیدلي وای او بخښنه به مي ځني غوښتي وای،

فاطمې وویل: عالیې سـتا د بارک دا عادت یاد نه دی چې کله به هغه ډیر هم خوابدی او خپه سو نو تر درو ورځو به اضافه نه وو خوابدی ما درته وویل چې هغه ډیر وخت مخکې لا ته بخښـلي وې او دا د بارک اخیرې غوښـتنه وه چې باید ته یې قبر ته ورســي اوس پریکړه ته وکه که سـتا په زړه کې اوس هم بارک ته یو څه مینه پاته وي نو ته به د هغه دا غوښـــتنه ومني او زموږ سـره به خپل هیواد ته ولاړه ســي او د هغه د روح د آرامي لپاره به د هغه قبر ته ورسي،

عالیې وویل: فاطمې زه د بارک لپاره هر څه کولای سم که د هغه اخیرې غوښتنه زما ژوند اخیستل وای نو ما به بیله فکره خپل ژوند د هغه پر نامه قرباني کړی وای ســمده زه تیاره یم چې ولاړه سم،

په دي ســره فاطمه ډیره خوشــحاله ســوه او د عالیې څخه یې مننه وکړه د بارک زامنو د څو ورځو تر رخصـــتیو او میلو وروسته د بیرته تللو تیاری شروع کی تر څو ورځو وروسته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول تيار سول او د خپل هيواد پر خوا روان سول، په طياره کې د بارک زامن او لمسيان د عاليې تر څنګ کښېنستل او د عاليې څخه يې د پاتې کيسې غوښتنه وکړه عاليې وويل: (..... کله چې مې کورنۍ زما رضايت وليدى نو يې د ماهر سره زما د کوزدې کولو تيارى شروع کى بارک په دې نه وو خبر يو ورځ چې کله هغه مکتب ته راغلى نو مدير ډېر پريشانه ناست وو بارک ورته وويل: څه خبره ده مدير صاحب ولې داسې غمګين ياست،

مدير نه غوښتل چې بارک پريشانه سي نو يې ورته وويل: کمه خبره نه ده بس داغسې مې يو څه طبعيت خراب دى،

بارک شمکن وو چې حتماً يو خبره ده چې مدير يې دده څخه پټوي نو يې ورته وويل: مدير صاحب حتماً يو خبره ده چې تاسو يې زما څخه پټوى راته ووايست هيله کوم،

مدير وويل: سبا ته د عاليې کوزده ده،

کله چې مدير بارک ته دا خبره وکړه نو بارک د ديواله سره وجنګيدى هوښ او سد يې له بدنه څخه ووتى، مدير چې کله وليدل چې بارک د ډېرې پريشانه د سد څخه ووتى نو يې بارک وښوروى خو بارک لا هم په سد کې نه وو د مدير د خو وارو ښورولو ورروسته بارک پر سد سو مدير ورته وويل: بارک! ته ښه يې؟

بارک په ماته زړه وويل: هو ښه يم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیر بارک ته د هغه د ســکون او زړه ښــه کیدني لپاره ځو خبرې وکړي خو بارک په اخیره کي وویل: زه نه پرېږدم چي دا کوزده وسي ما او عالیه هیڅوک نسي سره جلا کولای،

بارک دا وویل او ورروسته خپل صـنف ته روان ســو او هلته يي کتابچه او قلم واخیستل او عالیې ته يي خط ولیکی او خپل کوچني شـــاګرد ته يي ورکی او ورته يي وویل چي دا عالیې استاذې ته یوســه، شــاګرد هغه خط عالیې ته ورکی کله چي عالیې د بارک خط خلاص کی نو بارک تر ســلام ورروســته ورته لیکلي وه: عالیې نن ســـهار چي کله مکتب ته راغلم نو مدیر راته وویل چي ســـتا کوزده کیږي عالیې ته هیڅ فکر مکوه زه په هیڅ صـورت نه پرېږدم چي ستا کوزده او واده د بل چا سره وسي هیڅوک په تا په زوره واده نسي کولای زه ستا سره یم ته مه وارخطاء کیږه،

عـالیې چي کلـه د بـارک خط ووایـه نو پـه جواب کي يي خط ورته ولیکی او ور وایســتوی، بارک په صــنف کي په فکرو کي ډوب ناست وو چي د عالیې خط ور ته راورسیدی بارک په تلوارۍ ســـره د عالیې خط خلاص کی عالیې ورته لیکلي وه: بارک هیله کوم نور ماته خطونه مه را اســتوه زما کوزده او واده د بل چا ســـره کیدونکی دی نور نه غواړم په دي خطونه وخت ضایع کم،

بارک د عالیې ددي خط په ویلو ډیر حیران ســـو او بیا يي په جواب کي خط ور واستوی کله چي عالیې خط خلاص کی نو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک ورته لیکلي وه: عالیې زه پوهیږم چي پر تا کورنۍ فشار راوړیدی چي کومه پیښه ونسي نو ته ماته داسي خبري کوي عالیې ما درته وویل چي ته مه وارخطا کیږه زه یم ستا سره زه به هر څه سم کم،

عالیې د بارک ددي خط په جواب کي بارک ته خط ور واستوی کله چي بارک خط خلاص کی نو لیکلي وه: پر ما هیچا فشار نه دی راوړی ما په خپل رضایت دا ریشته خوښه کړي او منلي ده هر څه سم دي نو ستا څخه هیله کوم چي ته یي مه را خرابوه،

بارک د عالیې د خط په جواب کي خط ور واستوی کله چي عالیې خط خلاص کی نو بارک ورته لیکلي وه: عالیې دا ته څه وایي ایا ته پر سد یي ما او تا خو یو د بل سره مینه کوو نو بیا ته څنګه د بل چا سره د واده کولو فیصله کولای سي ایا زما څخه کومه غلطي سویده که راڅخه سوي وي نو بخښنه غواړم بیا به هیڅکله داسي کار ونه کم چي ته دي په ناراضه سي خپل بارک ته بس دا یو ځل بخښنه وکه هر څه به د پخوا پخیر عادي کو خو بس ته ما یوازي مه پریږده زه بیله تا نیمګړی یم عالیې،

عالیې د بارک د خط په جواب کي خط ورته ولیکی او ور وایستوی کله چي بارک خط خلاص کی نو عالیې ورته لیکلي وه: ستا پیاد نه دي چي ما درته ویلي وه چي زما لپاره زما کور زندان دی ما ددي زندانه وباسه ما صرف غوښتل چي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي زندانه ژر واوخم زما ستا سره مينه کول نيت نه وه اوس زما مقصد دا دی د يو بل چا سره پوره کيږي نور ستا مينې او تاته اړتيا نلرم،

بارک د عاليې د خط په ويلو د درد په خندا ســـو او ډير يې وخندل او بيا يې عاليې ته خط وليکی او ور وايستوی کله چې عاليې خط خلاص کی نو بارک لومړی ورته خندلې وه او بيا يې ورته ليکلې وه: عاليې په دومره اسـانۍ خو دې نه پريږدم ته ما نه پيژنې چې زه څومره ضدي يم که زما نسوې نو د بل چا کيدلو ته به دې هم نه پريږدم زه به وګورم چې ته دا واده څنګه زما څخه کوې،

عاليې د بارک ددې خط په ويلو هيڅ ونه ويل او فکر يې کوی چې بارک يو کمزوری ښوونکی دی هيڅ به ونه کولای سي خو وروستــه يې فکر وکی که يې چيري ماهر ته صــرف يوه خبره وکړه نو هم به ددې ژوند خراب سي نو ځکه په دې اړه ډيره پريشـانه سـوه او بارک ته يې ژر ژر خط وليکی او ور وايســتوی خو څو شــيبې وروســته هغه کوچنۍ انجلۍ بيرته راغلـه او عـاليې تـه يې هغـه خط بيرتـه ورکی او ورتـه يې وويل: استاذې! بارک استاذ نه وو مکتب کې تللی وو،

عاليه ډيره پريشـانه سـوه چې هســي نه بارک د هم اوس څخه ددې پر ضـــــد کوم اقدام ونـه کي، بـارک چې کلـه کور تـه ورســـيدی نو خپل اطاق ته ولاړی او خپل بســـته يې ليري وغورځول او پر کټ يې پر بالښـت سـر کښـيښـوی او تر څه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر وروسته یي تر سترګو اوښکي رواني سوي او د عاليي په ياد کي يي ډير وژړل، عاليه د سبا د لمر را ختلو په انتظار وه کله چي لمر راوختی او مکتب ته د بارک د راتلو وخت سو نو عاليي خپل شاګردي ته وويل چي ورسه وګوره چي بارک استاذ راغلی دی که نه کله چي د عاليي شاګرده مکتب ته ورغلل نو څو شيبي وروسته بيرته عاليي ته راغلل او ويويل: هو استاذي راغلی وو،

عاليي هغي ته خط ورکی او ورته يي وويل چي دا بارک استاذ ته ورکه، هغه شاګرده هم ولاړه او بارک ته يي خط ورکی بارک په غمګين انداز د هغه شاګردي څخه خط واخيستی او خلاص يي کی چي عاليي ورته ليکلي وه: بارکه هيله کوم زما ژوند مه را خرابوه همدا به مو په تقدير کي ليکلي وه نو د تقدير سره جنګ مکوه زه ددي خبري بخښنه غواړم چي ما ستا سره د ميني کولو تمثيل وکی نو هيله کوم سزا يي دومره لويه مه راکوه چي بيا زه تل تر تله ددي سزا له امله سوځل کيږم هيله کوم بارک هيله کوم،

بارک د عاليي ددي خط په ويلو د غمه موسکۍ سو او بيا يي عاليي ته خط واستوی چي ورته ليکلي يي وه: ليونی ما ستا سره رښتيني مينه کړيده او تل به يي کوم تيره ورځ زه په غوسه او درد کي وم چي داسي ترخي خبري مي درته وکړي زه به هيڅکله داسي ونه کم ماته ستا خوشحالي مهمه ده د هر چا سره چي يي خوشحاله دي يي زه به تل دعاوي درته کوم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ستا راتلونکی خاوند تاته د نړۍ ټولي خوشحالۍ درکي کوم چي ما يي د درکولو خوبونه ليدل ښه وخت ولري عاليې پر الله دي سپارم،،،

عاليه د بارک ددي خط په ليدو ډيره خوشحاله سوه او زړه يي مطمئن سو چي د بارک لخوا کومه ستونزه نسته، د عاليې کورنۍ د عاليې د کوزدې لپاره تياری نيوی، بارک ورځ په ورځ په روحي او ذهني نارغيو اخته کيدی او مکتب ته به هم پر وخت نه راتلای کله کله به هيڅ راتلی نه يو ورځ مدير د بارک د بد حالت په ليدو هغه ته وويل: بارک! ستاسو حالت ته په کتلو تاسو څو ورځو رخصتيو ته اړتيا لری ته کولای سي چي ولاړ سي،

بارک وويل: نه مدير صاحب کومه خبره نه ده زه ښه يم،

مدير وويل: نو بيا ولي دا څو ورځې داسي په فکرو او سوچو کي غرق راځي زه پر دي بيريږم چي داسي نه په لاره کي الله دي نکړي کومه پيښه وکي زه درته وايم چي ته رخصتيو ته اړتيا لري،

بارک وويل: نه مدير صاحب ما وويل چي سم يم کومه خبره نه ده،

مدير وويل: صحي دی چي ستا هر ډول خوښه وي،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مدیر تر څه ځنډ وروسته وویل: ایا عالیه دي ارمان ده زه پوهیږم چي ته په هغې پسي داسي سوی یي زه درته وایم چي د عالیې مینه یو خوب وګڼه او هیر یي که،

د بارک تر سترګو اوښکې رواني سوې او په ژړغوني اواز یي وویل: د هیرولو کوښښ خو یي کوم مدیر صاحب خو څه وکم چي هر وارې یي په هیرولو کښې ناکام سم،

د بارک د اوښـــکو په لیدو مدیر ډیر حیران ســـو او بیا یي وویل: عالیه ډیره بدبخته ده چي ســـتاســـو پخیر ځوان یي پریښوی په نن وخت کي ستاسو پخیر ځوانان ډیر کم دي چي مینه د واده لپاره کوي او هغوی دي پخپله مینه کي ســـتاســـو پخیر رښـــتیني وي....)، کله چي د عالیې کیســـه تر دې ځایه راورســـیدل نو په دې وخت کي د طیارې چلونکې وویل: د دوو ساعتو لپاره استراحت کوو د طیارې د ناستې لپاره اماده سی،

ټول د طیارې د ناستې لپاره اماده سول د طیارې تر کښینستلو وروســـته ټول د اســـتراحت او میلې لپاره د هوایي ډګر څخه ووتل، دوو ســـاعتو پوره کیدو ته لږ وخت پاته وو چي بیرته ټول حاضـــر ســـول او د ســـفر لپاره اماده ســـول او طیارې په روانیدو شـــروع وکړه کله چي طیاره پر خپل مســـیر برابره سوه نو د عالیې کیسه بیا شروع سوه (......بارک چي به هره ورځ مکتب ته ننوتی نو د فاطمې به پکښې فکر وو فاطمې به لیدل چي د عالیې په بي وفایی بارک ډیر غمګین دی د بارک



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمګینتوب به فاطمه ډېره زهیروله او په عیني حال کي به یي عالیې ته ډېر بد و رد ویل او ورته په غوســـه به وه، یو ورځ چي کله بارک مکتب ته راتلای نو د عالیې د کور ومخته ډېر د خلکو او کوچنیانو رش وو بارک د مکتب مخته ودریدی او د یو شــاګرد څخه یي وپوښتل چي څه خبره ده دا دومره رش ولي دی؟ شـــاګرد ورته وویل: اســـتاذه نن د عالیې اســـتاذي کوزده ده،

په دي سره بارک ډېر غمګین سو او تر سترګو یي اوښکي رواني ســوې کله چي یي موټرســیکل دروی نو تر ســترګو رواني اوښـــکي یي فاطمي ولیدلي او ډېره غمګینه ســـوه، د مکتب رخصتیدو ته څه وخت پاته وو مدیر فاطمي ته وویل: فاطمي لورې زما یو ځای کار دی زه وختي ځم زه به تاته د مکتب قلف درکم چي کله شاګردان رخصت سول بیا د مکتب دروازه در سره وتړه،

فاطمي وویل: سمده مدیر صاحب،

څو شــیبي وروســته د مکتب شــاګردان ټول رخصــت ســول، بارک خپل شــاګردان هم رخصــت کړل او دی په صــنف کي پاته ســو یو شــاګرد بارک ته وویل: اســتاذه ته نن همدلته پاته کیږې؟

بارک وویل: نه زه حاضري رسوم بیا څو شیبي وروسته ځم تاسو ورسی ولاړ سی،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردان ټول ولاړل د فاطمې سره يو شاګرده پاته وه فاطمې هغې ته وويل: مرضـــيې ورســـه بارک اســـتاذ ته ووايه چې موټرســيکل دې نور بوڅه زه مکتب قلفوم مدير صـــاحب تللی دی قلف يې فاطمې استاذې ته ورکړيدی،

مرضيه ولاړل او څو شيبې وروسته بيرته راغلل او فاطمې ته يې وويل: استاذې بارک استاذ په خپل صنف کې ناست وو ويل سمده درځم،

فاطمې وويل: شاګردان يې تللې وه؟

مرضــيې وويل: هو اســتاذې تللې وه او اســتاذې بارک اســتاذ ژړله،

فاطمه حيرانه سول او بيا يې وويل: څه؟

مرضــيې وويل: بارک اســتاذ ژړله تر ســترګو يې اوښــکې را رواني وې،

بيا مرضيې وويل: استاذې بارک استاذ ولې ژړل؟

فاطمې په دې خاطر چې مرضـــيه د مکتب دباندې چاته ونه وايې نو يې ورته وويل: ژړل يې نه هغه يې ســترګو کې کوم څه لويدلې وه نو په دې خاطر يې سترګو اوښکې کولې خو ته نور ورسه کورته ولاړه سه مور به دې درته انتظار وي،

مرضيې وويل: سمده استاذې،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرضـــيه کور ته ولاړل او په مکتب کي يوازې فاطمه پاته سـول فاطمي ديته انتظار کوی چي بارک موټرسـيکل وباسـي او دا دروازه قلف کړي، فـاطمي ډير انتظـار وکی پـه دي انتظار کي يونيم ساعت تير سو فاطمه ډير خسته سول اخير کي د هلکوانو د مکتـب خواتـه ورغلـل او هغـه دروازه يي وټکول او ويويل: وبخښی استاذه وخت پوره دی،

خو د بـارک لخوا کوم جواب ور نـه کول ســـو فـاطمي بيا دروازه وټکول خو بيـا هم بـارک جواب ورنـه کی اخير کي فاطمي دروازه خلاصـــه کړل او دننه ورغلل کله چي د بارک صنف ته ورغلل نو لويه چغه يي وکړل او ډيره حيرانه سول فاطمي وليدل چي بارک په صنف کي پر چوکۍ ناست دی او د لاس تر مړوند يي ويني بهيږي او بي ســده ســويدی فاطمه يي ژر ځنګته ورغلل او بارک يي وښـــوروی او نارې يي باندې وهلي چي بارک! بارک! خو بارک ضـعف کړی وو او سخت بي سده سوی وو، فاطمي خپل د پوړنې يو ټوټه څيرې کړه او د بارک مړوند يي پر ور وتړی، فاطمي چي هر څه وکړه خو بارک په هوښ کي نه راتلی اخير دباندې ووتل او تر څو شـيبو وروسـته يي د مکتب مخته موټر را وسـتی او دا ژر ولاړل او بـارک يي تر ځنـګ نيولی وو موټر کي يي کښـينوی دا يي ترڅنګ کښـينسـتل او موټروان ته يي وويل: هله وروره لږ ژر روغتون ته درځه،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالیې پر تو له لار پر بارک ناري وهلي خو بارک په هوښ کې نه راتلی، تر ځو شـیبو وروسـته روغتون را ورسـیدی نرسـانو بارک عاجل عملیات خوني ته بوتلی او فاطمه دباندي ورته انتظار سوه،

د فاطمې دننه عاجل واټ کې ډیر نفس تنګ سـو او خسـته سـول نو ځکه د عاجل واټ مخته ووتل ځو شیبې وروسته په روغتون ځو تور رنګ موټران راننوتل د دریدو سره سم تور لباس په تن ساتونکې د موټرانو څخه راکښته سول او ژر یې د مینځ د موټر د شا دروازه خلاصـه کړل، کله چې ساتونکې دروازه خلاصه کړل نو د هغه موټر څخه یو پوخ عمره سړی راکښـته سـو او د عاجل واټ پر خوا د سـاتونکو په مینځ کې ور روان سـو او ډیر پریشـانه او غوسـه وو تول روغتون یې نندارہ کوله فاطمې هم ورته کتل او حیرانه وه چې دومره غټ سړی دلته څه کوي، کله چې هغه سړی عاجل واټ ته ننوتی نو د روغتون مشـر یې مخته راغلی هغه سـړی په ریږدیدلي اواز ورته وویل: زما زوی چیری دی؟

د روغتون مشـــر ورتـه وویـل: دننـه عملیـات خونـه کې دی صـــاحبه تاســـو فکر مکوی زخم یې ژور نه دی تاســـو دلته انتظار سی په یو ځو شیبو کې به یې عملیات وسي،

هغه ســـړی ډیر پریشــــانه وو چې په دې وخت کې دوه نور ســـاتونکي عاجل واټ ته ننوتل کله چې ننوتل نو هغه مشـــر سړي ته یې سلام ووایه چې په دې وخت کې د هغه ورته شاه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه او دوی یي نه لیدل، کله چي مشـــر ســـړي ورته وکتل نو دواړه یي پر مخ ټینـګ پـه چپلاخـه (څپیړه) ووهل او بیا یي ورته وویل: ما تاسـو ته نه وه ویلي چي څلرویشـت سـاعته د هغه پر شاوخوا و اوسی تاسو چیري واست چي هغه پر داسي حال سو،

هغو سـاتونکو ورته وویل: صـاحبه خو کشـر خان موږ ځانته نه پرېښوولو،

هغه مشر وویل: بي عقلانو یو کار مو سم نسی کولای،

فاطمي د لیري څخه دا حالت څاری او په عیني حال کي یي د بارک د عملیات خوني ګروفانو ته هم کتل خو لا هم د بارک عملیات شـروع وو خو څو شـیبي وروسـته د عملیات خوني زرغون ګروف ولګیدی، فاطمه په دي سـره ډیره خوشـحاله سـوه او د بارک د عملیات خوني پر طرف ور روانه سـول، چي فاطمه هلته ور رسـیدل تر هغه د مخه ډاکتران دباندي راووتل کله چي د بارک د عملیات خوني ډاکتران راووتل چي په دي وخت کي فاطمي هم د هغه مشر سړي د ساتونکو په رش کي ځان راورسوی ډاکترانو هغه مشر سړي ته وویل: مبارک مو سه ستاسو زوی اوس ښه دی،

په دي سـره فاطمه پر ځای حیرانه ودریدل او هغه سـړي ته یي زیر زیر وکتل، بیا هغه مشـر او سـاتونکي یي د بارک عملیات خوني ته ننوتل فاطمه هم ورغلل، مشر سړی د بارک



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کټ تر څنګ کېنستی او د بارک پر تندې یې لاس کېښېښوی او ورته یې وویل: اوس څنګه یې؟

بارک وویل: ښه یمه،

مشــر ســـړي د بارک لاس ونیوی مچ (ښـــکُل) یې کی او تر سترګو یې اوښـکې روانې سوې او تر خو شیبو وروسته یې ډاکټرانو ته وویل: زه ســـتاســـو څخه ډیره ډیره مننه کوم چې زما زوی مو را وژغوری،

ډاکټر وویل: نه نه صاحبه دا خو زموږ مسؤلیت دی،

بیا ډاکټر فاطمې ته لاس ونیوی او هغه مشـــر ســـړي ته یې وویل: مننه خو باید ددې اغلې څخه وکو چې ستاسو زوی یې پر وخت روغتون ته را ورســوی که نه نو ســتاســو زوی به کوما ته تللی وای،

هغه مشـــر ســـړي او بارک د فاطمې خواته وکتل د بارک لومړی خل وو چې فاطمه یې ولیدل، بیا هغه مشـــر ســـړي فاطمې ته وویل: ډیره ډیره مننه لورکۍ دا احســـان به مو په ټول عمر نه کم در اداء خو تاسو څوک یاست لورې؟

فاطمې ورته وویل: هغه ما او بارک په یو مکتب کې استاذان یو بارک د هلکوانو استاذ دی او زه د انجونو استاذه یم،

مشـر سـړي وویل: خو لورې دا راته ووایه چې زما زوی چا پر داسې حال کی؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي وخت کي بارک فاطمي ته وکتل او د سترګو او سر په اشـــاره يي پوه کړه چي هيڅ مه ورته وايه، کله چي بارک فاطمي ته د کيسـو د نه کولو اشـاره کول نو په دي وخت کي يي پلار ورته وکتل او پوه سو چي بارک فاطمي ته وويل چي کيسه مه ورته کوه نو ځکه يي ورته وويل: ګوره زويه! دا به نه راته ووايي خو يو ورځ يي حتماً پيدا کوم او ســـتا د هر ځاڅکيويني بدله به ځني اخلم،

د بارک پلار د بارک پر ســـر لاس تير کی او وروســـته د روغتون څخه ووتی، فاطمه د بارک تر څنګ کښـــينســـته او بارک ته يي وويل: بارک ته اوس ښه يي؟

بارک ورته وويل: فاطمي تا بايد داســـي نه واي کړي ته پوهيږي په دي سـره به ستا عزت ته ډير تاوان ورسيږي او زه دا نه غواړم چي زما په ســـبب دي چي چاته کوم تاوان ورسيږي،

فاطمي وويل: زما تر عزت ســـتا ژوند مهم وو خو ته دا راته وو ايه چي تا ولي داسـي وکړه ايا په داسـي کولو به عاليه ستا ســـي ايا بيرته به تاته راســـي الله په هر څه کي خپل حکمت لري په همدي کي به دي خير وو،

تر څه خبرو وروسـته بارک د کټه ولاړ سـو او فاطمي ته يي وويل: درځه زه دي کور ته ورسوم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمه ډیره حیرانه ســـول او ورته یي وویل: نه نه بارک ته استراحت ته دلته اړتیا لري،

بارک فاطمه تر لاس ونیول او روان ســـول، ډاکټر د واټ په دروازه کي ورته وویل: تاسـو چیري ځی مشـر صــاحب ویل چي تاسو تر ښه جوړیدو پوري باید نه پریږدو تر څو چي ښه جوړ سوی نه یي،

بارک وویل: زه د مشر صاحب د آمر هیڅ پروا نلرم تاسو یي ومنی زه ضرورت نه ورته لرم،

بارک ټکیسي موټر راوګرځوی او د فاطمي سره د مکتب پر خوا روان ســـول کله چي مکتب ته ورســـیدل نو د مکتب پر شاوخوا ولاړو خلکو ورته وکتل چي فاطمه او بارک یو ځای ســـره راغلل، ټول ډیر حیران ســـوه او په فکرو کي یي ډول ډول خبري ګرځیدي راګرځیدي، بارک پوه سو چي دوی غلط فکر کوي نو یي فاطمي ته وویل: ته ولاړه سه کور ته مکتب زه قلفوم،

فاطمه د کور پر طرف روانه ســـول خو کله چي د څو ولاړو ځوانانو تر څنګ تیریدل نو هغو په خپل مینځ کي پټي خبري وکړي د فاطمي خواته یي وکتل او په خندا ســـول، بارک هغو ته کتل چي په دي وخت کي ډیر په غوســـه ســـو او د هغو پر خوا یي ور وځغستل او تر سـوکانو او لغتو یي لاندي کړل او په جنګ ور ســـره اخته ســـو، فاطمي د بارک لاس ونیوی او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتـه ویویـل: بـارکـ! بـارکـ پرېږده یي وایم پرېږده دوی د دوی دا خبرې عادت دي،

کله چي بارکـ د هغو په وهلو ســتړی ســو نو د خپل زخمي لاس څخه یي پټی وغورځول او هغو ځوانانو ته یي وویل: دا دی دا وینی ددي لپاره را سره تللي وه دې زما ژوند وژغوری زما سره د فحشاء لپاره نه وه تللي،

بارکـ هغوی بیا څو ســوکان او لغتې ووهل هغوی ولاړل او ویځغســتل، بارکـ ستړی سـو او د اسـتراحت لپاره مکتب ته ولاړی تر څو شیبو وروسته مکتب ته پولیس را ننوتل هغه د بارکـ په لاس وهل سوي ځوانان هم ور سره وه پولیسو بارکـ ته وویل: دوی پر تا عرض کړیدی چي تا دوی وهلي دي،

بارکـ وویل: هو وهلي مي دي ایا تا د دوی څخه پوښـــتنه وکړل چي ما پر څه ووهل؟

پولیس وویل: دا خبرې درځه بیا په ماموریت کي وکه،

بارکـ د پولیســو ســره روان ســو او ماموریت ته ولاړل د ماموریت آمر نه وو راغلی څو ساعته وروسته راتلی نو ځکه یي بارکـ او هغه ځوانان ټول بندیان کړل، څو شیبي وروسته د بارکـ پلار خبر ســو او په تلوار د پولیســو ماموریت ته راغلی ټولو پولیسو سلامي ورته وکړه د بارکـ پلار چي کله بارکـ په زندان کي ولیدی نو ډیر په غوسـه سو او د پولیسو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان يي تر گريوان ونيوی او ورته ويويل: پوهيږي تاسـو ځوک بندي کړيدی دا زما يوازينی زوی دی،

د پوليســـو قومندان په رېږديدلي اواز ورته وويل: صـــاحبه ستاسو زوی جنګ کړی وو،

د بارک پلار د پوليسـو د قومندان گريوان ايله کی او د بارک خواته ورغلی او ورته ويويل: ســتا جنګ ته څه اړتيا وه خو ماته به دي ويلي وای،

د پوليسو قومندان خپل يو پوليس ته اشـاره وکړه چي د زندان دروازه خلاصــه کي کله چي هغه دروازه خلاصـــه کړل نو بارک دباندي راووتی او د پلار ســـره يو ځای د ماموريت څخه ووتی پلار يي ورته وويل: زويه ته اوس هم زما څخه خپه يي؟

بارک وويل: د زندانه دي راويســـتم څه احســـان دي نه دی راباندي کړی د خپل نامه د پاره دي راويســتم چي هســـي نه ځوک ووايي چي د هيواد د غټ تجار ظفر شاه زوی په زندان کي دی،

پلار يي وويل: زويه ته ولي تل پر ما منفي فکر کوې هيڅ يو پلار خپل اولاد په ستونزو کي نسي ليدلای،

بارک وويل: دا خبري دي هغه وخت چيري وې چي ما او مور مي ډيره اړتيا درتـه درلوده هغه وخت خو د هغه بلي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمنې سره وی چې کله دې هغه په ټکر کې د لاسه ورکړه بیا دې مور پیاد سوو،

د بارک پلار وویل: داسې مه وایه زویه تاسو ټل زما په زړه کې واست او اوس هم یاست خو ستا مور سر زورې کول او زه به یې ځان او تاته نیږدې نه پرېښوولم زه مجبوره سوم چې داسې وکم ما وبخښه زویه،

بارک هیڅ ونه ویل او روان سو، فاطمې ته یې شاګردانو وویل چې بارک استاذ پولیسو بوتلی، فاطمه ډیره پریشانه وه خو کله چې یې مابښام پلار راغلی نو فاطمې ته یې ډیر په غوسه کتل چې کله ورته را نیږدې سو نو ټینګه چپلاخه (څپېړه) یې ووهل، د فاطمې انا پر راوځغستل او ورته ویویل: څه خبره ده چې زما لورکۍ دې ووهل بې عقله؟

د فاطمې پلار وویل: ددې څخه پوښتنه وکه چې د پردې هلک سره چیرې تللې وه؟

د فاطمې انا فاطمې ته وویل: پلار دې څه وایې لورکۍ ایا دا رښتیا دې؟

فاطمې چې تر سترګو یې اوښکې بهیدلې وویل: انا هغه زموږ د مکتب د هغه بارک د استاذ د لاس مړوند پرې سوی وو ډیره وینه ځنې تللې وه هغه بې سده وو نو ځکه ما روغتون ته ورسوی،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فاطمې انا د فاطمې پلار ته وويل: نو دا خو يي ښــــه کار کړيدی،

د فاطمې پلار وويل: ښــه کار؟ ته ورســه وګوره چي په ټول کلي کي څه اوازه ده چي خلک څه بد و رد وايي،

د فاطمې انا وويل: زو يه هغه متل دې نه دی اوريدلی چي وايي د ښــار دروازې تړل کيدای ســی خو د خلکو خولې نه تړل کيږي او بل بارک خو زه پيژنم هغه ډير ښــــه هلک دی هغه هيڅکله غلط کار نسي کولای،

د فاطمې پلار خپل اطاق ته په غوســــه ننوتی د فاطمې انا فاطمې ته وويل: ورســه لوري بيده ســه خپه کيږه مه پلار دي ډير غوسه وو،

فاطمه تر ســــهاره د بارک په فکر کي وه چي ايا بارک به د پوليســـو د ماموريته راوتلی وی او که نه ايا د هغه لاس به جوړ سوی وی او که نه تر سهاره په همدې فکرو کي وه چي کله ســهار ســو نو د مکتب پر خوا روانه ســول تر څه وخت انتظار وروســـته بارک راغلی، فاطمه د هغه په ليدو ډيره خوشــحاله ســوه کله چي بارک صــنف ته ولاړی نو فاطمې د يوې شـــاګردې په لاس خط ورکی او هغې بارک ته وروړی او ورته يي وويل چي دا فاطمې استاذې راکی، کله چي بارک خط خلاص کی نو فاطمې تر ســلام وروســته ورته ليکلي وه: ستاسو صيحت اوس څنګه دی او تاسو تيره ورځ تر څه وخته پوري د پوليسو سره واست؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک يي په جواب کي خط ور واســـتوی ورته ليکلي يي وه: اوس ښـــه يم دا خو هيڅ زخم نه دی هغه زخم ته چي زړه ته مي رسـيدلی دی او د يو څو شـيبو لپاره د پوليسـو ماموريت کي وم بيا خپل کور ته ولاړم، فاطمه د بارک د ښـه صـيحت په اوريدو ډيره خوشحاله سوه،

کله چي د مکتب ساعتونه نيمايي ته ورسيدل نو يو دم د مکتب دباندي د خلکو غالمغال شـروع سـو بارک حيران سـو چي دا څـه کيـســـه ده فـاطمي هم ژر د مکتب دروازي تـه ځـان را ورسـوی چي ووينې څه خبره ده خو کله چي بارک ور ووتی نو ويليدل چي د يو سـړي د نورو څو خلکو سـره جنجال دی او هغو ته وايي: د رزيل زامنو زما لور فاحشه نه ده او نه هم هغه هيڅکله کوم غلط کار کوي،

فاطمه پوه ســـوه چي ددي پلار دی نو ځکه تر دروازي ور ووتل، بارک هم پوه ســـو چي دا د فاطمي پلار دی نو ځکه ورغلی او ورته ويويل: کاکا څه خبره ده؟

د فاطمي پلار په غوســـه وو او بارک ته يي وويل: بي غيرته ته خو ړ‌غ مه لره دا ټول ســـتا د لاســـه نه به زما لور ته روغتون ته بيولای او نه به دي احمقانو داسي بد و رد ويلای،

بارک د فاطمي پلار ته وويل: ته ارام اوسه کاکا،

بيا بارک هغو خلکو ته وويل: تاســـو بل کار نه لری چي د نورو په تهمت لګولو پسـي مو لسـتوني رانغښـتي دي که مي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس يو تليفون وکی نو ټول بـه زنـدان تـه د کلو کلو لپـاره واستوم تاسو نه پوهيږی چي زه څوک يم؟

هغو وويل: موږ خو يوازې دا خبرې نه کوو خو ټول کلی يي کوي،

په دې خبره سره د فاطمې پلار ډېر پرېشانه سو او بارک تر څو شيبو فکر وروسته د فاطمې پلار ته وويل: کاکا ستا لور ماته په نکاح راکوې؟

په دې ســـره فاطمه د هغې پلار او دا نور خلک ډېر حيران ســول، بيا د فاطمې پلار په غوســـه وويل: دا ته څه وايي بې عقله ته څوک يي د کم ځای يي څه کاره يي چي زه خپله لور درکم،

بارک وويل: زما سره راځه کاکا،

بارک د فاطمې پلار او فاطمه په ټيکسي موټر کي کښينول او روان ســول بارک پر لاره موټروان ته لار ورښــوول تر څه وخت وروســـته يو ډېر لوی مارکيټ را ورســـيدی بارک موټروان ته وويل چي همدلته يي ودروه،

بارک د فاطمې پلار ته وويل: راځه کاکا،

کله چي د فاطمې پلار او فاطمه د موټر څخه کښته سول نو د فاطمې پلار ډېر حيران سو او بارک ته يي وويل: تا موږ زما کار ځای ته ولي راوستوو؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک وویل: تاسو دلته کار کوی کاکا؟

د فاطمي پلار وویل: هو زه دلته کمپیوټر کاره یم،

بارک وویل: زما سره راځه کاکا،

کله چي دوی مارکیټ ته ننوتل نو د هغه ځای کارکونکي ټول ډیر حیران سول، بارک د معلوماتو د څانګي د مسؤل څخه وپوښتل: بابا چیري دی؟

هغه ورته وویل: لوړه په غونډه کي دی،

بارک د فاطمي پلار او فاطمي ته وویل: راځی،

هغوی هم ور سره روان سول کله چي لوړه ختل نو مرستیال ولیدل او ډیر حیران سو او په بیړه د غونډو تالار ته ورغلی چي هلته د بارک پلار په غونډه کي خپلو مشتریانو ته معلومات ورکول، مرستیال په غوږ کي ورته وویل: صاحبه بارک ستا دفتر ته را روان دی،

په دي سره د بارک پلار ډیر خوشحاله سو او ټولو مشتریانو ته یي وویل: بخښنه غواړم غونډه لغوه سوه بیا به بله ورځ خبري کوو اوس تلای سی،

ټول ولاړل څو شیبي وروسته بارک را ورسیدی پلار یی په لیدو ډیر خوشحاله سو او د ورتلو یي وویل، کله چي بارک پلار ته نیږدي سو نو تر سلام وروسته یي د فاطمي پلار ته اشاره وکړه او خپل پلار ته یي وویل: دا سړی ته پیژني؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فاطمې پلار سـلام ورته وکی او ورته ویویل: صـاحبه زه ستاسو په کمپنۍ کې کار کوم کمپیوټر کار یم،

د بارک پلار وویل: هو ولې خیریت دی؟

بارک بیا فاطمې ته اشـاره وکړه او ورته ویویل: دا د ده لور ده چې په هغه ورځ یې زما ژوند وژغوری،

د بارک پلار وویل: هو هو ومې پیژندل،

بارک ورته وویل: بابا دا ستا د مړوور په حیث قبوله ده؟

کله چې بارک خپل پلار ته په بابا وویل نو پلار یې د ډیرې خوشحالیه د ځایه ولاړ سو او ویویل: تا څه وویل؟

بارک وویل: بابا دا ستا د مړوور په حیث قبوله ده؟

د بارک د پلار د خوشـحالیه تر سـترګو اوښـکې راغلې په ژړغونې اواز یې وویل: زویه تا ماته په بابا وویل؟

بارک وویل: هو بابا،

د بارک پلار بارک په غیږ کې ونیوی او ویویل: هو زما زویه قبوله مې ده،

بارک ډیر خوشـحاله سـو او بیا یې د فاطمې پلار ته وویل: کاکا اوس دې دا دوستې قبوله ده؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فاطمې پلار وویل: زویه په کمه کمپنۍ کې چې زه وظیفه د ځان لپاره ستر ویاړ ګڼم نو د هغې کمپنۍ د مشر د زوی سره دوستي به څنګه ویاړ ونه ګڼم زما دا دوستي قبوله ده،

بارک وویل: مننه کاکا،

د بارک پلار د فاطمې پلار ته وویل: اوس د کوزدې لپاره تیاری ونیســه زه غواړم چې د خپل زوی کوزده په شــاندارو مراسیمو ور وکم،

د فاطمې پلار وویل: سمده صاحبه ولي نه،

وروســته د بارک پلار خپل مرســتیال ته وویل: دوی تر خپله کوره ورسوه بارک زوی مي زما سره پاته کیږي،

فاطمه او پلار یې ولاړل د بارک پلار وویل: زویه که ته نه خپه کیږي یو پوښتنه وکم؟

بارک وویل: مهرباني بابا ووایه،

د بارک پلار وویل: زویه زموږ حیثیت د دوی تر حیثیت لوړ دی ما ته ډیرو لوړو چارواکو ســتا لپاره د خپلو لونو وړاندیز کړیدی تا دا ولي د واده لپاره انتخاب کړل؟

بارک وویل: بابا زه چې چیري ښــوونکی وم هلته به پر زوړ موټرســــیکل تلم ټول خبر وه چې زه یو غریب ځوان یم هغه وخت زه ددې انجلۍ لپاره هر څه وم تر داســې حده چې دې د خپل عزت خیال هم ونه ســــاتی او زه یې تر روغتونه پوري



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسـولم د کلي خلک يي په دې کار ورباندې د فاحشــې فکر کوي او پيغورونه ورکوي که ما ددې سـره واده ونه کی نو دا نوم بـه پر دې تر مرګـه پروت وي او څوک بـه واده نـه ور سره کوي او ددې کار مسؤله به يي زه يم،

د بارک پلار وويل: زويه خو زه به يو بل ښــه هلک ور پيدا کم او په ښه ډول به يي واده ور سره ور وکم،

بارک وويل: بابا ما اوس فيصله کړيده او ته خو پوهيږې چې زه يو وار فيصله وکم نو بيا هيڅکله نه ځنې اوړم،

پلار يي موســکی ســو او د بارک پر مخ يي لاس تير کی او ويويل: پوهيږم زويه بس چې ستا خوښه وي زما هم خوښه ده خو مور به دې څنګه راضي کوي؟

بارک وويل: هغه ماته پريږده بابا مور هيڅکله زما د فيصلې مخالفت نه دی کړی،

د بـارک او پلار خبرو يي تر څــه وخــت جريـان درلودی وروســته بارک د پلار څخه روان ســو او د مور ســره يي د خپل پلار او فاطمې په اړه خبرې وکړې او مور يي په څه خبرو راضــې کړل مور يي هم خبرې ومنلې، فاطمه او پلار کور ته را ورسـيدل د فاطمې پلار ډير خوشـحاله وو کله چې کور ته ننوتی نو په خوشـــحالۍ يي مور ته وويل: مورا مور مبارک دې سه فاطمه لور مې بارک ته په نکاح ورکوم،

مور يي په حيرانی وويل: دا څه وايې زويه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فاطمې پلار وويل: هو مور او مور ته پوهيږې چې بارک څوک دی؟

مور يې وويل: د فاطمې سره په مکتب کې ښوونکی دی،

د فاطمې پلار وويل: يا مور هغه يو عادي ښـــوونکی نه دی هغه زموږ د مشـــر ظفر شـــاه يوازينی زوی دی ته پوهيږې مور ظفر شاه ددې هيواد تر ټولو ستر تجار دی په ټول هيواد کې کمپنۍ او مارکيټونه لري هغه ډير غټ سړی دی،

مور يې ډيره حيرانه ســـول او بيا يې وويل: نو تا فاطمه لور څنګه بارک ته ورکړل موږ خو يو غريبه کورنۍ يو؟

د فاطمې پلار خپل مور يعني د فاطمې انا ته ټوله کيســـه وکړل، فاطمه ډيره خوشـــحاله وه او د پلار په خبرو ډيره موسـکۍ کيدل کله چې ماښـام خپل پر کټ پريوتل نو د بارک خبرې يې په ذهن کې راګرځيدلې چې ددې پلار ته يې وويل چې لور دې ماته په نکاح راکوې دا خبرې به يې ذهن کې راوســـتلې او موســـکۍ کيدل به او د بارک ســـره يې د واده خوبونه ليدل،

سـبا ته فاطمه وختې د خوبه راکښـينسـتل او د کور تر کارو وروسته د مکتب په نيت روانه سول په مکتب کې د بارک په انتظار وه خو د بارک راتلو ته ډير وخت پاته وو، څو شـيبې وروسـته د بارک د موټرسـيکل ږغ سـو فاطمې ژر د کلکينه ورته وکتل او د بارک په ليدو ډيره خوشـحاله سـوه، کله چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک موټرسیکل ودروی نو یو شاګردي ته يي خط ورکی او ورته ویویل: دا فاطمې استاذې ته ورکه،

شاګردي خط فاطمې ته ور وړی کله چي فاطمي خط خلاص کی نو بارک تر سلام وروسته ورته لیکلي وه: فاطمي تیره ورځ مي ستا لاس ستا د پلاره څخه وغوښتی او هغه زما او ستا دوستي قبوله کړه خو زما څخه دا هیر سوې وه چي ستا څخه مي هم باید پوښتنه کړې وای چي ایا ستا دا دوستي قبوله ده که نه خو اوس هم وخت سته زما او ستا کوزده تر اوسه نه ده سوې که ستا دا دوستي نه وي قبوله یا ستا په ژوند کي بل څوک وي زه به دا دوستي بیرته لغوه کم ستا د جواب په هیله،

فاطمي د بارک د خط په جواب کي ورته ولیکل: زه ډیره بختوره یم چي ستاسو پخیر شخصیت مي نصیب کیږي زه ډیره خوشحاله یم خو بس د یوې خبرې اندیښنه کوم هغه دا چي که ته په دې خاطر مجبوره سوی یې چي زما سره واده کوې چي زما سره به د کلي د خلکو د بدو خبرو لکبله بل څوک واده ونه کي او ته غواړي چي د خپل حیثیت سره د برابرې انجلۍ سره واده وکي خو زما لکبله یي نسي کولای نو په داسي حالت کي زه ستا دا دوستي نسم قبلولای نه غواړم چي په ژوند کي دي خنډ سم،

بارک د فاطمي د خط په جواب کي ورته ولیکل: څوک چي زما د ژوند لپاره تر خپل عزت هم تیره سوه تر داسي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفاداري او ښـي انجلۍ زه بله نسم پيدا کولای او پاته سـوه د حيثيت خبره ماته سـتا حيثيت نه بلکې ته مهمه يي او اوس دا راته ووايه چي ايا دا دوستي دي قبوله ده که نه؟

فاطمه د بارک ددې خط په ويلو موسـکۍ سـوه او ورته ويليکل: هو زما قبوله ده،

څه وخت وروسـته د عاليې واده وو کله چي بارک مکتب ته راتلی نو ويليدل چي د عـاليې د بيولو لپـاره د واده موټران ولاړ دي، بـارک پـه غوسـه مکتـب تـه ننوتی کلـه چي يي موټرسيکل دروی نو فاطمي په بارک پسي کتل چي ايا بارک د عاليې په واده پريشـانه دی که نه، بارک پوهيدی چي فاطمه ورته ګوري نو ځکه په ورين تندي او عادې حالت کي خپل صنف ته ولاړی، فاطمه ډيره خوشحاله سوه چي بارک يي په عادې حالت کي وليدی خو کله چي ماښـام بارک خپل کور ته ولاړی د شـپې پر بام پر کټ پروت وو او آسـمان ته يي کتل او د عاليې خاطرې ور پياديدلې د بارک تر سـترګو اوښـکې رواني سوي څو شيبې وروسته يي مور تر څنګ کښـينستل، بارک ژر خپلې اوښـکې پاکي کړي او د مور پر څنګانه يي سـر کښـيښـوی او بيده سـو .....) تر څو سـاعتونو وروسـته پيلوټ وويل: د اسـتراحت لپاره ناسـته کوو هيله ده قمربندونه مو وتړی او ځان تيار کی، کله چي د عاليې کيسه د طيارې د ناستې په سبب ودريدل نو د بارک زامن ډير پريشـانه سـول کله چي طياره کښـينسـتل نو زبير د طيارې خدمتګارې ته



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل: دا ځومره ډيرې ناسـتې او اسـتراحتونه دي تاسـو بې ناستو او استراحتو بل کار لرئ؟

د طيارې خدمتګاره موسـکۍ سوه او ويويل: وبخښـئ صـاحبه خو طياره او مسافرين استراحت ته اړتيا لري تاسو لکه چې د څو ساعتو سفر څخه هيڅ نه ياست خسته سوي؟

زبير وويل: يا نه يو خسـته سـوې خو دا سـتاسـو د ډيرو استراحتو څخه خسته سوو،

د طيارې خدمتګاراني د زبير په ټوکي خبرو موسـکۍ سـوې، فاطمې زبير د لاس پر بازو ووهلئ او ويويل: بې ادبه ځوک د ښځو سره داسې خبرې کوي؟

زبير وويل: وبخښه مور خو دوی دومره ډيرې ناستې کوي،

ټول مسافرين د استراحت لپاره د طيارې څخه کښته سول، د څو ساعتو استراحت وروسته پرواز پيل سو او د بارک زامن بيا د عاليې تر څنګ کښـينسـتل او امجد وويل: خاله تر واده وروسته ستا ژوند ولې خراب سو د خپل خاوند سره؟

عاليې وويل:(..... کله چې زما د واده شپه وه نو په هغه شپه زه پوه سـوم چې زما خاوند يو نشـه يي او عياش انسـان دی چې د خپل پلار څخه ورپاته سوي پيسـې يې ټولې پر عياشـئ او نشـو مصـرفولې هغه پر ما ډير ظلمونه وکړل ما او زما و کورنئ ته به يې د مرګ اخطارونه راکول زما پر بدن داسـې ځای نه وو پاته چې دده د ظلم زخم به يې نه وو ليدلی ما او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـا کورنـۍ بـه ویلـه چي دا د هغـه مظلوم بـارک ازار موږ ووهلو دا د هغه سره د جفاء سزا وه چي موږ لیدل ما د کور ښځه د ژر آزادیدلو او زما کورنۍ د ماهر د زیاتو پیسو لپاره بارک پریښـوی او د ماهر سـره مي واده وکی تر څو کلونو وروسته خدای پاک یو داسي ورځ راوستل چي زه یي د ماهر د ظلمونو ښځه آزاده کړم هغه د نشـي په حالت کي موټر چلوی چي د بل موټر سـره یي ټکر وکی او په هغه ټکر کي مړ سـو ما هغه ځای او کور پریښـوی او بیرته د خپل مور کورته راغلم داسـي ورځ نه وه چي ما به د بارک په اړه فکر نه کوی او په هغه پسي دې مي ونه کتل ما په بارک پسي ډیر وکتل خو پیدا مي نکی زه ډیره ستړې سوم د هغه په پیدا کولو خو یو ورځ زما هغه ورور چي زه یي د بارک سـره د خطو لکبله د مکتبه راګرځولي وم ناسـت وو او اخبار یي کتی چي په دې وخت کي یي ماته په حیرت را ناره کړل چي عالیې هله دلته راسـه، کله چي زه ورغلم نو اخبار یي را کی او ویویل: عالیې دا وګوره!

کله چي ما اخبار ځني واخیسـتی نو د بارک پر عکس مي سـترګي ولګیدي چي د یو مشـر لخوا جایزه ورکول کیده، د بارک په لیدو زما تر سـترګو اوښـکي راغلي بیا مي ورور راته وویل: عالیې د عکس لاندې متن ووایه!

کله چي ما د بارک تر عکس لاندې د هغه په اړه متن ووایه نو لیکلي وه: د هیواد د سـتر تجار ظفرشـاه یوازینی زوی



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک نن یو ځل بیا د غوره او پرمختللي تجار جایزه تر لاسه کړل د هغه د پلار په وینا چي د ځو کلونو وروسته چي کله د هغه زوی د هغه تجارت ته راغلی دی نو تجارت یي ډیر پرمختللي دی ....، په اخبار کي د بارک ډیر صفتونه سوي وه زما ورور ماته په حیرانی وویل: بارک د ظفرشاه زوی وو؟

عالیي وویل: نه پوهیږم خو دلته دا دی همداسي وایي خو یو وخت یي راته ویلي وه چي زما پلار مړ سویدی خو بیا ما ته مدیر صاحب وویل چي نه د بارک پلار مړ نه دی بلکي دی او مور یي د هغه ځخه جلا دي خو په دي نه وم خبره چي دی به د دومره غټ سړي زوی وي،

د عالیي ورور د غم اقف وکی او ویویل: کاش چي بارک مو سم درک کړی وای او سم مو پیژندلی وای ځومره غټه غلطي مو وکړه،

د عالیي مور وویل: لوري هغه خو ستا سره ډیره مینه کول وربه سو او بخښنه به ځني وغواړو او که یي وبخښلو نو ستا سره د واده غوښتنه به ځني وکو،

د عالیي تر سترګو اوښکي رواني وی بیا یي وویل: یا مور زه د هغه سره نسم مخ کیدلای موږ چي د هغه سره څه وکړه د بخښلو وړ نه یو موږ موقع د لاسه ورکړیده،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عـاليي ورور وويـل: عـاليي موږ پوهيږو چي موږ غلطي کړيده خو بارک ډير ښـه ځوان وو هغه به حتماً موږ وبخښـي کوښښ خو به يي وکو،

ما مي د کورنۍ ســـره ومنل او د بارک د دفتر په تلاش کي ســـوم چي بلاخره مي د بـارک د دفتر پتـه پيدا کړه مـا مي کورنۍ ته وويل چي اول به زه ورســـم که يي وبخښـــلم بيابه تاسو هم راسۍ، کورنۍ مي دا خبره را سره خوښه کړه بارک ته د ورتلو مخکي مي ځان داســـي جوړ کی لکه څنګه چي به زه مکتب ته تلم تر څو بيا د بارک پخوانۍ مينه را تازه کم او ماته به بخښـــه وکي تر ځان تيارولو وروســـته په موټر کي کښـينستم او موټروان ته مي د بارک د کمپنۍ پته ورکړه چي دا ځای ته مي بوځه کله چي ورسيدو نو موټروان راته وويل: وبخښۍ اغلي تاسو دلته کار کوی؟

ما ورته وويل: نه ددي کمپنۍ مالک زموږ د خپلوانو څخه دی،

موټروان حيران سو او ويويل: ښـه ښـه تاسـو د بارک خپلوان ياست؟

ما ورته وويل چي هو،

ما غوښتل موټروان ته کرايه ورکم خو هغه راته وويل: اغلي تاســو د بارک خپلوان ياســت نو ســتاســو څخه څنګه کرايه اخيستای سم،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وویل چي ولي يي نه اخلي؟

موټروان راته وویل: اغلې دا موټر زما د اوسیدلو کور او زما د کوچنیانو د درسو مصارف ټول بارک راکوي نو د هغه د خپلوانو څخه زه څنګه کرایه اخیستای سم؟

زه چي کله د موټره کښته سوم نو د بارک دفتر ته ورغلم هلته ډیره چوپتیا وه بیا مي د معلوماتو د څانګې څخه وپوښتل چي د بارک دفتر چیري دی؟

هغه راته وویل: لوړه دی خو بارک نن دفتر ته نه دی راغلی،

ما پوښتنه تري وکړه چي چیري به یي پیدا کم؟

د معلوماتو د څانګې مدیر وویل: نن د بارک په کور کي د هغه د زوی د پیدایښت په مناسبت میلمستیا ده هلته به وي،

عـالیې چي د بـارک د زوی خبره واوریـدل نو ټکـان یي وخوړی او ډیره خوابدې سوه چي بارک واده کړیدی نو څکه د بارک د کمپنی څخه د اوښــکو ډکي ســترګي راووتل، څه وخت یي هلته ژړل او بیا یي فکر وکی چي باید بارک یو وار ووینم نو څکـه یي هغـه موټروان تـه چي مخکي ور ســره راغلې وه وویل: د بارک کور ته درځه!

عالیې ته د بارک کور نه وو ور معلوم نو څکه یي موټروان ته داســي وویل چي هغه نسـو پوه چي دی ته د بارک کور نه دی ور معلوم، موټروان عالیه د بارک کور ته راوســتل، کله



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي عاليې د بارک کور ته وکتل نو د هغو ډېر غټ کور وو چي عاليه يې حيرانه کړه، بيا عاليې موټروان ته وويل چي ته نور ولاړ سه، موټروان هم ولاړی او عاليه د بارک کور ته ننوتل ميلمستيا دننه په کور کي جوړه وه عاليې حجاب کړی وو او کرار کرار د ميلمستيا و خواته ور روانه وه کله چي د کور ودانۍ ته نيږدې سوه نو په دروازه کي يي ودريدل او ميلمستيا ته يي کتل، عاليې په بارک او ميرمنې پسي يي کتل خو هغوی تر اوسه ميلمستيا ته نه وه راغلي، عاليه ورته انتظار وه، څو شيبې وروسته ښځو ناري کړي چي هلې بارک او ميرمن يي راغلل، کله چي عاليې ورته وکتل نو بارک او تر څنګ يي فاطمه وليدل، عاليه په دې سره نوره هم حيرانه او غمګينه سول د هغو په يو ځای ليدو يي ډېر وژړل او د بارک ترڅنګ يي د فاطمې پر ځای خپل ځان وليدی څو شيبې هلته ولاړه وه، بارک د ډېري ميلمستيا څخه ډېر خسته سو نو فاطمې ته يي په غوږ کي وويل چي زه دباندې وځم، کله چي عاليې وليدل چي بارک دباندې راوځي نو دې هم حجاب سره سم کی او غوښتل يي چي د کوره ووځی د وتلو په وخت کي د عاليې څخه خپل دستمال لاندي ولويدی چي د عاليې ورته فکر نسو او ولاړل د بارک د کور ترڅنګ ودريدل او د بارک راوتلو ته يي کتل، کله چي بارک دباندې راووتی نو غوښتل يي چي يو ځای کښيني چي په دې وخت کي يي د عاليې پر دستمال سترګي ولګيدې، بارک فکر وکی چي زوړ دستمال دی نو ځکه يي وغوښتل چي په کچره



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانی کي يي وغورځوی خو کله چي يي هغه راپورته کی نو ډير حيران سو او ژر يي هغه دستمال پزې ته نيږدې کی، کله چي عاليې وليدل چي ددې دستمال بارک راپورته کی نو ډيره حيرانه سـول چي څنګه ورڅخه لويدلی دی، بارک چي کله د عاليې دسـتمال پزې ته نيږدې کی نو پوه سـو چي دا د عاليې دسـتمال دی نو ځکه يي د ليونيانو پخير شـااوخوا وکتل دننه کور کي چي وکتل هلته څوک نه معلوميدل بيا دباندې راووتـی او غوښـتل يي چي د کور دباندې وګورې نو ځکه د دروازې پر طرف روان سو، عاليې چي وليدی چي بارک په دې پسي دباندې راوځي نو ژر روانه ســول او ليري د يوې درختي شــاته ودريدل، کله چي بارک راووتی نو بيا يي د ليونيانو پخير شااوخوا وکتل خو څوک يي نه وليدل د بارک تر سترګو اوښـکې راغلې او د عاليې دستمال يي مچ (ښـکُل) کی په دې سره د عاليې تر سترګو هم اوښـکې راغلې او ډير يي وژړل .....) د عاليې کيســه چي تر دې ځايه را ورسـيدل نو په ژړا يي وويل: په هغه ورځ ما او بارک ډير سره وژړل خو دومره جرأت مي نسواى کولاى چي د هغه ومختته ورسم هغه زما او زه د هغه اوښکې ور پاکې کم،

عادل وويل: نو خاله ته ولي د بارک يعني زما د پلار څخه پټه سوې ايا تا دا فکر کوى چي بارک به ما په بې عزتی سره د کوره وباسي که څنګه؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالیي وویل: نه نه زویه په قســــم چي که زه د دومره زیاتو غمو ســـره ســـره هم چي ما بارک ته ورکړي وه زه د بارک ومخته ورغلي وای نو یو ځل بیا به هغه وماته په خپل زړه کي ځای راکړی وای او زما لپاره به یي هر څه پری ایښــــي وای خو زه ځکه د هغه سره مخ نسوم ځکه چي ما نه غوښتل ستاسو د مور او بارک تر منځ راسم او ستاسو د مور ژوند ور تریخ کم،

امجد وویل: خاله بیا زما پلار په تاسو پسي نه درغلی؟

عالیي وویل: (.....مور پر هغه ځای څو شیبي سره وژړل بیا زه ولاړم ځکه چي ما د بارک په سترګو کي اوښـکي نسـوای زغملای او په ســرو ســترګو کورته ولاړم زه پوهیدم چي په نن او ســبا کي به حتماً بارک په ما پســـي راځي نو ځکه مي کورنۍ ته قسم ورکی چي بارک ته به نه وایست چي زه دلته یم هغه ته به وایست چي زه د خپل خاوند سـره یم او د بارک سـره به په تونده او سـخته لهجه خبري کوی، کله چي ماښـام ســـو او د بارک د کور میلمســـتیا ختمه ســـول نو بارک د استراحت لپاره د کور پارک ته ووتی، فاطمي خپل زوی بیده کی او دا هم دباندي په بارک پسي راووتل، فاطمي ولیدل چي بـارک ډیر پـه فکرو کي غرق نـاســـــت وو نو ترڅنـګ یي کښــــینســــتل او ورته ویویل: څه خبره ده داســــي پریشــــانه معلومیږي؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک تر څو شیبو وروسته ورته وویل: هغه نن دلته راغلي وه؟

فاطمې وویل: څوک راغلي وه؟

بارک وویل: عالیه،

فاطمه ډیره حیرانه سول بیا یې وویل: ته څنګه پوه سوې چې هغه دلته راغلې وه ایا تا د هغې سره ولیدل؟

بارک د جیب څخه د عالیې دســـتمال راوکښــــی او ویویل: د هغې دستمال نن دلته ما پیدا کی،

فاطمه پوه سـول چې داسـې دسـتمال عالیې اسـتعمالوی خو بیا یې هم د بارک څخه وپوښـــتل: ته څنګه پوه ســـوې چې دا دستمال د عالیې دی؟

بارک وویل: اول دا چې داســې دســتمال عالیې اســتعمالوی او بل ددې دســـتمال د عالیې د بدن د خوشـــبو بوی ځي او زه د هغې د بدن خوشبو تر اوسه پیژندلای سم،

ســـبا چې کله بـارک خپل دفتر تـه ولاړی نو هلتـه هم ډیر پریشـانه ناسـت وو تر څه فکر وروسـته د دفتر څخه ووتی او د عالیې د کور پر طرف ور روان سو کله چې د هغو کور ته ور ورسیدی نو دروازه یې ور وټکول، تر څو شیبو وروسته دروازې ته د عالیې ورور راغلی، د دروازې د خلاصـــیدو مخکې یې د دروازې تر یو ســـورې یې دبـانـدې وکتـل چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګوري ځوک دی، کله چي وکتل نو ويليدل چي بارک دی نو ژر کورته بيرته ولاړی او عاليې ته يي په حيرانی او په کښته ږغ وويل: عاليې! عاليې بارک راغلی دی،

عاليې وويل: چيري؟

ورور يي وويل: زموږ د کور ومخته ولاړ دی،

عاليې ورته وويل: کورته يي راوله خو لکه ځنګه چي ما درته ويلې دي هم هغسي ورته ووايه!

ورور يي وويل: عاليې ته يو ځل بيا فکر وکه موقع تاته ستا د کور مخته راغلې ده،

عاليې وويل: لالا چي ځنګه ما درته ويلې دي هم هغسي وکه،

د عاليې ورور په مات زړه د دروازې وخواته ورغلی او دروازه يي بارک ته ور خلاصه کړه تر روغبړ وروسته د عاليې ورور بارک ته د دننه ورتلو بلنه ورکړه، بارک هم دننه ور سره ولاړی عاليې د دباندې ځخه د بارک او د ورور خبرو ته يي غوږ نيولی وو تر ځو شيبو چوپتيا وروسته بارک د عاليې ورور ته وويل: تاسو دا فکر مکوی چي زه دلته په غلط فکر راغلی يم،

د عاليې ورور يي خبره ونيول او ورته وبويل: څه خبره ده؟

بارک وويل: عاليه چيري ده؟

د عاليې ورور په غوسه وويل: څه يي کوې؟



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارک چي کله د عاليي د ورور تونـد مزاجي ولـيدل نو ورته ويويل: ما اول هم درته چي زه دلته په غلط فکر نه یم راغلی،

د عالیي ورور وویل: د خپل خاوند سره ده،

بارک وویل: ته درواغ وايي،

د عاليي ورور وویل: درواغ به ولي وایم زه رښـتیا وایم هغه د خپل خاوند سره ده،

بارک د جيب څخه د عالیي دسـتمال راوکښـی او ویویل: که هغه د خپل خاوند سره ده او د هغه سره خوشحاله ده نو بیا د هغي دستمال زموږ په کور کي څه کول هغه ولي زما لیدو ته راغلي وه؟

د عاليي ورور ډیر حیران سـو چي اوس څه ووایم خو بیا یي وویل: داسي دستمالان یوازي کمپنۍ د عالیي لپاره نه جوړوي بلکي دا یو عام شی دی هر څوک یي استعمالولای سي،

بارک وویل: خو هر دسـتمال د عالیي د خوشـبو ښځیر بوی نکوي،

عالیي د بارک او خپل ورور خبرو ته غوږ نیولی وو کله چي بارک د عالیي ورور ته وویل چي هر دسـتمال د عالیي د خوشـبو بوی نلري نو د عالیي تر سـترګو اوښـکي رواني سوي، د بارک او د عالیي د ورور تر منځ تر څو شیبو پوري خبري رواني وي وروسـته بارک په مات زړه د عالیي د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور څخه رخصـت واخیسـتی او ولاړی کله چي بارک د د عالیې د کور څخه ووتی نو عالیې د بام د سره څخه بارک ته وکتـل بـارک چي کلـه موټر تـه ختی نو تر سـتـرګو روانې اوښکې یي په لاس پاکي کړي او ولاړی په دي سره د عالیې غم نور هم زیات سـو او بي اختیاره یي تر خولې د غم او فریاد چغې وتلې ورور یي ترڅنګ کښینستی او ورته ویویل: هغه چي موټر ته ختی ژړل یي او ته دلته ژاړې ته ولي نه ور سـره مخ کیږي زه پوهیږم د بارک زړه ډیر نرم او سـاده دی هغه به دي حتماً وبخښي،

عالیې وویل: یا لالا که زه بیا د هغه سره مخ سوم نو د یو بل چا ژوند به خراب سي او بل زه اوس پر بارک هیڅ حق نلرم هغه د بل چا سویدی،

وختونه تیریدل عالیه به هره ورځ د بارک د لیدو لپاره د هغه کور ته ورتلل کله چي به یي هغه د لیرې ولیدی نو زړه به یي ارام سو خو کله چي به کور ته راغلل نو ډیره به نا ارامه وه او ژړل به یي هره شـپه چي به بیدیدل نو د خوب ګولی به یي خوړلې د عـالیې ژونـد ډیر تغیر وکی او وار پـه وار یي ناروغی او روحي تشـوشـات زیاتیدل چي یو ورځ یي روحي تشوشات ډیر زیات سول او د خوب ټولي ګولی یي په یو وار وخوړلې تر څو شـیبو وروسـته چي یي کورنی په خبره سـول نو ژر یي روغتون ته ورسول، کورنی یي د عالیې د صیحت په خاطر پریکړه وکړل چي عالیه باید د بارک څخه لیری



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړه ســـي كه نه نو د هغه په ليدو به تل همداســـي تر روحي او ذهني فشار لاندې وي نو ځکه يې د عاليې د خور سره چې په امريکا کې اوســـيدل خبرې وکړې هغې د عاليې د امريکا ويزه ور واخيســتل او عاليه ځو ورځې وروسـته د تل لپاره د بارک څخه ليرې امريکا ته ولاړل.) عاليه او د بارک کورنۍ راورسـيدل عاليه چې کله د طيارې څخه راکښـته سـول نو د خپل هيواد په ليدو يې ډير د ارامۍ احســــاس وکی او په فکر کې يې د مکتب د وخت د بارک ږغونه راتلل چې ددې ســره به يې خبرې کولې او دې ته به يې نارې ور وهلې، کله چې د بـارک کورنۍ او عـاليـه پـه موټر کې د کور پر خوا روان سول په لاره کې عادل عاليې ته وويل: خاله تاسو دا کاروبار څنګه شروع کی او ستا خور او اخښې اوس چيرې دي؟

عـاليې وويـل: کلـه چې زه امريکـا تـه ولاړم تر څو کلونو وروســـته زما د خور خاوند د موټر ټکر وکی او په هغه ټکر کې زما خور د هغې خاوند او زوی مړه ســـول زما د خور خاوند همدا ستور دوکان درلودی چې د هغه تر مرګ وروسته ماته راپاته ســـو او ما ادامه ورکړه، په لاره کې تر څه خبرو وروسـته کور را ورسـيدی ټول د موټرانو راکښـته سـول او کور ته دننه سول تر ځو ورځو استراحت وروسته ټولو نيت وکی چې د بارک قبر ته ولاړ ســـي نو ټول اماده ســـول او د بارک د قبر پر خوا روان سول تر ځو شيبو وروسته د بارک قبر ته ور ورســـيدل د بارک د قبر په ليدو د عاليې بدن په ريږديدو او رپيدو سو او تر سترګو يې اوښـکې رواني سوې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د بارک د قبر تر څنګ کښېنستل، د فاطمې تر سترګو هم اوښکې بهېدلې کله چې ټولو دعا وکړل نو فاطمې خپلو زامنو ته وویل: خاله مو د څو شیبو لپاره یوازې پرېږدئ،

په دې ســره فاطمه او زامن یې ټول د هدیرو څخه ووتل او د هدیرې ومخته عالیې ته انتظار سول، عالیه د بارک تر څنګ ناسته وه او لاسونه یې د بارک پر قبر ایښې وه بیا یې وویل: ماته دې ســزا رانه کړه او ولاړې تا باید ما ته ســزا راکړې وای بارکه! ما ستا زړه ډېر در ازار کړی وو ډېر غمونه مې در کړې وه خو د دومره زیاتو غمو او تکلیفو باوجود هم تا زه غوښــتلم بارکه؟ ولې ولې دې دومره مینه زما ســره کول؟ پوهېږې چې تر ټولو زیات مې څه زوروې بارکه؟ ســتا رښتینولي او بې حده زیاته مینه، ستا سره د بې وفایی راهیسې ما هیڅکله په هنداره کې ځانته نه دې کتلې او ځانته ډېر بد و رد وایم، بارک! تا ماته ډېر څه راکړیدي خو نن یو اخیرې غوښــتنه در څخه کوم او یو څه در څخه غواړم هیله کوم اخیرې غوښــتنه مې ومنه بارکه..... د عالیې خبرې بارک ته جریان درلودی او د هدیرې دباندې فاطمه او د هغې زامن عالیې ته انتظار وه څو ساعتونه تیر سوه او ډېر ناوخته سو، فاطمه ډېره ستړې سوه یو دیوال ته کښېنستل او عادل ته یې وویل: زویه ته ورســـه عالیې خاله ته ووایه چې ډېر ناوخته سو اوس راځه سبا ته به بیا راسو !

عادل وویل: سمده مور،



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې عادل هديرې ته ننوتی نو څو شيبې وروسته يې لويه او حيرانه ناره وکړه، فاطمه او هغه نور زامن يې ژر هديرې ته ننوتل کله چې د بارک د قبر خواته ورغلل نو ويليدل چې عاليې د بارک د قبر تر څنګ خپل روح حق ته سپارلې وه او وفات سوې وه، د فاطمې بدن په ريږديدو سو تر سترګو يې اوښکې رواني سوې او د عاليې تر څنګ کښېنستل د هغې سر يې خپل په غيږ کې کښېښوی او ويويل: عاليې ته ډيره بې وفا يې وګوره اول هم بارک ستا وو او په اخيره کې هم ستا سو زما سره دې چم وکی،

وروسته يې د عاليې قبر د بارک د قبر تر څنګ جوړ کی او بغلته يې ور سره ښخه کړل.

**پای**



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال په اړه

لیکوال صـاحب نیک محمد بارک د محمد عیسٰـی زوی او د موسٰـــــی جان لمســــۍ دی چي د نن څخه ۲۲ کاله مخکې یي د کندهار په ولایت کي دي دنیا ته ســـترګي روني کړي، بارک صـــــاحب دیني زده کړي د ۵ کلنۍ څخه د خپل کلي په یو دیني مدرسه کي راپیل کړي چي د قرانکریم په قاریتوب کي یي په لنډ وخت کي لنګوټه وتړل او تر څنګ یي په علم حدیث او علم فقه کي څه ناڅه زده کړي وکړي او عصري لومړنۍ زده کړي یي په ملالۍ عالي لیســـه کي شـــروع او په میرویس نیکه عالي لیســـه کي یي پای ته ورســـولي او د کانکور په امتحان کي د کندهار عمومي دولتي پوهنتون د انجینرۍ پوهنځۍ ته کامیاب سو چي تر څه وخت وروسته یي د یو لړ مشـکلاتو په سـبب نوموړې پوهنځۍ پریښـول او په یو شـخصـي انسـتیتوت کي یي د نرسـینګ په څانګه کي زده کړی راپیل کړي چي د نوموړي رشـــتي څخه په ۲۰۲۱ کال د ســیپتمبر په میاشــت کي فارغه ســو، بـارک صــــــاحب اوس مهـال ۲۲ کلن او مجرد دی د خوښـي وړ میوه یي کیله د خوښـي خواړه یي وریجي د خوښــــي وړ لوبه یي خپله وظیفه او کار ترڅنګ یي د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر او موټرســـيکل مســـابقه، مينه يي د خپلي مور او وطن سره عادتونه يي ژر غوسه کيدونکی او بيرته ژر پخلا کيدونکی دی د بارک صاحب د لا برياوو په هيله.

په درنښت

عبدالله احمدزی/کابل



Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**